# د کلیسا ماموریت

GLOBAL UNIVERSITY

# د کلیسا ماموریت


لیکونکی

رابرت و اولین بوتون



*Global University*

**P.O.Box 5749**

Nicosia, Cyprus

# د کلیسا ماموریت

لومړی چاپ ۲۰۰۸

© 2008 All Rights Reserved

***Pashto "What Churches Do" 2007***

***Global University***
**P.O. Box 5749**
**Nicosia, Cyprus**

## د مطالبو فهرست


لومړی لوست: کلیسا ځانې د خدای عبادت کوي .................... 1

دوهم لوست: کلیسا ځانې روح القدس ته تسلیمې دي ............17

دریم لوست: کلیسا ځانې د خدای کلام موعظه کوي..............31

څلورم لوست: کلیسا ځانې د حقیقت تعلیم ورکوي ................43

پنځم لوست: کلیسا ایماندارانو ته د تعمید غسل ورکوي........57

شپږم لوست: کلیسا ځانې د څښتن مړینه مونږ ته را په یادوي...73

اووم لوست: کلیسا ځانې د مشارکت ځایونه دي......................87

اتم لوست: کلیسا ځانې جشنونه نیسي .................................99

نهم لوست: کلیسا ځانې وده کوي .....................................115

لسم لوست: کلیسا د خلکو خدمت کوي..............................129

## لومړی لوست

# کلیسا ګانې د خدای عبادت کوي

د کلیسا ټول فعالیتونه کولای شو چې په دریو ډولونو کې خلاصه کړو: د خدای عبادت، د کلیسا وده او نړۍ ته د خلاصون د زېري رسول. کلیسا د " د عبادت د کور" په نامه یاد پږي، ځکه چې دا هغه ځای دی چې خلک د خدای د عبادت په مقصد هلته سره راټولېږي او دا د کلیسا یو مهم مقصد دی.

انسان د عبادت دپاره پیدا شوی دی. که چېرې هغه د خدای عبادت ونکړي نو د هغه په ځای به نور شیانو ته لکه پیسو، شهرت، خوند، طبیعت، بتانو او یا خپل ځان ته سجده کېږدي. مګر تر هغې پورې چې دا زده نکړي چې څرنګه د خدای عبادت وکړي، قانع به نشي. عیسی مونږ ته رازده کړل چې د خپل آسماني پلار عبادت وکړو. که څه هم ټول آسماني مخلوقات همیشه د هغه عبادت کوي، مګر هغه د دې غوښتونکی دی چې مونږ د هغه عبادت وکړو، ځکه چې د هغه نتیجه د خدای سره مشارکت دی.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- په ګډه سره عبادت کول
- په موسیقۍ سره عبادت کول

- په دعا سره عبادت کول
- د ډالۍ د ورکولو له لارې عبادت کول
- د روح القدس له لارې عبادت کول

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- حقيقي عبادت وپېژنئ
- د عبادت کولو بيلابيل ډولونه تشخيص او هغه ترسره کړئ
- د عبادت په موقعه د روح القدس کړه وړه درک کړئ

## په ګډه سره عبادت کول

د يکشنبې په ورځ سهار وختي، مري چې په دې وروستيو وختونو کې يې په مسيح باندې ايمان راوړی دی د خپلې کوژدن شوې انجلۍ يعنې تيموتي سره يوځای د لومړي ځل دپاره د خدای د عبادت په خاطر کليسا ته راغلې ده. تيموتي هم لکه د مري په شان نوی ايمان راوړی دی، مګر هغه يو امتياز لري او هغه دا چې هغه په يوې داسې کورنۍ پورې اړه لري چې مسيحي سابقه لري. د مري پوښتنه د هغه پام هغې ته رااړوي.

مري خپل شاوخوا ګوري او وايي چې: ”خدای چېرې دی؟ که چېرې زما په مخکې کوم تصوير موجود نه وي نو څرنګه کولای شم چې عبادت وکړم؟“ تيموتي وايي چې د تصوير او شکل کتلو ته اړتيا نشته. پخوا تا د هغوی عبادت کاوه خو په هغو کې واقعي مينه موجوده نه وه. مګر خدای روح دی او مونږ

په خپلو سترګو د هغه د لیدلو قدرت نه لرو. خو کله چې مونږ له سره زېږول کېږو د هغه روح په مونږ کې استوګن کېږي او مونږ د هغه عبادت په روح او راستۍ سره کوو (یوحنا ٤: ٢٤). هغه زمونږ څخه غواړي چې کله د هغه عبادت کوو او یا کوم بل کار کوو، د هغه سره مینه ولرو. اوس خلک په خوشالۍ سره د خدای د عظمت او محبت په خاطر هغه ته سندرې وایي او د لاسونو په پړکولو (چکچکو) سره د هغه ستاینه کوي او عبادت یې کوي. مرې په پیل کې دغه کار نه کاوه مګر وروسته ورو ورو هغې هم په خوشالۍ سره خپل لاسونه وپړکول او د خدای په عبادت یې پیل وکړ. وروسته بیا د غونډې مشر برخه وال وهڅول چې د یو بل سره مشارکت وکړي.

ډېرو خلکو مرې ته ښه راغلاست وویل. هغې نور خپل ځان پردۍ نه احساسوله، هغې داسې فکر کاوه چې خدای او ایماندارانو ته نږدې شوې ده. هغې تیموتي ته وویل چې هغه دومره خوشاله ده چې فکر کوي په یوې لویې او خوشحاله کورنۍ پورې اړه لري. دا صحیح ده چې ایمانداران هر وخت او په هرځای کې چې وي کولای شي د خدای عبادت وکړي، خو لاژمه ده چې هغوی دا کار د نورو ایماندارانو سره په شریکه وکړي. مونږ یو بل ته اړتیا لرو او نشو کولای چې په جلا توګه ژوند وکړو. دا لکه د اور د هغو سکروټو په شان ده چې کله د یو بل څخه لېرې شي نو ډېر ژر به مړه شي. ایمانداران د یو بل په وده کې سره مرسته کوي او د خپلو تجربو په شریکولو سره لکه د اور د سکروټو په شان، یو بل په خدای کې ژوندي ساتي.

" او د يو بل سره د عبادت له پاره جمع کېدو نه منع نشو لکه څنګه چې د ځنو خلکو دستور دی، بلکه يو بل له زيات تشويق کړو، او مخصوصا په دې وخت کښې چې د خدای ورځ رانژدې کيږي، هغه هومره يې زيات کوئ" (عبرانيان ۱۰: ۲۵). خدای پاک په مونږ حکم کوي چې د يو بل سره مشارکت ولرو او همدارنګه هغه وعده کړې چې هغه به هغو خلکو ته برکت ورکوي چې د هغه اطاعت کوي. "ځکه چې دوه يا درې تنه چې چېرته هم زما په نوم سره يوځای شي، نو زه به هم د دوی په منځ کې يم" (متي ۱۸: ۲۰).

ايمانداران د مسيح "بدن" او مسيح د دې بدن سر دی. خدای غواړي چې د دې بدن ټول غړي يو د بل سره په يووالي او هم غږۍ کې ژوند وکړي. د دې مقصد د عملي کېدو دپاره بايد په يو مشخص وخت او ځای کې سره راټول شي، ترڅو د روح القدس په مرسته متحد او يو موټي شي.

## هغه څه چې بايد تاسو يې ترسره کړئ

1. د لاندنيو عبارتونو څخه کوم يو کولای شي چې دا جمله بشپړه کړي؟ ايمانداران د خدای د عبادت په خاطر سره راټولېږي، ځکه:

الف: مونږ په يواځې ځان د دې قدرت نه لرو چې د خدای عبادت وکړو.

ب:	دا کار زمونږ سره مرسته کوي چې د روحانیت له لحاظه وده وکړو.

ج:	مونږ غواړو چې د خدای له فرمان څخه اطاعت وکړو.

د:	عیسی زمونږ سره وعده کړې ده چې هغه به هم زمونږ په منځ کې وي.

## په موسیقۍ سره عبادت کول

په جماعت کې د روحاني سرودونو ویل د ایمان د قوي کیدلو، هوسایۍ او همدا شان د شفا سبب ګرځي. خو د هغه تر ټولو مهم اثر د یووالي او اتحاد راوستل دي چې د مسیح په بدن کې د حقیقي عبادت دپاره یو لازمي او ضروري اصل دی. هغه ځانګړي سرودونه چې د یو او یا څو نفرو له خوا ویل کیږي، د خدای د عبادت دپاره یوه بله طریقه ده. اوریدونکي باید په یاد ولري چې د سندرو ویونکو په ځای خدای ته جلال ورکړي. خدای نه یواځې زمونږ سره مرسته کوي چې سندره ووایو بلکه مونږ ته سرود هم راکوي. د زړې لوظنامې په دوران کې د اسرائیلو قوم د خدای دپاره زبورونه لوستل. د مزامیرو یا زبورونو کتاب په حقیقت کې د هغوی د سرودونو کتاب ؤ. هغوی سرود ویلو ته د خپل عبادت د یوې مهمې برخې په سترګه کتل. مسیحیانو به په پیل کې د مقدس کتاب څخه په استفادې سره د خدای دپاره سرودونه ویل او کرار کرار نور سرودونه هم ورزیات شول. پولوس رسول د کلیسا دپاره تعلیم ورکوي چې:

"او په خپلو کې زبور، سندرې او روحاني غزلې ووایئ او په خپلو زړونو کې د څښتن سندرې او حمدونه وایئ" (افسیان ۵: ۱۹).

زمونږ سرودونه او روحاني سندرې زمونږ د شکر ګذارۍ بیانوونکي دي. هغه څه چې خدای ته ویل غواړو هغه د سندرې له لارې ورته بیانوو. زمونږ الفاظ او کلمات باید خدای ته جلال ورکړي او همدا شان مونږ باید فقط د خدای عبادت وکړو. د خدای کلام فرمایي: "زما دپاره مناسبه قرباني هغه ده چې زما عبادت وکړئ" (زبور ۵۰: ۲۳).

د عیسی د راتلو څخه مخکې به خلکو د خدای دپاره څاروي قرباني کول، مګر د مسیح د مرګ څخه پس نور دې کار ته حاجت نشته. د هغې په ځای، "مونږ د خدای په ثنا ویلو سره د شکرګزارۍ قرباني وړاندې کوو" (عبرانیان ۱۳: ۱۵ وګورئ).

کله چې مري او تیموتي سندرې ویلې د موسیقۍ آلات هم غږېدل. سندر غاړو به د مختلفو سازونو څخه استفاده کوله. د موسیقۍ غږ مري په شوق راوست او ویې ویل: "ما هیڅکله دا ګومان نه کاوه چې په کلیسا کې به ساز او سرود وغږول شي." تیموتي ځواب ورکړ چې د زړې لوظنامې په دوران کې به خلکو د خدای د عبادت دپاره د موسیقۍ له ټولو آلاتو څخه استفاده کوله. د مقدس کتاب څخه لاندنیو آیاتونو ته یوه کتنه وکړئ.

”هغه د سرني، هارپ او بربط د نغمو په غږولو سره وستايئ.
هغه د دايرې په وهلو او په نڅا سره وستايئ
هغه د شپېلۍ او د نبورې په سازونو سره وستايئ
هغه د تال په وهلو سره وستايئ“ (زبورونه ۱۵۰: ۳- ۶)

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

2. د لاندنيو عبارتونو څخه کوم يو دغه جمله تکميلولای شي؟

زمونږ روحاني سرودونه او سندرې به هغه وخت عبادتي بڼه ولري چې مونږ ...

الف: هغه له ياده زده کړو

ب: هغه د زړه له کومې ولولو

ج: هغه د نورو سره يوځای او په هم غږۍ سره ووايو

3. عبادتي سرودونه هغه سندرې دي چې ............

الف: د هغه څه په هکله چې غواړو د خدای دپاره يې سر ته ورسوو، تړاو لري.

ب: زمونږ د طبيعت او چار چاپيره نړۍ په هکله دي.

ج: د خدای د لويۍ او ښېګڼې په هکله دي.

4. د صحیح ځوابونو تر څنګ د ✓ علامه ولیکئ

الف: د موسیقۍ د آلاتو څخه پرته په کلیسا کې عبادت امکان نه لري.

ب: خدای یوائې د آرامې موسیقۍ له لارې ستایل کېدای شي.

ج: سندر غاړي باید دې ته کلکه پاملرنه وکړي چې د خدای په ځای خپل ځان ته د موسیقۍ له لارې جلال ورنکړي.

خپل ځوابونه د لوست دآخرنۍ برخې سره مقایسه کړئ

## په دعا سره عبادت کول

کله چې خلکو سره یوځای دعا کوله مري پوښتنه وکړه چې هغوی ولې خپلې سترګې پټوي؟ تیموتي وویل: "په دې خاطر چې خپل چاپېریال هېر کړي. هغوی د دعا په حالت کې خپل ټول پام د خدای لورې ته اړوي او د هغه عبادت کوي."

مري به د خلکو آوازونه اورېدل چې ویل یې: "خدایه ستا شکر کوو" او "څښتنه، مسیح په تا دې شکر وي". ځیني خلکو خپل لاسونه پورته کړي ؤو او په لوړ آواز سره به یې د خدای شکر پرځای کاوه. د مري دپاره دغه کارونه یو څه عجیبه ښکارېدل. تیموتي هغې ته ډاډ ورکړ چې ته به هم له هغوی سره عادت وکړې. کله کله به په کلیسا کې خلکو د یو بل دپاره دعا کوله. او کله به هر چا په یوائې ځان د خدای عبادت کاوه. د دعا په ترڅ

کې مونږ خدای په شکرګزارۍ او ثنا ویلو سره ستایو. په دې وخت کې د کلیسا مشر (کشیش) له یو چا څخه وغوښتل چې په دعا کې د خلکو لارښوونه وکړي. کله چې مري ولیدل چې هغه د کومې لیکنې او یادداشت پرته په ډېره ښه توګه دعا کوي، حیرانه پاتې شوه. د دعا په پای کې ټولو آمین وویل. مري پوښتنه وکړه چې د دې معنی څه ده؟ تیموتي ځواب ورکړ چې دا یوه عبراني کلمه ده او معنی یې ده ”همداسې دې وي“ او کله چې مونږ د یو چا د دعا سره موافق اوسو دا کلمه استعمالوو.

په لومړنۍ کلیسا کې د دعا له لارې د خدای عبادت کول په ډېره ښه توګه ترسره کېده. د خدای په کلام کې لولو: ”هغوی به هره ورځ په یو زړه د خدای په کور کې سره راټولېدل ... هغوی به د خدای ثنا ویله“ (اعمال ۲: ۴۶- ۴۷). او همدا شان: ”... هغوی په ګډه سره د خدای دپاره دعا وکړه...“ (اعمال ۴: ۲۴). د خدای سره زمونږ مینه په عبادت او هغه سره په مشارکت کې کامل کېږي. مونږ باید کټ مټ د لومړنۍ کلیسا په څېر یوه ژوندۍ، معنی لرونکې او د عبادت سره مل دعا ولرو او که نه نو زمونږ دعا به بې روحه او بې محتوی وي. کلیسا باید د ”دعا کولو کور وي“ (مرقس ۱۱: ۱۷).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

5. د صحیح ځوابونو ترڅنګ د ✓ علامه ورکړئ

الف: دا چې مونږ له خدای سره مینه لرو، په دعا کې د هغه سره مشارکت یوه خوشالوونکې تجربه ده.

ب: د دعا څخه پس مونږ آمین وایو او د هغې معنی دا ده چې مونږ ټول د خبرو کولو په حالت کې یو.

ج: معمولاً په دعا کې مونږ خپلې سترګې پټوو ترڅو خپل چاپیریال له یاده وباسو.

د: عیسی هغه ځای چې ایمانداران په کې راټولېدل د ''دعا د کور'' په نوم یاد کړ.

## د ډالۍ ورکولو له لارې عبادت کول

کله چې د کلیسا کشیش اعلان وکړ چې مونږ د خپلو ندرانو (لسمه برخه) او نورو ډالیو په وړاندې کولو سره د خدای عبادت کوو، دا د مري د حیرانتیا سبب شوه. هغې پوښتنه وکړه چې څرنګه کېدای شي چې د خدای عبادت په پیسو وکړو؟ تیموتي ځواب ورکړ: ''که چېرې مونږ هغه څه چې ډالۍ کوو، زمونږ د محبت او شکرګزارۍ په نتیجه کې وي نو په حقیقت کې مونږ د خپلو ډالیو په وسیله د خدای عبادت کوو'' او زیاته یې کړه چې زه به په دې هکله نورې خبرې هم درسره وکړم. کله چې د ډالیو صندوق لاس په لاس ګرځېده او سندر غاړو یو عبادتي سندره ویله، خلکو به په آرامۍ سره د خدای عبادت کاوه. مري ولیدل چې خدای ته ډالۍ ورکول هم یوه ډېره خوږه تجربه ده. وروسته هغه پوه شوه چې په ځینو کلیساګانو کې خلك وړاندې ځي او هلته خپلې ډالۍ اچوي، خو دا یوازې بېلابېلې طریقې دي او مهمه نه ده. زمونږ د ټولې شتمنۍ یو په لسمه برخه د خدای ده (لاویان ۲۷: ۳۰ او ۳۲) او

که چېرې د هغې څخه زيات ورکړو هغه زمونږ په ډالۍ کې شمېرل کېږي او دا دواړه زمونږ د عبادت څرګندوی دي. امثال ۳: ۹- ۱۰ او اول کورنتيان ۱۶: ۲ ولولئ.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

6. تشريح کړئ چې نذرانې او ډالۍ ورکول څرنګه کېدای شي چې د خدای د عبادت يوه برخه وي؟
7. د خدای د عبادت د بېلابېلو طريقو نومونه واخلئ

## د روح القدس له لارې عبادت کول

خلکو په آرامۍ سره سرودونه ويل او د خدای عبادت يې کاوه. ځينو خپل لاسونه پورته کړي ؤو. د مري پام شو چې د ځينو خلکو له سترګو اوښکې بهېږي. تيموتي هغې ته وويل چې هغوی غمجن نه دي دا د هغوی هغه مينه ښکاره کوي چې د خدای سره يې لري. ورسته بيا مري داسې الفاظ واورېدل چې د هغې دپاره روښانه نه ؤو. دا آوازونه په ښکلي او موزون صورت له يو بل سره ترکيب شوي ؤو. تيموتي وويل چې دا هماغه مطلب دی چې پولوس رسول په اول کورنتيان ۱۴: ۱۵ کې ويلی دی: "زه په خپل روح کې دعا کوم". د مري په زړه کې يوه خاصه آرامتيا او ژور احساس منځ ته راغی. هغې داسې احساس کړه چې ګنې خدای هلته حضور لري. کله چې آوازونه بند شول، کشيش (د کليسا لارښود) په خبرو پيل وکړ. د خدای ستاينه او ډله ايزه عبادت هغوی د خدای د کلام

اوربدو ته تیار کړل. د کلیسا یو مشر چې اګوستین نومیده او په پنځمې پېړۍ کې ژوند کاوه، وایي: ''ای پاکه ربه! تا مونږ د خپل ځان دپاره پیدا کړو او زمونږ زړونه به ستا څخه بغیر هېڅ کله آرامي و نه مومي.'' په روح القدس کې د عبادت کولو یوه آغېزه آرامتیا، روحاني خوشالي او د خدای د حضور احساسول دي. دا هغه خوشالي او آرامي ده چې په دې نړۍ کې د غم او خوشالۍ، کار او تفریح سره سره چې زمونږ په ژوند کې موجود ده، په سترګو کېږي. په روح کې د عبادت کولو بله آغېزه واقعي آزادي او خلاصون دی. کله چې مونږ خپل ځان روح القدس ته سپارو،نو هغه مونږ له ډار، خفګان، اندیښنې، خود خواهۍ، کرکې او د ټولو ارواحي او رواني ستونزو او نقصانونو څخه خلاصوي. عیسی د هغو خلکو دپاره چې د روح په وسیله د هغه عبادت کوي، واقعي او با ارزښته ګرځي. همدا شان د خدای روح د یووالي حس په مونږ کې قوي کوي. ''هر چېرې چې د خدای روح وي هلته آزادي وي.''

په روح کې د عبادت کولو دریمه عجیبه آغېزه جسماني شفا ده چې په هماغه موقعه او یا د وخت په تېرېدو سره راپیدا کیږي. یو زړې ورکوونکی چې هاتي هاموند نومیده د یوې عجیبې پېښې قصه کوي. هغه یوه میرمن چې په خوا کښې یې کمیاوي مواد چاودېدلي ؤو او په سختۍ سره یې نفس ایسته، په کټ کې کلیسا ته راوستله تر څو د هغې دپاره دعا وکړي. هاموند د نومورې ښځې دپاره دعا کول پیل کړل، لیکن ناڅاپه

يې خپله دعا بس کړه. په داسې حال کې چې هغه خپل مخ د جماعت لور ته واړاوه، ويې ويل: ”ما غوښتل چې دعا وکړم خو خدای زما څخه غوښتنه وکړه چې مونږ هر يو په جلا جلا توګه د هغه عبادت وکړو. راځئ چې د هغه عبادت وکړو، راځئ چې د عيسی عبادت وکړو.“

څه يو عجيبه کار ؤ. د دې په ځای چې مونږ هغې ښځې ته چې د مرګ په حالت کې وه دعا وکړو، مونږ د خدای عبادت کاوه. کله چې خلکو د خدای په عبادت کولو پيل وکړ، روح القدس په مونږ ټولو باندې نازل شو. يو ناڅاپه په روح کې د عبادت يوې سندرې ټول آوازونه د خپلې آغېزې لاندې راوستل. هاموند په ډېره حيرانتيا سره پام شو چې هغه ناروغه ښځه هم د سندرې د ويلو په حالت کې ده. خدای د عبادت په وخت هغې ته کامله شفا ورکړه.

ښايي تاسو هېڅکله داسې يوه عجيبه پېښه نه وي ليدلې. مګر په حقيقي عبادت کې شفا موجوده وي. پولوس په روح کې عبادت داسې خلاصه کوي: ”مونږ د خدای د روح په لارښوونه عبادت کوو او په عيسی مسيح فخر کوو“ (فليپيان ۳: ۳). د دې کتاب په لوستنې سره به تاسو په دې پوه شئ چې کليساګانې د خدای د عبادت ځايونه دي. د کليسا ظاهري بڼه چندان اهميت نه لري. که ستاسو کليسا ډېره ښکلې وي او يا هم ډېره ساده وي، مګر په دې پوه شئ چې مقصد د پلار، زوی او روح القدس عبادت دی.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

8. لاندي کوم عبارتونه کولای شي دغه جمله بشپړه کړي.
هغه ځای چې مسیحیان په کې د عبادت دپاره راټولېږي، باید ..................................

الف: ښکلی او مجلل وي

ب: ساده وي

ج: د ښار په ښه ځای کې موقعیت ولري.

د: داسې یو ځای وي چې خلک په آزادانه توګه وکولی شي د خدای عبادت وکړي.

9. په عبادت کې د روح القدس د دریو عملکردونو نوم واخلئ

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱) ب،ج،د

۶) د ډالۍ په ورکولو سره خپله مینه خدای او خلکو ته ښکاره کوي.

۲) ب

۷) ډالۍ ورکول، موسیقي او شکر ایستل

۳) ج

۸) د

۴) الف) غلط

ب) غلط

ج) درست

۹) آرامتیا او روحاني خوشالي، آزادي، شفا، یووالی او د خدای د حضور احساس

۵) الف) درست

ب) غلط

ج) درست

د) درست

## ستاسو یادداشت

## دوهم لوست

# کلیسا ځانې روح القدس ته تسلیمې دي

دغه درس زه د پسرلي په موسم کې لیکم. د ونې څانګې تازه او راژوندۍ شوې دي او د هغو ژوند او تازه والی په بشپړه توګه څرګند دی. د ونو غوټۍ غوړېدلي او سپین، زېړ او سره ګلان یې نیولي دي. ښکلیو ګلانو په بیلابیلو رنګونو سره باغ ته ښکلا وربخښلې ده. سلیمان پادشاه د پسرلي د ښکلا په باره کښې لیکي: ”ژمی تېر شوی دی. د اورښتونو فصل نور خلاص شوی او تللی دی. په کلیو او باندو کښې ګلان غوړېدلي دي او د نغمو د غږولو وخت رسېدلی دی. په صحرا او پټیو کې د کوترو آوازونه اورېدل کېږي. انځران په پخیدلو دي د ونو پاڼې شنې شوې دي او تاکونو په نویو ګلونو سره ټوله هوا د عطرو په شان خوشبویه کړې ده“ (د سلیمان د غزلونو غزل ۲: ۱۱- ۱۳).

په کلیسا کې د روح القدس کار لکه د پسرلي د ښکلا په شان دی. کله چې ایمانداران ځانونه روح ته تسلیموي، روح هغوی ته نوی ژوندون وربخښي. بې ایمانه خلک ”له روح څخه پیدا کېږي“ (یوحنا ۳: ٦).

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- روح القدس او ایمانداران
- د روح القدس مسح
- د کلیسا د جوړولو دپاره روحاني نعمتونه

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- د ''روح القدس په ایماندارانو کې'' او ''روح القدس په ایماندارانو باندې'' د معناګانو ترمنځ فرق تشخیص کړئ.

- د روح القدس د مسحې په اړه توضیحات ورکړئ.

- په دې پوه شئ چې د روح القدس نعمتونه (ډالۍ) څرنګه د کلیسا د جوړښت سبب ګرځي.

## روح القدس او ایمانداران

فردریك بورك چې په جنوبي افریقا کې خدمت کوي، په روح القدس کې خپل د تعمید د غسل شهادت داسې توضیح کوي. کله چې زه ځوان وم، د مقدس کتاب په ښوونځي کې مې زده کړه کوله. خدای خپل روح په زده کوونکو باندې نازلاوه. زه هم د هغه په لټه کې وم. غوښتل مې چې د روح القدس څخه ډك شم. یوه شپه کله چې ما په آرامۍ سره دعا کوله، روح القدس زه هغه باغ ته بوتلم چېرې چې مسیح دعا کوله. وروسته یې بیا زه یې تالار ته بوتلم چې هلته د مسیح محاکمه شوې وه او د هغې نه پس یې جلجتا (ګلګتا) ته بوتلم. ما د خدای په حضور

کې ژړل، ځکه چې زه يې د ښبنتن په دردونو او کړاوونو کې شريك کړی وم. وروسته بیا روح القدس په ما باندې نازل شو او په ژوره توګه په ما کې وچليده او زه د هغه له قوت څخه ډك شوم. لومړی مې ژبه بنده بنده کيدله مګر وروسته په صفا ژبې سره په خبرو پيل وکړ. بدن مې د خدای د جلال څخه ډك شو. عيسی مسيح، دغه ستر تعميد ورکوونکي په خپل روح سره ما ته د تعميد غسل راکړ او زما بدن يې د خپلېو نيکيو څخه ډک کړ. که چېرې زما څخه وپوښتئ چې دغه تعميد ستا په ژوند باندې څه تاثير وکړ، بايد ووايم چې زه پخوا يو شرمندوکی انسان وم او په يوې ډلې کې مې د خبرو کولو جرئت نه درلود. اوس يو ناڅاپه زړور شوم. کله چې د خلکو د يوې لويې ډلې په مخکې ودرېږم، نو الفاظ او کلمات په خپل سر زما په ژبه جاري شي. د خدای کلام په ډېر قوت سره ما ته راکول کېږي، چې دا په ما کې د روح القدس د تکلم نتيجه ده. هغه وخت چې زه د مقدس کتاب د ښوونې په ښوونځي کې وم، خدای ما ته په افريقا کې د خدمت کولو دپاره بلنه راکړه او يوه لاره يې راته پرانيستله. زما د ۶۰ کالو د خدمت په موده کې د روح القدس مسح تل زما سره وه.

د فردريك بورك شهادت مري د روح القدس په باره کښې په ژور فکر کې واچوله. يوه ورځ مازيګر کله چې هغه د عبادت دپاره د کليسا په لور روانه وه، د تيموتي څخه يې پوښتنه وکړه: ”سره د دې چې ما نوی ژوندون حاصل کړ، آيا روح القدس په ما کې نشته؟“

تیموتي ځواب ورکړ، ''هو، روح القدس ته د مسیح خوا ته هدایت کړې او اوس په تا کې اوسیږي.'' مري وویل چې: ''که چېرې ایمانداران روح القدس لري نو بیا ولې هغوی غواړي چې هغه ترلاسه کړي؟''

تیموتي وویل: ''فکر کوم چې آلن کولای شي دغه موضوع په ښه توګه توضیح کړي.'' آلن د هغې ټولو پوښتنو ته غوږ نیسي او وروسته بیا وایي: ''مري، د یو ایماندار په توګه همدا اوس روح القدس په تا کې اوسیږي. په غلاطیان ۴: ۶ کې لولو چې خدای د دې خبرې د روښانه کولو دپاره چې تاسو د هغه بچیان یاست، د خپل زوی روح زمونږ د زړونو دپاره راستولی دی. او په اول کورنتیان ۳: ۱۶ کې وایي: ''... د خدای روح په تاسو کې اوسي.''

آلن زیاتوي: ''کله چې اورې چې ایمانداران د روح القدس تږي دي، په حقیقت کې هغوی غواړي چې په روح القدس کې تعمید واخلي. د توبې په دوران کې روح القدس زمونږ په زړونو کې ځای نیسي، مګر د روح د تعمید په دوران کې هغه په مونږ باندې رانازلیږي او مونږ ډکوي. د خدای د روح نازلیدل په مونږ باندې همداسې وي. راځئ چې د مقدس کتاب څو آیاتونو ته یوه کتنه وکړو. ''په آخرو ورځو کې به داسې کیږي چې زه به خپل روح په هر یو کس نازلوم...'' (اعمال ۲: ۱۷).

پطروس توضیح ورکوي چې د روح القدس نازلیدل د یوئیل نبي د نبوت نتیجه ده چې د هغه د کتاب په ۲: ۲۸ کې راغلې ده او ادامه ورکوي: ''دغه عیسی چې مونږ پرې خبرې کوو، هغه

خدای بیا را ژوندی کړی دی او مونږ ټول د دې خبرې شاهدان یو. او بیا چې هغه د خدای ښي لاس ته وخېژولی شو، هغه د پلار نه د وعدې په مطابق روح القدس حاصل کړو او په مونږ یې نازل کړو اوس چې تاسو یې وینئ او اورئ" (اعمال ۲: ۳۲- ۳۳).

نن ورځ هم ایمانداران لکه د لومړنۍ کلیسا د ایماندارانو په شان د روح القدس د نزول څخه برخمن دي. عیسی مسیح مخکې له دې چې آسمان ته پورته شي، وویل: "... زه تاسو ته د خپل پلار کړی لوظ در استوم" (لوقا ۲۴: ۴۹). مري پوښتنه کوي، کله چې یو کس دغه د روح القدس ډالۍ ترلاسه کوي، نو څه پېښېږي؟ آلن وایي چې یوه عجیبه پېښه رامنځته کیږي. کله چې ته په کامله توګه خدای ته تسلیم شوې، روح القدس درباندې نازلیږي او ته به په هغو ژبو خبرې کول پیل کړې چې هېڅکله دې نه دي زده کړي. روح القدس ستا د غږ له لارې خدای ته جلال ورکوي. د پنطیکاست په ورځ ۱۲۰ تنه ایمانداران له روح څخه ډک شول او د روح القدس په قوت سره یې په نورو ژبو غږېدل پیل کړل. هغه بېلابېلې ژبې چې د خدای روح د هغې سرچینه وه او ټولو ایماندارانو د خدای ثنا ویله. (اعمال ۱: ۱۵ او ۲: ۵- ۱۲).

د دې خبرو په اورېدو سره مري وویل: "څرنګه کولای شم چې د روح څخه ډکه شم؟ زه هم غواړم چې دغه الهي ډالۍ ترلاسه کړم." آلن په خندا شو او ویې ویل: "دا ستا خپله تجربه ده. خپل زړه د هغه په لور خلاص کړه او د هغه عبادت وکړه. مسیح ته ځان وسپاره او دغه ډالۍ ترلاسه کړه. هغه به تا د خپل

روح څخه ډکه کړي. نن سبا په ملیونونو خلک د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خدای له روح څخه ډکیږي او ټول ایمانداران کولای شي چې له دې نعمت څخه ګټه واخلي.“

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. د روح القدس تعمید د ایماندارانو په ژوندانه کې څه اثر لرلی شي؟
2. د صحیح ځوابونو تر څنګ د ✓ علامه ورکړئ.

الف: د پنطیکاست په ورځ پطرس وویل چې روح القدس یوازې د ۱۲۰ تنو ایماندارانو دپاره دی او بس.

ب: مونږ دا وس نه لرو چې یو بل ته په روح القدس کې تعمید ورکړو.

ج: روح القدس زمونږ له آوازونو څخه د خدای د جلال په خاطر استفاده کوي.

د: نن سبا خدای پاك روح القدس یوازې څو محدودو ایماندارانو ته وربخښي.

## د روح القدس مسح

دا د روح د خدمت یو مهم اړخ دی. د روح د مسحې معنی څه ده؟ د زړې لوظنامې په دوران کې هغه خلک او یا شیان چې د خدای د خدمت له پاره بېلېدل، د یو لړ مراسمو په ترڅ کې به په هغو باندې تیل اچول کېدل او هغوی به غوړېدل. کله چې داود نبي

د اسرائیلو پاد شاه شو نو سموئیل د هغه په سر باندې تیل واچول. د خدای کلام په دې هکله فرمایي: ”او د هغې ورځې څخه پس د خدای روح په داود باندې نازل شو“ (اول سموئیل ۱۶: ۱۳). کله چې موسی په بیابان کې مقدسه خیمه د خدای دپاره وقفوله هغه یې د هغې د ټول سامان او قربانګاه (د قربانۍ دپاره ځای) سره په تیلو باندې مسح کړ (خروج ۴۰: ۹ او ۱۱). هارون چې لومړنی مشر کاهن ؤ، هغه هم په تیلو باندې مسح شو (زبور ۱۳۳: ۲).

تیل د روح القدس سمبول دی. د مسح د کلمې معنی د خدای په خاص روح باندې د یو چا لمس کول دي ترڅو هغه ته خدای قوت ورکړي چې د هغه دپاره کوم کار وکړي، هغه په خپل زور سره د هغه کار د کولو وس نه لري. دا د روح القدس مسح وه چې داود نبي وکولی شول د خدای دپاره زبورونه ولیکي (دوهم سموئیل ۱: ۲۳). هغه همدا شان هغه نبي ؤ چې د مړو څخه د مسیح د بیا راژوندي کېدو پیشګویي یې وکړه (اعمال ۲: ۳۰- ۳۱). او د پنطیکاست په ورځ همدا مسح په هغو زرګونو تنو باندې وشوه کوم چې د پطروس وعظ ته یې غوږ نیولی ؤ (اعمال ۲: ۱۴- ۳۶). کله چې لومړنۍ کلیسا د هغو بې وزلو خلکو سره د مرستې دپاره چې مالي حالت یې خراب ؤ، اوه تنه نیك نفر (د کشیش مرستیالان) وګومارل، هغوی هغه خلك ؤو چې ”د روح القدس او حکمت څخه مالامال وو“ (اعمال ۶: ۳). د روح القدس مسح د لومړنۍ کلیسا د ورځینیو کارونو د سر ته رسولو له پاره ضروري ګڼل کیده او له همدې کبله مونږ په لومړنیو کلیسا ګانو کې یو لوړ

روحاني معیار ګورو. نو دا په روښانه توګه په ډاګه کوي چې مونږ په خپلو کلیسا ګانو کې د هر کار او خدمت له پاره څومره د روح القدس مسحې ته اړتیا لرو. زمونږ دعاګانې، وعظونه، تعلیم، زېرى ورکول، روحاني سندرې ویل او یا د موسیقۍ د آلاتو غږول، ټول باید د خداى د جلال په خاطر د روح القدس په وسیله مسح شي. له دې وروسته بیا عیسى پورته کېداى شي او ایمانداران په خپل ایمان کې روزل کیږي او جوړیږي.

## هغه څه چې تاسو یې باید ترسره کړئ

3. د کینې خوا کلمې، د ښي خوا د کومو مفاهیمو بیانوونکي دي؟

| | | |
|---|---|---|
| الف: | د روح القدس نښه | ۱) پطرس |
| ب: | د بیل شوي یا وقف شوي په معنى | ۲) داود |
| ج: | لومړنى مشر کاهن | ۳) تیل |
| د: | د کلیسا خادمین | ۴) شماشان |
| و: | ډېر سرودونه یې وویل | ۵) مسح شوى |
| ه: | د پنطیکاست په ورځ یې موعظه وکړه | ۶) هارون |
| ز: | مقدسه خیمه او قربانګاه یې مسح کړه | ۷) شراب |
| | | ۸) پولس |
| | | ۹) موسى |
| | | ۱۰) ډك شوى |

## د کلیسا د جوړولو دپاره روحاني نعمتونه

د کلیسا د غونډې په وخت کښې ایماندارانو د ثنا په ویلو سره د خدای عبادت کاوه. وروسته بیا په کلیسا باندې یوه خاموشي خپره شوه. یو ایماندار په لوړ او واضیح غږ دعا وکړه. د هغه پیغام عیسی ته جلال ورکړ او خلك یې وهڅول ترڅو د هغه عبادت وکړي. د هغه قوي الفاظ، د هیلې او آرامتیا سره مل ؤو. د کلیسا کشیش ایماندارانو دې ته وهڅول چې د روح القدس آواز ته ځواب ووایي. وروسته بیا د خدای عبادت په یوې نوې طریقې سره ادامه ومونده. مري په آرامۍ سره وویل: ''څه پېښ شول؟'' تیموتي وویل: ''نبوت ترسره شو''. اوس د ایماندارانو ذهنونه د کلام د اورېدو دپاره تیار شوي دي، ځکه چې روح القدس د کلیسا د یوه غړي په وسیله د برخه والو سره خبرې کړې وې. د وعظ څخه وروسته د کلیسا لارښود برخه وال راوبلل چې مخکې راشي تر څو د هغوی د اړتیاوو دپاره دعا وشي. د کلیسا مشرانو د هغوی هر یوه په سر خپل لاس کېښود او د هر یو دپاره یې دعا وکړه. خلك و هڅول شول چې دعا وکړي او په دې باور ولري چې خدای د هغوی غوښتنو ته ځواب ورکوي. د دعا ګانو غږ لکه د اوبو په شان جاري ؤ او خلکو برکتونه موندل. هغه څه چې مو ولوستل د روح القدس د نعمتونو څخه یو نعمت دی او هغه عبارت دی له نبوت څخه. وروسته بیا مري او تیموتي د اول کورنتیانو څخه ۱۴ فصل مطالعه کړ. دریم آیت وایي: ''هغه څوك چې نبوت کوي، هغه د

خلکو سره خبرې کوي او د هغوی سره مرسته کوي،هغوی هڅوي او تسلي ورته ورکوي.“

کله چې روح القدس د روح څخه ډکو ایماندارانو په ډله کې د حرکت په حالت کې وي، د هغوی د زړونو څخه قوت او محبت بهېږي. کټ مټ لکه د هغه بهانده سیند په څېر چې د ځانه سره د ژوند او شفا زېری راوړي. دا قوت د روح القدس د ډالیو یوه برخه ده. معجزې کېږي، خلك شفا مومي او له خپلو ګناهګاره عادتونو څخه لاس اخلي او آزادېږي او کلیسا وده کوي. د روح نعمتونه باید د اول کورنتیان د ۱۴ فصل د اصولو په مطابق وکارول شي. عیسي باید جلال ومومي او ایمانداران په روحاني لحاظ راجوړ شي. خدای زمونږ څخه غواړي چې سره راټول شو ترڅو مونږ ته ژوندون وبخښي. زمونږ غونډې باید د نظم او امن څخه برخمنې وي (اول کورنتیان ۱۴: ۳۳). نهه نور نعمتونه په اول کورنتیان ۱۲: ۸- ۱۰ کې راغلي دي چې هر یو یې بې ساری او مافوق طبیعیت دی. که څه هم مونږ د روح القدس د ټولو کارونو د درکولو وس او قدرت نه لرو، مګر مونږ دې ته اړتیا لرو چې هر هغه څه چې خدای مونږ ته برابر کړي دي، هغه وپېژنو. په لنډه توګه دغه د طبیعت څخه لوړ نعمتونه داسې تعریف کېږي: ”د حکمت کلام د هغه خاص حکمت بیانوونکی دی چې د انسان خاصو اړتیاوو ته ځواب ورکوي. د خدای د حکمت یوه زره چې په مناسب وخت کې د ستونزو هوار وونکې ده، د روح القدس د علم د کلام په وسیله د ایماندارانو سره مرسته کوي تر څو هغه مطالب بیان کړي چې

په هيڅ صورت په خپل طاقت سره د هغه د درکولو وس نه لري. د ايمان نعمت هغه مافوق طبيعي باور دی چې په يوې ځانګړې طريقې سره يوې اړتيا ته ځواب ورکوي. د شفا نعمت د ايماندارانو په وسيله د هغو خلکو غوښتنو ته ځواب ورکوي چې شفا ته اړتيا لري. د معجزو قوت د روح القدس د طبيعت څخه د اوچتو اعمالو بيانووکی دی چې د هغه ښودل د انساني توانمندۍ له لارې ناممکنه بريښي. نبوت، د خدای د پيغام بيانوونکی دی چې د يوې موعظې يا د راتلونکې دپاره د يوې پيشګويۍ په څير وي. د روحونو د معلومولو نعمت، يو نفر په دې قادروي چې ارواح ګانې وپيژني (د خدای روح، انساني روح او يا شيطاني روح) او هغه څه وګوري چې مونږ يې په خپلو سترګو نشو معلومولی. په ژبو باندې د غږيدلو نعمت، په هغو ژبو باندې د خبرو کولو وړتيا ده چې ايماندار هيڅکله د هغو زده کړه نه ده کړې. دا کېدای شي چې دنياوي ژبه وي او يا هم د ملايکو ژبه وي. د ژبو د ترجمه کولو د قدرت نعمت، د هغه څه معنی بيانوي چې په بله ژبه ويل کيږي. بايد په ياد ولرو چې دغه ټول نعمتونه د روح القدس ثمره او ميوه ده.

"نعمتونه خو قسم قسم دي خو روح يو دی"

(اول کورنتيان ۱۲: ۴).

کليسا ګانې بايد د هغه څه په مطابق چې د خدای په کلام کې د هغو تعليم ورکړل شوی دی، دغو نعمتونو ته اهميت ورکړي. نعمتونه د کليسا خدمت ته روحاني پانګه وربخښي ترڅو وکولی شي په ننني محتاجه نړۍ کې په ښه توګه خدمت

وکړي. عیسی زمونږ سره ژمنه کړې ده چې مونږ به د هغه څخه لوی لوی کارونه ترسره کوو (یوحنا ۱۴: ۱۲). دا کار یوازې هغه وخت ترسره کېدای شي چې مونږ خپل ځان روح القدس ته وسپارو. هغه روح چې عیسی هغه راولیږه چې کلیسا ډکه کړي، ترڅو کلیسا دا وس پیدا کړي چې دې نړۍ ته د سربښندنې او فداکارۍ څخه ډك خدمت ترسره کړي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

4. د صحیح ځوابونو مخې ته د ✓ علامه ورکړئ.

د روح القدس نعمتونه په دې خاطر ورکول کېږي ترڅو:

الف: مونږ د روحاني پلوه وده وکړو

ب: د نورو پام ځانته را واړوو.

ج: بېلابېلې کلیسا ګانې ولرو.

5. د روح القدس د نعمتونو د عملکرد په ترڅ کې:

الف: هغه (روح القدس) کولای شي چې د خدای د کلام ځای ونیسي.

ب: مونږ نا راحته او سرګردانه کېږو.

ج: هغوی د خدای د کلام سره په بشپړه هم غږۍ کې عمل کوي.

6. که چېرې مونږ د روح القدس په هکله په ټولو حقیقتونو پوه نشو، نو باید:

الف: ووایو چې هغوی په مونږ پورې تعلق نه لري

ب: یواځې هغه مطالب ومنو چې د هغو د درك کولو توان لرو.

ج: په هر قسم شرایطو کې په خدای یقین ولرو، ځکه هغه همیشه صحیح عمل کوي.

## ځېل ځوابونه مقايسه کړئ

۱) روح القدس د ايماندار د ژوند ټول اړخونه ډکوي.

۴) الف

۵) ج

۲) الف) غلط

ب) درست

ج) درست

د) غلط

۳) الف) تيل (غوړ)

ب) مسح شوی

ج) هارون

د) نيک خلك

ه) داود

و) پطرس

ز) هارون

۶) ج

# کلیسا ګانې د خدای کلام موعظه کوي

هغه کلیساګانې چې د خدای د کلام قدرت او واک یې پیژندلی دی، د یوه ځانګړي فضیلت او درناوي څخه برخمنې دي. د دې کلیسا کشیشان (لاربنوونکي) په وفادارۍ سره د خدای د کلام پیغام موعظه کوي او د هغوی وعظ د خدای د کلام د حقیقتونو څخه ډك دی. پولوس د یو با تجربه مبشر (زیری ورکوونکی) او د ډېرو کلیسا ګانو د بنسټ ایښودوونکي په توګه د خدای د کلام په موعظې باندې ډېر ټینګار کاوه. هغه په خپل ځوان سلاکار (مشاور) تیمو تاوس باندې ټینګار کاوه چې د خدای د کلام موعظه وکړي (دوهم تیموتاوس ۴: ۲). هغه همدا شان د هغو مشرانو په اړه چې د وعظ او تعلیم په برخه کې زیار ایستــه، هم یو مضمون ولیکه (اول تیموتاوس ۵: ۱۷- ۱۸).

هیڅ داسې کوم بل شی وجود نه لري چې د خدای ځای ونیسي. د هغه پیغام هم د ایماندارانو دپاره دی او هم د بې ایمانانو دپاره چې د کلیسا څخه بهر اوسېږي. ټول عقاید او نظریات باید د خدای د کلام په مطابق وڅېړل شي او اصلاح شي. په دې لوست کې به تاسو هغه پیغام زده کړئ چې باید هغه موعظه شي. همدا شان تاسو به دا هم کشف کړئ چې ولې باید

دا پیغام موعظه شي او د هغو خلکو په ژوند چې هغه ته مثبت ځواب ورکوي، څه اغېزه لرلی شي.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- پیغام باید موعظه شي
- د کلام موعظه ایمان پیداکوي
- د کلام موعظه ایمان قوي کوي.

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- په دې پوه شئ چې د کوم پیغام موعظه باید وشي او ولې باید هغه موعظه شي
- دا توضیح ورکړای شئ چې څرنګه کېدای شي چې د کلام موعظه مونږ راجوړ کړي.
- د خپل روحاني ژوند په جوړښت کې د خدای د کلام په قوت او طاقت باندې پوهېږئ.

## پیغام باید موعظه شي

د یکشنبې د سهار د عبادتي غونډې څخه پس، تیموتي مري ته وویل: "زما هیله دا ده چې زه هم یوه ورځ د خپل کشیش په شان وعظ کوونکی اوسم". مري پوښتنه وکړه "ولې؟" تیموتي وویل: "ځکه چې زه فکر کوم دا یو لوی کار دی چې د خدای له طرفه خلکو ته یو پیغام ولرم. همدا شان د

خدای په کلام کې د یو چا څخه نوم وړل شوی دی چې تیموتاوس نومیده او واعظ ؤ.“ مري تیموتي هڅوي او ورته وايي: ”ته کولای شې چې دا کار وکړې. مونږ ټول باید د مسیح په باره کښې د خلکو سره خبرې وکړو.“

د موعظې څخه مقصد خلك دې ته هڅول دي چې په مسیح باندې د ژغورونکي او څښتن په توګه اعتبار ولري. پولوس رسول په خپل پیغام کې د انسان په اساسي اړتیا او د خدای په فیض باندې چې د دې وس لري چې د انسان دغه اړتیا ته ځواب ووايي، ټینګار کوي. دا په دې معنی ده چې د انجیل پیغام په مسیح باندې د ایمان له لارې د خلاصون زېرى دی. زمونږ په دغه پیغام کې باید مسیح مرکزي ځای ولري. پولوس د کورنتس کلیسا ته لیکي:

”نو اوس زما ورونو! زه به تاسو ته هغه زېرى دریادوم کوم چې ما وړاندې درکړی ؤ او تاسو قبول کړی ؤ اوورباندې قایم هم یئ ... ما تر ټولو لومړی هغه خبره تاسو ته ورسوله کومه چې ما ته را رسېدلې وه چې مسیح د مقدس کتاب په مطابق زمونږ د ګناهونو دپاره مړ شو او ښخ شو او د مقدس کتاب په مطابق په دریمه ورځ بیا ژوندی راپاڅېده.“ (اول کورنتیان ۱۵: ۱ او ۳-۴).

زمونږ په پیغام کې باید مقدس کتاب مرکز وي او د هغه د ټولو حقیقتونو په پام کې نیولو سره باید د انسان ټولو جسماني، رواني او روحي اړتیاوو ته ځواب ورکوونکی وي. د خدای د کلام شفا زمونږ د فکر او بدن دپاره، خلاصون زمونږ د ځان او روح دپاره او د روح القدس تعمید زمونږ د

روح دپاره زيری ورکوي. برسېره پر دی د خدای کلام د مسيح د جلاله څخه ډك بېرته راتګ زيری مونږ ته راکوي. دا څه يو د برم څخه ډك پيغام دی.

په دې پيغام کښې يوائې د مسيح ژوند چې په انجيلونو کې ورڅخه يادونه شوې ده شامل نه دی، بلکه د روح القدس کارونو ته هم پاملرنه کوي چې د اعمالو په کتاب کې د هغو ذکر شوی دی. کله چې مونږ د ژوندي راپاڅېدلي مسيح په باره کښې وعظ کوو، دهغه هغه وعده راياد‌وو چې د روح القدس د نازلېدو په اړه يې کړې ده (يوحنا ۱۴: ۱۶). دغه وعده هغه وخت پوره شوه کله چې د پنطيکاست په ورځ روح القدس نازل شو. د مقدس کتاب په مرکزي پيغام کښې ټول مقدس کتاب شامل دی.

د کلام موعظه يوائې په کشيشانو او زيري رسوونکو پورې تړلې نه ده چې په رسمي توګه د کليسا له خوا په دې کار بوخت دي او د خدای خدمت کوي. نن ورځ په مليونونو خلک، د لومړنۍ کليسا په شان د خلاصون اعلان کوي. د رسولانو په دوران کې ډېر ايمانداران چې د ظلم او ستم لاندې ؤو، د انطاکيې ښار ته چې په ننني سوريې کې پرته وه لاړل. هغوی هلته د انجيل موعظه نورو قومونو (غير يهوديانو) ته وکړه او په نتيجه کې ډېرو خلکو په خدای ايمان راوړ. په دې توګه د هغو ايماندارانو د زيرې ورکولو نتيجه چې پخوا به په کليسا کې آرام ناست ؤو دا شوه چې د انجيل پيغام نورو قومونو ته ورسېد او نوې کليسا ګانې منځ ته راغلې (اعمال ۱۱: ۱۹- ۲۱).

په (آی وري کوست) کې چې په لویدیزه افریقا کې پرته ده، د زیږي ورکولو له یوې بلې نمونې سره چې د ایماندارانو له خوا پر مخ بیول کېده، آشنا کېږو. هغه بزګران او ښوونکي چې د روح څخه ډک ؤو، وروسته له دې چې د کار څخه وزګار شول، خپلې څو ورځې یې په لېرو پرتو سیمو کې د زیږې ورکولو دپاره بېلې کړې. هغوی د خپلو کشیشانو په مشرۍ په کوچنیو ډلو ووېشل شوې او د انجیل زیری یې هغو کورنیو ته ورساوه. کوم چې د ونو د سیوري لاندې ناست ؤو. کله چې د کلیو خلکو د خدای کلام د هغو خلکو څخه اورېده چې د هغوی په شان ؤو، نو عیسی مسیح به یې د خپل خلاصوونکي په توګه منلو. په نتیجه کې به نوې کلیسا ګانې منځ ته راتلې. کلیسا ګانو دغه پیغام باید نه یوائې په خپلو محرابونو کې بلکه په کورونو، پلورنځیو، زندانونو، روغتونونو، پارکونو او نورو عامو ځایونو کې موعظه کړ. دغه پیغام باید سپین ږیرو او هغو خلکو ته ورسول شي چې په رواني ستونځو اخته دي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. د اول کورنتیانو ۱۵: ۳- ۴ په مطابق د مسیح په هکله د پولوس پیغام د کوم ترتیب څخه برخمن دی؟

الف: زیږېدلی

ب: مصلوب شوی

ج: ښخ شوی

د: بېرته ژوندی را پورته شوی

و: پورته ختلی

2. د لاندنیو عبارتونو څخه کوم یو کولای شي دغه جمله بشپړه کړي. د مقدس کلام مرکزي پیغام داسې یو پیغام دی چې:

الف: د مقدس کتاب په عبارتونو سره پیل کېږي.

ب: د مقدس کتاب له یوه متن او یا داستان څخه جوړېږي.

ج: د مقدس کتاب هغه ټول حقیقتونه په نظر کې نیسي چې د انسان له اړتیاوو سره تړاو لري.

3. د اعمال ۸: ۴ او اعمال ۱۳: ۲- ۵ سره په مقایسه کې دغه لاندې جمله بشپړه کړئ.

............. د یهودیانو په عبادتخانو کې د خدای د کلام موعظه وکړه (رسمي). مګر ............. خواره واره شوي ؤو او ............... چې تلل د خدای پیغام به یې اعلاناوه (غیر رسمي).

4. د ځینو هغو ځایونو نومونه واخلئ چې ایماندارانو به هلته زېری ورکاوه.

## د کلام موعظه ایمان پیداکوي

په کورنتس کې د کلیسا پرانیستل په دې ډول ؤو: " د عبادتخانې سردار کرسپوس د خپلې ټولې کورنۍ سره په څښتن ایمان راوړ او ډېرو کورنتیانو هم واورېدل او ایمان یې راوړ او بپتسمه (د تعمید غسل) ورکړای شو" (اعمال ۱۸: ۸). هغوی لومړی د خدای پیغام واورېد. دغه پیغام د هغوی په

زړونو کې ایمان راپیدا کړ او په عیسی مسیح باندې ایمان د هغو د بدلون سبب شو.

"دا د ایمان کلام دی چې مونږ یې بیانوو. او ایمان د زړې په اورېدلو پیدا کېږي او اورېدل د مسیح په باره کې د زړې ورکولو څخه" (رومیان ۱۰: ۸ او ۱۷).

یوحنا رسول خپل انجیل د دې دپاره ولیکه ترڅو لوستوونکي په عیسی مسیح د خدای د زوی په صفت ایمان راوړي او د آبدي ژوندون خاوندان شي (یوحنا ۲۰: ۳۱).

د انجیل د موعظې څخه وروسته، یو افریقایي خادم خپلو آورېدونکو ته بلنه ورکړه چې په مسیح ایمان راوړي او ډېرو توبه وکړه او ایمان یې راوړ. یو نفر چې ډېر خواشینی ؤ وړاندې راغی. د خدای خادم په ډېره مینه د خدای د کلام یوه برخه چې د اشعیای نبي ۵۳: ۶ په کتاب کې وه، ولوستله: "مونږ لکه د هغو پسونو په شان چې سرګردانه وي، بې لارې شوي ؤو او هر یو په خپلو خپلو لارو روان ؤو." هغه سړي چیغه ووهله: "هو بالکل زما په شان، چې یو وحشتناکه ژوند لرم او بې لارې شوی یم".

واعظ وویل: "نا امیده کېږه مه. تر اوسه پورې دا آیت پای ته نه دې رسیدلی." هغه بیا ادامه ورکړه: "سره د دې هم خدای زمونږ د ګناهونو ملامتي په هغه واچوله"، "آیا پوه شوې؟ عیسی مسیح ستا د ګناهونو تاوان په صلیب باندې د خپل ځان په وژلو سره ادا کړ. آیا په دې باور کوې؟ هغه ستا په ځای سزا ولیده." هغه سړي د دې خبرو په اورېدو سره خپل سر پورته کړ

او په خوشالۍ سره یې ناره کړه: ”خدایه شکر! زه اوس آزاد یم، عیسی زما د ګناهونو تاوان ورکړی دی.“ د نوموړي سړي ایمان د خدای د کلام د اورېدو او په هغه باندې د باور کولو په نتیجه کې پیدا شو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

5. توضیح ورکړئ چې د ایمان او د خدای د کلام ترمنځ څه اړیکه موجوده ده؟

## د کلام موعظه ایمان قوي کوي

کله چې عیسی وسوسه شو، هغه د خدای د کلام څخه د یوې وسلې په توګه د خپل دښمن د ماتې دپاره استفاده وکړه. د ایماندارانو دپاره هم د خدای کلام لکه د روح د تورې په شان دی ترڅو بری ترلاسه کړي. یوه هغه وسوسه وه چې زموږ څښتن د روژې څخه ورسته ورسره مخامخ شو او هغه دا وه:

”که ته د خدای زوی یې نو دې کاڼو ته ووایه چې ډوډۍ شي. عیسی ځواب ورکړ: صحیفې وایي چې بني آدم یوازې په ډوډۍ نه پایي خو هغه په هره هغه خبره پایي چې د خدای د خولې څخه وزي“ (متي ۴: ۳- ۴).

په دې عبارت سره عیسی شیطان ته ماتې ورکړه. موږ هم په همدې عبارت سره د خدای د کلام په ارزښت باندې پوهېږو چې حتی د ورځیني ډوډۍ څخه هم مهمه ده. که چېرې موږ غواړو چې وده وکړو او په جسماني لحاظ غښتلي شو، باید

ډوډۍ وخورو. په همدې ډول که چېرې غواړو له روحاني پلوه وده وکړو او د وسوسو په وړاندې تسلیم نشو، باید د خدای د کلام څخه تغذیه شو. د زبورونو لیکونکی داسې لیکي: ”ستا کلام زما دپاره خوږ دی، حتي د شاتو څخه هم راته خوږ دی“ (زبور ۱۱۹: ۱۰۳).

د رسولانو د اعمالو په کتاب ۸: ۸ کې لولو چې په سامره کې د فیلیپس د موعظې څخه پس ”په هغه ښار کې یوه لویه خوشالي خپره شوه“. مونږ ټول خوښوو چې خوشاله اوسو، مګر واقعي خوشالي د خوشالۍ له احساس څخه لوړه ده. ”هغه خوشالي چې خدای یې تاسو ته درکوي، ستاسو قوت دی“ (نحمیا ۸: ۱۰). د نحمیا د خوشالۍ ریښه د خدای په کلام کې نغښتې وه.

د خدای په کلام کې مونږ د فیض او برکت پیغام لولو (افسسیان ۱: ۶). کله چې پولوس رسول د دریوو کالو خدمت څخه پس د افسس څخه د وتلو اراده درلوده، هغه پوهېده چې ایمانداران به له نویو ستونزو سره مخامخ وي. نو ځکه هغه ایماندارانو ته په دې ډول تسلي ورکوي:

”او اوس زه تاسو د مالك او د هغه د فضل کلام ته سپارم چې ستاسو د مضبوطولو او په هغو ټولو کې چې ځانونه یې ورته سپارلي دي، خپل میراث درکولای شي“ (اعمال ۲۰: ۳۲).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

6. د لاندنیو عبارتونو څخه کوم یو کولای شي چې دغه جمله بشپړه کړي؟

"د خدای کلام هغه روحاني خواړه دي چې......................

الف: د خپلې روحاني ودې دپاره ورته اړتیا لرو.

ب: لکه د خوږو خواړو په شان دی مګر ضروري نه دی.

ج: باید د هغه په هکله د نورو سره خبرې وکړو.

7. عیسی ولې وویل چې مونږ د خدای کلام ته لکه د ډوډۍ په شان اړتیا لرو؟

8. پولوس په اعمال ۲۰: ۳۲ کې وویل چې: " اوس زه تاسو څښتن او د هغه د فیض کلام ته سپارم چې ......"

## څېل ځوابونه مقایسه کړئ

۱) ب) مصلوب شوی

ج) ښخ شوی

د) بېرته ژوندی را پورته شوی

۵) ایمان د خدای د کلام اورېدلو او په هغه باندې د باور کولو نتیجه ده.

۲) ج

۶) الف او ج

۳) پولوس او برنابا ، ایمانداران، هر چېرې

۷) ډوډۍ یواځې زمونږ لوږه لېرې کوي په داسې حال کې چې مونږ روحاني خوراك ته هم اړتیا لرو.

۴) زندانونه، د استراحت ځایونه، عمومي پارکونه او ستاسو خپل ځایونه. که چېرې تاسو وغواړئ چې زېری ورکړئ نو د هغه ځای به هم پیدا کړئ.

۸) مونږ هڅوي او الهي برکتونه راکوي

# ستاسو یادداشت

## څلورم لوست

# کليسا ګانې د حقيقت تعليم ورکوي

سره د دې چې فيلوسوفان ډېر زيات کلونه د حقيقت په لټه کې ؤو، خو په دې سبب چې يوه سمه لاره يې غوره کړې نه وه نو ويې نشو کولای چې حقيقت پيدا کړي. عيسی په هغې دعا کې چې خپل پلار ته يې وکړه داسې وفرمايل: ”ستا کلام ريښتينی (حقيقت) دی“ (يوحنا ۱۷: ۱۷).

مقدس کتاب يو عجيبه کتاب دی چې له ۶۶ کتابونو څخه جوړ شوی دی او د ۱۶۰۰ کلونو په ترڅ کې بشپړ شوي دی. دا کتاب ۱۳۹۵ مخونه (صفحې) لري چې ډېر ساعتونه بايد د هغه په مطالعه کولو کې ولګول شي. نو اوس يوه لويه دنده د کليسا ګانو په غاړه ده. هغه د هغو ټولو ساري حقيقتونو تعليم دی چې د يوه بې ساري کتاب څخه اخيستل شوی دی. تر اوسه پورې د مقدس کتاب بغير د بل هيڅ کوم کتاب په باره کښې دومره مطالب نه دي ليکل شوي. د هغه دپاره د پای ټکی نشته. د مقدس کتاب حقيقتونه ختميدونکي نه دي او هيڅ کله به زاړه او يا قديمي نشي. د خدای د کلام په مطالعه کې به تاسو د سرو او سپينو زرو او نورو قيمتي ډېرو خزانې ومومئ چې د پلټنې او څېړنې ارزښت لري.

## هغه څه چې په دې لوست کې به يې ولولئ

- تعليم د خدمت دپاره يوه ډالۍ ده
- په کليساګانو کې د مقدس کتاب ښوونځي
- د مقدس کتاب د مطالعې صنفونه
- د افتخاري خادمينو د زده کړې صنفونه

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- دا درك کړئ چې ښوونکی د کليسا دپاره د خدای ډالۍ ده
- په کليسا کې د مقدس کتاب د زده کړې بېلابېل صنفونه وپېژنئ
- د مقدس کتاب د ښوونکو د کار دپاره ارزښت قايل شئ

## تعليم د خدمت دپاره يوه ډالۍ ده

په دوهم لوست کې د روح القدس له نهو ډاليو (نعمتونو) سره آشنا شوئ. د روح القدس د نعمتونو څخه علاوه خدای پاك د کليسا او د هغې د ودانۍ د خدمت دپاره نورې ډالۍ يا نعمتونه هم بخښي.

”خدای په جماعت (کليسا) کې بيل بيل کسان مقرر کړل: اول رسولان، دوهم نبيان او دريم استادان“ (اول کورنتيان ۱۲ : ۲۸).

”او هغه ځينې رسولان، ځيني نبيان، او ځيني زيري اوروونکي او ځيني شپانه او استاذان مقرر کړي دي. د دې له

پاره چې د خدای خلك د خدمت له پاره تيار شي او د مسيح بدن په مونږ کې وده ومومي" (افسيان ۴: ۱۱- ۱۲).

په کليسا کې د خدمت نعمتونه چې عيسی د هغې د ګوټ سرکاني دی

| | |
|---|---|
| افسيان ۴: ۱۲ | د مسيح بدن (د خدای قوم) |
| ۱ کورنتيان ۱۲: ۲۸ | استادان، مرسته کوونکي، اداره کوونکي |
| افسيان ۴: ۱۱ | زيري اورونکي، استادان، کشيشان، مسيح |
| افسيان ۲: ۲۰ | نبيان، رسولان، د بنسټ تيږه |

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

1. په خپلو الفاظو سره ووايئ چې د افسيانو په مطابق په تاسو کې د کوم خدمت نښې نښانې ليدل کيږي او کوم نعمت په خپل ځان کې ليدلی شئ.

په اول کورنتيان يوولسم فصل کې د تعليم خدمت ته ډېر د درنښت په سترګه کتل شوي دي او مهمه دنده شمېرل شوې ده. که څه هم د خدمت د نعمتونو په قطار کې دريم ځای لري، مګر د خدای د کلام اکثره مفسرين د تعليم نعمت او د کشيشتوب نعمت سره يو برابر ګڼي.

مري او تيموتي د هغه صنف څخه چې د ځوانانو دپاره ؤو، خوند اخيسته. د هغوی ښوونکی چې اندروجي نومېده، په ښه درس ورکولو سره تړول دي ته هڅول چې په خبرو اترو کې برخه واخلي. تيموتي له هغه څخه پوښتنه وکړه چې د تعليم د خدمت

او د کشیشتوب د خدمت ترمنځ څه فرق دی؟ ښوونکي وویل چې تاسو څه فکر کوئ؟

تیموتي د یوې شېبې دپاره فکر وکړ او بیا یې وویل: ''زما په نظر د هغو ترمنځ یوه نږدې اړیکه موجوده ده. کشیش او ښوونکی دواړه باید مقدس کتاب مطالعه کړي او په دعا سره د مطالبو د وړاندې کولو له پاره تیار شي. اصلي فرق ښايي د هغوی په طریقو کې وي.'' په داسې حال کې چې ښوونکي د تیموتي خبرې تائیدولې، زیاته کړه: ''ښايي مونږ وکولی شو په دې شکل دا موضوع په ښه توګه توضیح کړو چې ټول شپانه باید ښوونکي هم اوسي. هغوی باید په کلکه د خدای کلام مطالعه کړي او دا وس ولري چې د هغه تعلیم ورکړي او د خپل وعظ په وسیله نورو ته الهام ورکړي. لکه څنګه چې تاسو درك کړې ده زه ښوونکی یم مګر شپون نه یم او د خلکو له پاره موعظه نه کوم او د کلیسا شپون نه یم. ښوونکي او شپانه په کلیسا کې د یوې خاصې طریقې او یا خدمت لرونکي دي.

په دریم لوست کې مو زده کړل چې وعظ په اصل کې د هغه پیغام اعلان دی چې اورېدونکي دې ته هڅوي چې توبه وباسي او خدای ته تسلیم شي. تعلیم د حقیقت تفسیر او څرګندونه ده په دې مقصد چې د خلکو سره مرسته کوي چې له روحاني پلوه وده وکړي.

مسیح په کلیسا کې معلمین مشخص کړي دي. هغه چا سره چې د تعلیم نعمت وي باید د هغه په پرمختګ کې زیار وباسي. لکه څنګه چې یو تکړه ویلون غږوونکی خپل استعداد ته له

هماغه ماشوم والي څخه وده ورکړې ده او لاژم مهارتونه يې حاصل کړي دي، يو ښه ښوونکی هم بايد همدا شان زيار وباسي او کوښښ وکړي.که چيرې ښوونکی غواړي چې په موضوعګانو باندې ښه پوه شي بايد مطالعه وکړي هغوی ته يوه لويه دنده سپارل شوې ده او هغه ايماندارانو ته د خدای د کلام تعليم دی. هغه ايمانداران بيا په خپل نوبت سره دغه تعليمات نورو ايماندارانو ته رسوي. پولوس رسول تيموتاوس دې ته هڅوي چې: ”او کومې خبرې چې تا ډېرو ګواهانو په وړاندې زما نه اورېدلي دي هغه د داسې دياتندارو سړو په حواله کړه، څوك يې چې نورو ته د ښودنې لايق وي“ (دويم تيموتاوس ۲: ۲).

پولوس مخکې ليکلي ؤو چې: ”د هغه زېري د تبليغ دپاره زه رسول او استاد مقرر شوم“ (دويم تيموتاوس ۱: ۱۱).

پولوس، رسول او ښوونکي ته داسې مقام ورکوي چې هغوی د يو بل ترڅنګ قرار لري. هغه د ښوونکو ښوونکی شو.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

2. د ورکړل شويو کلماتو څخه په استفادې سره لاندينې عبارتونه بشپړ کړئ

الف: تعليم(اعلانول / د خدای د کلام توضيح کول)

ب: وعظ(اعلانول / د خدای د کلام توضيح کول)

ج: پولوس د خدمت د نعمت په لست کې (وعظ ورکولو / تعليم ورکولو) ته دريم ځای ورکړی دی.

## په کليساګانو کې د مقدس کتاب ښوونځي

د مري او تيموتي په څېر په مليونونو خلک د کليسا د مقدس کتاب د زده کړې په صنفونو کې ګډون کوي. له دې کبله چې دغه کورسونه په اکثرو کليساګانو کې د يکشنبې په ورځ پر مخ بيول کېږي، نو ځکه ورته د يکشنبه يي کورسونه هم وايي. دغه صنفونه په لومړي ځل په ۱۷۸۰ کې په انګلستان کې منځ ته راغلل. يو مهربانه سړي چې رابرت ريکس نومېده، د يکشنبې په ورځو کښې ځينې بد سلوکه ماشومان چې په فابريکو کښې د کار څخه وزګاريدل او په کوڅو او سرکونو کې به يې بې ځايه کارونه کول وليدل، هغوی ته يې بلنه ورکړه چې د خدای د کلام د زده کړې په تعليمي کورس کې چې د مېرمنو دپاره يې جوړ کړی ؤ، ګډون وکړي. يو ځل هغه ځينو بې وزلو او وړېيو ماشومانو ته پاخه شوي کچالان ورکړل او هغوی يې دې ته وهڅول چې کليسا ته راشي. د هلکانو سره د هغه کار دومره بريالی ؤ چې خلکو به د هغه سيمه د يکشنبې د جنت په نامه يادوله. د مقدس کتاب د زده کړې د کورسونو نظريه ډېر ژر په ټوله نړۍ کې خپره شوه. دا ډول ښوونځي او صنفونه د مسيح د هغه فرمان په پلي کولو کې چې ويلي يې ؤو: ''ټولې نړۍ ته لاړ شئ او خلك زما شاګردان کړئ'' ډېر مهم رول ولوباوه. يعنې د مسيح څخه د فرمانبردارۍ په تعليم کې يې ډېر ښه کار ترسره کړ.

که څه هم دغه صنفونه له تنکيو ځوانانو څخه پيل شول، مګر ټول خلک زده کړې ته اړتيا لري. په ځينو کليسا ګانو کې د مختلفو عمرونو خلکو ته بيلابيل تعليمي صنفونه په پام کې نيول شوي دي. د هغوی شعار دا دی چې ”د يکشنبې کورسونه د ټولو دپاره چې تر سلو کالو او يا د هغو څخه پورته عمر لري، دي“.

په ځينو کليسا ګانو کې دغه کورسونه په نورو ورځو کې، د مثال په توګه د جمعې په ورځو کې دايرېږي. دغه ښوونځي کېدای شي د بشپړې ودانۍ او د زده کړې له بشپړو امکاناتو څخه برخمن وي. نور ښوونځي يا د زده کړې محدود امکانات لري او يا هم له دې امکاناتو څخه په بشپړه توګه بې برخې دي. ښايي زده کوونکي په ځمکه او د يوې ونې تر سيوري لاندې کښېني او زده کړه وکړي. ښايي هغوی کوم کتاب هم په اختيار کې ونلري. مګر ځيني ښوونکي سره له دې چې ډېر محدود امکانات په واک کې لري، خو دا وس لري چې خپل خدمت په ډېره ښه توګه ترسره کړي. هغوی بايد د موجوده شرايطو د په پام کې نيولو څخه پرته يو پيغام ولري. دغه کورسونه کېدای شي په هغه وخت کې چې ماشومان په رخصتۍ کې دي د يوې مودې دپاره داير شي. دغه کورسونه کېدای شي په کور کې ، په خيمې او يا په کوم بل ځای کې داير شي. په ځينو کليسا ګانو کې د خلکو د بيلابيلو قشرونو له پاره د هغوی د تعليم او سويې په پام کې نيولو سره ورته کورسونه او صنفونه جوړېږي. په ځينيو نورو کې د هغو خلکو دپاره چې لوستلی نشي، کورسونه دارېږي او مقدس کتاب يو له درسي کتابونو څخه

دی. د زده کړې هره طریقه چې غوره کړای شي د مقدس کتاب د ښوونځیو اصلي مقصد د ټولو دپاره د زده کړې د شرایطو برابرول دي. یواځې د کلام موعظه کافي نه ده. زمونږ اولادونه او مخصوصاً ځوانان د مقدس کتاب زده کړې ته اړتیا لري او یو ښه ښوونځی، یوه ډېره غښتلې محلي کلیسا جوړولای شي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

3. د صحیح ځوابونو تر څنګ د ✓ علامه ورکړئ.

الف: د کلیسا ښوونځي یواځې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو له پاره دي.

ب: د کلیسا په ښوونځیو کې تعلیم یو ډېر مهم خدمت ګڼل کېږي.

ج: ښوونکي زده کړې ته اړتیا لري، حتي که په اونۍ (هفته) کې یو ساعت هم درس ورکړي.

د: د مقدس کتاب ښوونځي په کلیساګانو باندې کومه مهمه اغېزه نه لري.

4. د مقدس کتاب د ښوونځیو د څلورو نورو کړو وړو نومونه واخلئ.

## د مقدس کتاب د مطالعې صنفونه

د مقدس کتاب د مطالعې صنفونه د کلیسا د ښوونځیو سره نږدې اړیکې لري. دغه صنفونه په ډېره کلکه د مقدس

کتاب د مطالعې په برخه کې کار کوي چې د هغې غړي عموماً لویان وي. که څه هم ممکنه ده چې د نارینوو، ښځو او ځوانانو دپاره صنفونه ولري، خو د کلیسا د ښوونځیو په شان عمر په لحاظ د خلکو د ډلو په بیلوالي باندې ټینګار نه کوي.

اکثراً لویې کلیسا ګانې داسې صنفونه لري چې یوې خاصې دلچسپۍ او یا اړتیا ته ځواب ورکوي. ډیرې کلیسا ګانې د اونۍ په منځ کې د دعا او د کلام د مطالعې دپاره غونډې لري چې د کلیسا کشیشان او یا نور افتخاري خادمین د هغې لارښودنه کوي. دغه غونډې د مقدس کتاب څخه د یوې موضوع په غوره کولو سره لکه خلاصون او یا د خدای د دوستانو لکه موسي، داود او یا نورو د ژوندلیك په واسطه اداره کېږي. مطالعه کیدای شي چې د خدای د کلام په یوې برخې لکه د غره د پاسه موعظه او یا په کوم کتاب لکه د یعقوب په رسالې پورې متمرکزه وي. د مقدس کتاب مطالعه چې په روح القدس باندې مسح شوې وي، د برکت سبب ګرځي.

پولوس رسول لیکي: "د مسیح کلام ستاسو په زړونو کې ډیر ځای پیداکوي او په خپلو کې یو بل ته تعلیم ورکوئ او نصیحت کوئ" (کولوسیان ۳: ۱۶). د پنطیکاست د ورځې څخه پس رسولانو به نورو ایماندارانو ته د ایمان د زده کړې تعلیم ورکاوه (اعمال ۲: ۴۲). او په ورستیو کلونو کې به د تعلیم په اهمیت باندې ډیر ټینګار کېده (اعمال ۱۹: ۹- ۱۰ او ۲۰: ۲۰). هغه کلیسا چې د خدای په کلام کې یې ژورې ریښې ځغلولې وي هغه ډیره غښتلې وي. داسې یوه کلیسا به د دنیوي

غولوونکو او عجیبو تعلیماتو تر اغیزې لاندې نه راځي او نه به هم د هغو چل او ول ته خپل سر ټیټوي (افسیان ۴: ۱۳- ۱۴). د ایماندارانو په کورونو کې د خدای د کلام مطالعه کېدای شي چې ډېره ګټوره وي. خلک په لس نفري او یا دولس نفري ډلو کې د اونۍ په ترڅ کې په یو مناسب ځای کې سره راټولېږي او دا کار مرسته کوي چې د خدای کلام د مینې په یوه چاپېریال کې او د ګډون کوونکو په ژوند کې مطرح شي.

په کورونو کې ایمانداران په آرامۍ سره د خپلو تجربو په هکله خبرې کوي او ښوونکي هم کولای شي چې په پوره تیارۍ سره درس پرمخ یوسي. مګر هغوی باید د درس ورکولو څخه مخکې خپل یو څه وخت د دعا له پاره ځانګړی کړي. د ''نوي ژوندون'' درسونه هم کیدای شي په دې اړوند ډېره مرسته وکړي او د هر کورس په پای کې زده کوونکو ته د فراغت یو سند هم ورکول کېږي. د خدای د کلام مطالعه کېدای شي چې په یوې خیمې او یا په کمپ کې هم پر مخ یوړل شي.

کله چې خلك له خپل کور او یا د کار له ځایه څخه لېرې کېږي، د خدای په کلام باندې د فکر او غور کولو ډېر وخت لري. د خدای د کلام د مطالعې د کورسونو جوړول ډېر ګټور دي او که چېرې د دعا او د خدای د حضور د غوښتنې سره یوځای وي، نو د هغې ګټه او ثمره به نوره هم زیاته شي.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

5. د لاندنيو عبارتونو څخه کوم يو کولای شي دغه جمله بشپړه کړي؟ د مقدس کتاب د ډله ايزې مطالعې ګټه دا ده چې: ............................................. ......... .........

الف: ايمانداران کولای شي چې خپلې تجربې په پوره ډاډ سره او د مينې او صميميت په يوه فضا کې يو او بل ته بيان کړي.

ب: د عمر په لحاظ د خلکو د ډلو ځانګړو اړتياوو ته ځواب ورکول کېږي.

ج: د هغه ګټورتوب او اغيزمنتوب روښانه کېږي

د: کولای شي چې کليسا ته د تګ ځای ونيسي.

6. په دې لوست کې وويل شول چې په دريو طريقو سره کولای شو چې د خدای کلام مطالعه کړو. يوه د خدای د کلام موضوعي مطالعه ده او دوه نورې يې عبارت دي له ......

.... .... ............ ........................... ...... ....................

## د افتخاري خادمينو د زده کړې صنفونه

د پسرلي په يوه ښکلي مازيګر کې کله چې مري او تيموتي د کليسا څخه د خپل کور په لور روان ؤو، مري پوښتنه وکړه چې د افتخاري خادمينو د زده کړې صنفونه څه ته وايي؟ دا څه ډول خلك دي؟ آيا ته هم هلته ځې؟ تيموتي په ځواب کې وويل

چې: ”نه زه هلته نه ځم. ستا د پوښتنې په ځواب کې باید ووایم چې افتخاري خادمین هغه خلک دي چې د کلیسا څخه بهر کار کوي خو په کلیسا کې د ننه خپل ځانګړي مسئولیتونه او دندې لري او د مشرانو، کشیشانو، خادمینو او یا هم د یکشنبه یي کورسونو د ښوونکو په توګه کار کوي چې ښاغلی آلن یو د هغو څخه دی.“ په همدې شیبه کې آلن هم رارسیږي. تیموتي په خندا سره غواړي چې هغه وځوروي مګر په جدي توګه ورته وایي: ”مونږ په دې هکله چې ته د کلیسا یو افتخاري خادم یې او د دې خادمینو د زده کړې دپاره سبا د زده کړې کورسونه دایریږي، سره خبرې کولې. آیا ته په هغه کې ګډون کوې؟“ ښاغلي آلن ځواب ورکړ: ”هو حتما ګډون کوم. زه داسې صنفونو ته سخته اړتیا لرم.

د خدای په کار کې مشرتوب یو لوی مسئولیت دی. تیموتي! که ته غواړې، ته هم کولای شې چې ګډون وکړې. مونږ هغو مشرانو او رهبرانو ته اړتیا لرو چې وکولی شي د راتلوونکي دپاره تیار شي. زمونږ کشیش او د هغه مرستیال نشي کولای چې د یوې مخ په ودې کلیسا د ټولو چارو مسئول وي. هغوی باید د نورو روحاني خدمتونو دپاره ډېر وخت ولري. په اصل کې ټول ایمانداران باید د خدمت دپاره تیار شي. په اول تیموتاوس ۳: ۱- ۷ کې د کلیسا د ټولو مشرانو دپاره ځانګړې تیاوی بیان شوی دی. هغوی باید په ایمان کې وده وکړي او د اعتبار وړ او نیک نومي و اوسي.

د افتخاري خادمينو صنفونه چې په هغو کې د خدای د کلام مطالعه او نور عملي خدمتونه شامل دي، د کليسايي مسايلو د حل کولو او ايماندارانو د اړتياوو د پوره کولو سبب ګرځي. د داسې مسئوليتونو د په غاړه اخيستنې دپاره زده کړه د هغو خلکو دپاره چې په افتخاري خدمت ګومارل شوي دي، ډېره مهمه ده.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

7. د لاندنيو عبارتونو څخه کوم يو کولای شي دغه جمله بشپړه کړي؟

د افتخاري خادمينو د زده کړې صنفونه د هغو خادمينو د روزنې سبب ګرځي چې:

الف: د مقدس کتاب د حقايقو تعليم ورکوي.

ب: کشيشان وي

ج: يو مسيحي عملي خدمت سرته ورسوي.

د: په کليسا کې ډېر زيات مسئوليتونه په غاړه واخلي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱) تاسو د ایماندار په توګه د هو ځواب ویلی شئ ځکه چې خپل ژوند مو په مسیح باندې ودان کړی دی

۵) الف، ب او ج

۲) الف) د خدای د کلام توضیح کول

ب) اعلانول

ج) تعلیم ورکول

۶) د خدای د دوستانو ژوند او د مقدس کتاب د یوه کتاب او یا د هغه د یوې برخې لوستل.

۳) الف) غلط

ب) درست

ج) درست

د) غلط

۴) د ماشومانو او ځوانانو تعلیم. د کنهو له پاره کورسونه، د رخصتۍ په وخت کښې د مقدس کتاب زده کړه، د اوړي کمپونه، مسیحي ښوونځي، د لویانو دپاره د زده کړې کورسونه او نور.

۷) الف) ج) او د)

## پنځم لوست

# کلیسا ایماندارانو ته د تعمیدغسل ورکوي

کلونه کلونه پخوا یو شمیر چینایي مسیحیان په هغه هیواد کې د بېلابېلو کلیسا ګانو او د تعمید د غسل په هکله په مختلفو نظریاتو باندې بحث کاوه. یو خادم دغه مسئله په دې ډول توضیح کړه: ”ځیني کلیسا ګانې د تعمید دپاره له لږو اوبو څخه کار اخلي، ځیني نور یو تن په مکمله توګه په اوبو کې ننباسي او ځیني هم هیڅکله د اوبو څخه کار نه اخلي.“ د هغه مقصد دا ؤ چې هغه کلیسا ګانې چې د اوبو څخه کار نه اخلي، هغوی ګواکې دغه دود په سمه توګه نه ترسره کوي او دا کار د هغوی دپاره کوم بنسټ نه دی. لومړی ډله هغه کلیسا ګانې دي چې د تعمید د ننبې په توګه یواځې څو څاڅکي اوبه په یو نفر باندې شیندي او دغه کار د یو لړ مراسمو او ترتیباتو په ترڅ کې ترسره کوي. دوهمه ډله هغه کلیسا ګانې دي چې یو نفر په مکمله توګه په اوبو کې ننباسي. پنطیکاستي کلیساګانې او یا هغه کلیساګانې چې ټول انجیل مني، دغه کار ترسره کوي. مګر تعمید په هر شکل چې وي، مهمه دا ده چې باید تعمید اخیستونکي د هغه په معنی او مقصد پوه شي او هغه په پوره توګه درک کړي. هغه باید په دې پوه شي چې ولې باید کلیسا دغه کار وکړي.

## هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولئ

- د تعميدغسل يوه نښه ده
- د تعميد مقصد
- د تعميد ډولونه

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- د نوې لوظنامې د زمانې په زده کړو کې د اوبو تعميد درك کړئ
- د خپل ځان دپاره د اوبو د تعميد په ضرورت باندې پوه شئ
- د تعميد طريقې او ډولونه د مقدس کتاب څخه په استفادې سره وڅېړئ.

### تعميد: يوه نښه ده

مري سره د دې چې ليدل يې چې نور خلک تعميد اخلي مگر په خپله يې تر اوسه پورې تعميد نه ؤ اخيستی. تيموتي چې پخوا يې دغه گام پورته کړی ؤ، هغه يې د دې کار د ترسره کولو دپاره هڅوله. مري به ويل چې زه نه پوهېږم چې ولې په اوبو کې ننووزم او نه غواړم چې خلك ما په لندو جامو او وېښتانو وگوري. تيموتي په داسې حال کې چې کوښښ يې کاوه هغه دې کار ته وهڅوي، ځواب ورکړ: "ستا انديښنه بې ځايه ده، ځکه ايمانداران به دې ته ونه گوري او هغوی به په پوره خوشالۍ سره د دې صحنې ليدوونکي وي. ځکه هغه نفر

چې تعميد اخلي هغه خپل ځان د مسيح سره يوځای بولي. له همدې امله ټول مسيحيان د هغه سره په شريکه ښادي او خوشالي کوي.“ بالاخره مري د دې کار دپاره تياره شوه او ويې ويل: ”زه غواړم چې د خدای څخه اطاعت وکړم، که څه هم ما تراوسه پورې د دې کار مفهوم په دقيقه توګه نه دی درك کړی.“ تيموتي هغې ته ډاډ ورکوي چې وروسته له دې چې هغه په هغه صنف کې چې د تعميد اخيستونکو دپاره جوړيږي، ګډون وکړي، نو د دې کار په معنی به پوهه شي او په پوره شوق سره به دغه کار ترسره کړي.

عيسی د دوو رسمونو بنسټ اېښودوونکی ؤ: په اوبو کې تعميد او د خدای غوره ماښام. دغه دواړه رسمونه په روښانه توګه د مقدس کتاب د لويو حقيقتونو ښکارندوی دي. فرمان يو لوړ او غښتلي قانون ته ويل کيږي. د کليسا فرمانونه د خدای د کلام د واکمنۍ پر بنسټ ولاړ دي. په دې لوست کې به مونږ په لومړي فرمان يعنې د اوبو د تعميد په اړه وغږيږو. د او بو تعميد د دوو حقيقتونو نښه ده. اول دا چې مسيح زمونږ په ځای مړ شو. ”ما د ټولو لومړی هغه مهمه خبره در ورسوله کومه چې ماته را رسيدلې وه چې مسيح د مقدس کتاب په مطابق زمونږ د ګناهونو د پاره مړ شو او ښخ شو او د مقدس کتاب په مطابق په دريمه ورځ بيا ژوندی راپاڅېده“ (اول کورنتيان ۱۵: ۳- ۴).

کله چې مونږ په اوبو کې غوټه وهو او يا ننوځو، دا زمونږ د ګناهونو دپاره د مسيح د مرګ يوه نښه او يا سمبول دی. دا په دې معنی ده چې ايماندار د مسيح سره يوځای ښخ کړای شو.

او کله چې د اوبو څخه بېرته راوځي دا د دې ښنبه ده چې ایماندار د مسیح سره یو ځای بېرته له مړو څخه ژوندی راپورته کېږي او یو نوی ژوندون پیل کوي. پولس لیکي: ”هغه څوك چې زمونږ د ګناهونو په خاطر قربان شو او زمونږ د صادق کولو دپاره بیا ژوندی کړی شو“ (رومیان ۴: ۲۵).

دوهم دا چې تعمید د ګناه څخه د آزادۍ ښنبه او د مسیح سره زمونږ د یووالي علامه ده. هغه ایماندار چې تعمید اخلي دغه لاندیني حقیقتونه اعلانوي:

۱) هغه د مسیح سره یوځای د صلیب د پاسه مړ شو (رومیان ۶: ۶) او همدا شان غلاطیان ۲: ۲۰ هم په مسیح کې زمونږ د زاړه طبیعت د مصلوب کېدو په لور اشاره کوي.

۲) د مسیح سره ښخ کړای شو (کولوسیان ۲: ۱۲). په روحاني لحاظ یو تعمید کوونکی د خپلې جنازې په مراسمو کې ګډون کوي. ځکه د هغه زوړ او خود خواه ژوند باید مړ شي او ښخ کړای شي.

۳) د مسیح سره یې قیام وکړ (بېرته ژوندی پورته شو) (کولوسیان ۲: ۱۲). عیسی وفرمایل: ”... زه ژوندی یم نو تاسو به هم ژوندي یئ“ (یوحنا ۱۴: ۱۹).

۴) اوس نوی ژوندون لري (رومیان ۶: ۴) او د پولوس په شان کولای شي چې ووایي: ”... اوس زه ژوندی نه یم بلکه مسیح په ما کې ژوندی دی ...“ (غلاطیان ۲: ۲۰).

مسیحي تعمید په دې توګه خلاصه کېږي: " تاسو چې د مسیح سره په یووالي کې تعمید واخیست، د هغه سره هم فکره شوئ" (غلاطیان ۳: ۲۷).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. لاندینۍ جملې بشپړې کړئ:

- تعمید اخیستنه د ایماندار دپاره د دې ښنبه ده چې مسیح ....... .....
- په اوبو کې غوپه وهل او یا ننوتل د دې ښنبه ده چې مسیح ..........
  او د اوبو څخه بېرته وتل د دې ښنبه ده چې .............. ....... ..... ..

2. د اوبو تعمید زمونږ په زاړه طبیعت باندې څه اثر لري؟

## د تعمید مقصد

امکان لري مسیحي ریښې په هغو دودونو او مراسمو کې نغښتي وي چې د مسیح څخه مخکې د مسیحیانو ترمنځ ترسره کېدل. کله چې یو غیر یهودي غوښتل چې د واقعي خدای څخه پېروي وکړي، هغه به د تعمید غسل اخیست. دغه نوی ایماندار سړی به په داسې حال کې چې د موسی د شریعت یوه برخه ورته د یو یهودي ښوونکي له خوا لوستل کېده، په اوبو کې به ودرېد او وروسته بیا د خپل تېر ژوند څخه د پاکۍ په مقصد چې د بت پرستۍ سره مل ؤ، په اوبو کې به ننوت. د اوبو څخه بیرون وتل د یوه نوي ژوندون د پیل ښنبه وه چې د خدای سره د هغه د لوظ څخه سرچینه اخیسته. هغه به تصمیم نیوه چې د خدای خدمت وکړي. نن ورځ په اوبو کې تعمید اخیستل د نورو په مخکې د

شهادت ورکولو په معنی ده چې د هغه ایماندار له خوا اعلانېږي چې مسیح یې قبول کړی دی او د نورو ایماندارانو سره په مشارکت کې د هغه څخه پیروي کوي. د تعمید مراسم د کلیسا د شپون له خوا ترسره کېږي او دا د ایماندار دپاره هغه تجربه ده چې یوائې یو ځل صورت نیسي. امکان لري چې یو نفر پخوا تعمید اخیستی وي مګر د خپلو ګناهونو څخه یې توبه نه وي کړې او فقط په نمایشي او بې معنی توګه یې دغه دستور ترسره کړی وي. داسې یو نفر کولای شي چې د توبې او خدای ته د ځان سپارنې څخه پس یو ځل بیا د تعمید غسل واخلي. په عمومي توګه تعمید په ساده الفاظو کې "یوه ظاهري نښه ده د مسیح دپاره د باطني ډاډمندۍ دپاره". دا د نورو په حضور کې هغه اقرار دی چې د مسیح د هغه فرمان څخه اطاعت څرګندوي چې ویلي یې دي: "تاسو په ځمکه خواره شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، زوی او روح القدس په نامه ورته تعمید ورکړئ" (متي ۲۸: ۱۹).

مقدس کتاب مونږ ته دا نه وایي چې د تعمید مراسم دې چېرته ترسره شي. مونږ کولای شو دغه کار په یو غیر تشریفاتي ځای کې لکه د سیند په غاړه ترسره کړو. د دې کار دپاره باید له چارواکو څخه اجازه واخلو. عسکر په داسې حال کې چې ټوپکونه یې چې برچې په کښې دي نیولي دي، د کلیسا شپون ایماندارانو د تعمید ورکولو په حالت کې ګوري. کېدای شي دغه مراسم د روحاني سندرو په ویلو سره ترسره شي چې په خوشحالۍ سره ویل کېږي. کېدای شي دغه سندرې هغوی دې

ته اړ کړي چې پوښتنه وکړي: "دا څه ډول دود او دستور دی." او ایمانداران کولای شي له دې موقعې څخه کار واخلي او د هغو سره د دې مراسمو د علت او همدا شان د خلاصون د زېري په باره کښې خبرې وکړي. دا مهمه نه ده چې دا مراسم په کلیسا کې ترسره شي او که د سیند او یا ویالې ترغاړه، بلکه د هغه روحاني اړخ او مسیح ته زمونږ اقرار د اهمیت وړ دی.

## هغه څه چې باید ترسره يې کړئ

3. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ

الف: د مسیح د فرمانونو څخه په اطاعت کولو سره مونږ هغه ته خپل صداقت او ایمانداري وربنایو.

ب: د اوبو تعمید هغه ظاهري نښه ده چې زمونږ د زړه د ډاډمندۍ څخه ریښه اخلي او دا په ډاګه کوي چې مونږ هغه د خپل خلاصون ورکوونکي په توګه قبول کړی دی.

ج: که چېرې تعمید زمونږ کورنی دود هم وي، مهمه دا ده چې هغه باید ترسره کړو.

د: مونږ باید دې ته لیواله اوسو چې د نورو په مخکې د مسیح اقرار وکړو ترڅو ټول پوه شي چې مونږ هغه د خپل ژوند د څِښتن په توګه منلی دی.

و: تعمید اخیستل که څه هم ډیر ارزښت لري مګر یو اختیاري حکم دی.

# د تعمید د غسل ډولونه

## د یحیی تعمید

د اردن سیند په غاړه په یوې بیاباني سیمه کې یو نبي چې تعمید ورکوونکی یحیی نومیده، خلك د توبې دپاره رابللل: ”توبه وکړئ او د خپلو ګناهونو د بخښنې دپاره تعمید واخلئ“ (لوقا ۳: ۱- ۱۵). ډېرو خلکو چې په هغې کې مالیه اخیستونکي او عسکر هم شامل ؤواو د هغه بلنې ته یې مثبت ځواب ورکړ او تعمید یې واخیست. د یحیی تعمید د توبې د تعمید په نامه پېژندل کېده (اعمال ۱۹: ۴). یوه ورځ عیسی له یحیی څخه غوښتنه وکړه چې هغه ته هم تعمید ورکړي. یحیی له دې کار څخه ډډه وکړه ځکه هغه عیسی پېژانده. هغه د خدای زوی ؤ چې بې ګناه ؤ او توبې او تعمید ته یې اړتیا نه درلوده. مګر عیسی یحیی ته وویل چې د خپل تعمید د اخیستلو په وسیله هغه غواړي د شریعت احکام پهځای کړي او یحیی هم د هغه خبره ومنله (متي ۳: ۱۳- ۱۵).

”د تعمید نه پس عیسی د اوبو نه سمدستي راوختو او په هغه وخت آسمان ورته خلاص شو او د خدای روح یې ولیدو چې د کوترې په شان په هغه راکوزېده. اوګورئ، د آسمان نه دا آواز راغی چې: دا زما خوږ زوی دی چې په ما ګران دی او زه ترې رضا یم“ (متي ۳: ۱۶- ۱۷).

عیسی خپل ځان د ګناهکارانو سره یو وګاڼه ترڅو زمونږ د ټولو دپاره یو مثال وي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

4. لاندېنۍ جملې بشپړې کړې.

الف: د یحیی تعمید د .......... تعمید ؤ.

ب: عیسی په خپل تعمید کې ځان له.......... سره یو وګاڼه.

## په لومړنۍ کلیسا کې د تعمید رول

د یحیی تعمید یو ځانګړي مقصد درلود او هغه د مسیح د قبلولو دپاره د خلکو تیارول ؤو (متي ۳: ۱- ۶). د یحیی تعمید د توبې او د ګناه څخه د مخ اړونې یوه نښه وه. د مسیح د مړینې څخه پس تعمید ځانته یوه نوې معنی غوره کړه. اوس د مسیح د وینو په وسیله ګناهونه پاك شوي دي او ایمانداران په دې خاطر تعمید اخلي ترڅو د مسیح په کامل او ژغورونکي عمل کې سره شریك شي (اعمال ۲۲: ۱۶ او اول یوحنا ۱: ۷). د اوبو تعمید په خپل ذات کې هیڅ کله نشي کولای مونږ له ګناهونو څخه پاك کړي. یوائې د مسیح د تویې شوې وینې له لارې مونږ کولای شو چې د خپلو ګناهونو څخه ځانونه پاك کړو. هغه ستر ماموریت چې مسیح خپلو پیروانو ته ورکړ (متي ۱۸: ۲۰) هغه له دریوو برخو څخه جوړ شوی ؤ: لومړی، ټول قومونه زما شاګردان کړئ. دوهم، هغوی ته تعمید ورکړئ. دریم، هغوی ته تعلیم ورکړئ.

لومړنۍ کلیسا د مسیح د دې فرمان څخه د اطاعت په خاطر ایماندارانو ته تعمید ورکاوه. مونږ لولو چې د پنطیکاست په ورځ ۳۰۰۰ تنو تعمید واخیست (اعمال ۲: ۴۱).

زېرې ورکوونکي فیلیپس حبشي خواجه ته د هغه د ایمان راوړلو څخه پس تعمید ورکړ (اعمال ۸: ۳۶- ۳۸). حنانیا چې یو عادل سړی ؤ، پولوس ته چې وروسته بیا رسول شو تعمید ورکړ (اعمال ۹: ۱۸). کرنیلیوس چې یو ایتالوي سپه سالار ؤ، د خپلو نږدې دوستانو او د کورنۍ له غړو سره د روح القدس د نزول څخه وروسته د اوبو تعمید واخیست. اروپا ته د پولوس د لومړني سفر په ترځ کې لیدیا او د هغې کورنۍ تعمید واخیست (اعمال ۱۶: ۱۵).

وروسته بیا رومي زندان ساتونکي او د هغه کورنۍ تعمید واخیست (اعمال ۱۶: ۳۲- ۳۴). بیا په کورنتس کې کرسپس چې د یهودیانو د عبادتخانې مشر ؤ، د کورنتس د ډېرو اوسېدونکو سره یوځای تعمید واخیست (اعمال ۱۸: ۸). د دغو ټولو مثالونو څخه مونږ دا زده کوو چې د ګناه څخه مخ اړول (توبه) او په مسیح باندې د ژغورونکي په توګه ایمان راوړل د تعمید اساسي شرط ګڼل کېږي. همدا شان یادونه کوو چې د اوبو تعمید د توبې او یا په روح القدس کې د تعمید تجربې په څېر نه دی.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

5. د صحيح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ.

الف: د تعميد ورکوونکي يحيی تعميد او هغه تعميد چې نن ورځ يې اخلو، يوه معنی لري.

ب: لومړنۍ کليسا د مسيح څخه د اطاعت کولو په خاطر ايماندارانو ته تعميد ورکاوه.

ج: توبه، د اوبو تعميد او د روح القدس تعميد ټول يوه تجربه ده.

## په اوسني وخت کې د تعميد بېلابېل ډولونه

پنطيکاستي کليسا ګانې په دې باور دي چې په اوبو کې د ايماندار غوټه کول د نوې لوظنامې د تعليماتو سره سمون لري. په ځينو کليسا ګانو کې دغه رسم ته (امکان لري چې په ډېره پخوا زمانې د اوبو د نه استعمال په سبب) چې ايماندار په بشپړه توګه په اوبو کې ننباسي، بدلون ورکړ او د اوبو د شيندلو او يا د ايماندار په سر د اوبو د تويولو طريقه يې د هغې په ځای وکاروله. دا ډول تعميد نشي کولای چې د مسيح د مرګ، ښخېدو او بېرته پورته کېدو سمبول انځور کړي. خو هغه ډلې چې په دې باور دي چې ايماندار بايد د تعميد په وخت په اوبو کې ننوېستل شي، هغوی وايي چې دغه کار بايد د عيسی په نامه ترسره شي. د اعمال ۱۹: ۵ او ۲: ۳۸ په مطابق د دې ډول تعميد څخه په دې خاطر کار اخيستل کېده

چې د یحیی له تعمید څخه بېل شي. اکثره زیري ورکوونکو کلیسا ګانو د دې رسم د روښانه کولو دپاره کوم تفصیل نه دی ورکړی. ځکه چې د مسیح فرمان په دې اړه د هېڅ ډول کوم سوال ځای نه دی پرېښی. ”هغوی ته د پلار، زوی او روح القدس په نامه تعمید ورکړئ“ (متي ۲۸: ۱۹). یوه بله ډله درې ځله یو چا ته تعمید ورکوي.

یو ځل د پلار په نامه، دوهم ځل د زوی او دریم ځل د روح القدس په نامه. هغوی دغه کار د (تثلیث اقدس) د شخصیتونو څخه د درناوي په خاطر کوي. ولې مونږ هغه کوم اساس نه ګڼو. دا به ښه وي چې تعمید فقط یو ځل ترسره شي، ځکه چې د تثلیث درې واړه شخصیتونه یو دي. په دې رسم کې حتی د ماشومانو تعمید هم شاملېده. هغوی به یو څو څاڅکي اوبه د ماشوم په سر شیندلې ترڅو دا ډاډ حاصل کړي چې که چېرې ماشوم مړ کېږي نو هغه دې حتماً جنت ته لاړ شي. مګر یو ماشوم هېڅ کومه ګناه نه ده کړې او هغه په نیك او بد نه پوهېږي، نو له همدې کبله توبې ته اړتیا نه لري. ډېر ایمانداران د دې کار په ځای خپل ماشومان د خدای دپاره وقفوي چې دغه مطلب به په اتم لوست کې وڅېړل شي. که چېرې تاسو تر اوسه پورې د اوبو تعمید نه وي اخیستی، نو هیله من یو چې دغه لوست وکولی شي ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو هر هغه څه چې مقدس کتاب په دې اړه تعلیم ورکوي، درك کړئ. که چېرې تاسو د هغه له فرمان څخه چې د تعمید په هکله دی درناوی وکړئ نو د خدای برکتونه ستاسو په انتظار کې دي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

6. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ.

الف: د اوبو د شیندلو له لارې د ماشومانو ګناه ګانې پاکیږي.

ب: تعمید یوه خواشینوونکې تجربه ده ځکه چې مونږ ته زمونږ ګناهونه رایادوي.

ج: مذهبي دودونه او دستورونه تل د مقدس کتاب له تعلیماتو څخه پیروي نه کوي.

د: یو نفر د خلاصون د ترلاسه کولو په خاطر باید تعمید واخلي.

و: هر ایماندار باید د مسیح د هغه فرمان څخه چې د تعمید په اړه دی اطاعت وکړي.

7. لاندېنۍ جملې بشپړې کړئ

الف: عیسی دستور ورکړ چې د ........، .......... او ........ په نامه تعمید واخلئ.

ب: هغه تعمید چې د هغه په ترځ کې ایمانداران د یو څو شیبو دپاره د اوبو لاندې قرار نیسي .............. په نامه یادیږي.

ج: ولې پنطیکاستي کلیسا ګانې تعمید په اوبو کې د غوپه کولو له لارې ترسره کوي؟

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱) زمونږ دپاره مړ شو، ښخ کړای شو او بيرته ژوندی را پورته شو.

۵) الف) غلط

ب) درست

ج) غلط

۲) زمونږ زوړ طبيعت له منځه ځي او مونږ په مسيح کې يو نوی ژوندون پيل کوو.

۶) الف) غلط

ب) غلط

ج) درست

د) غلط ـ هغه څه چې عيسی د هغه نفر دپاره اظهار کړه چې د تعميد اخيستلو دپاره يې وخت نه درلود (لوقا ۲۳: ۴۲- ۴۳) ولولئ.

ه) درست

۳) الف) درست

ب) درست

ج) غلط

د) درست

ه) غلط

۷) الف) پلار، زوی او روح القدس

ب) په اوبو کې غوپه کول

ج) په دې خاطر چې هغوی عقیده لري چې دا کار د نوې لوظنامې د احکامو سره سمون لري.

۴) الف) توبه

ب) ګناهکار انسان

## ستاسو یادداشت

### شپږم لوست

## کلیسا ګانې د ښځینه مړینه مونږ ته را په یادوي

په ۱۷ پېړۍ کې د اسکاتلند په هېواد کې یوه زېري ورکوونکې ډله چې د ''لوظ کوونکو'' په نامه یادېده له سختې ځورونې سره مخامخ شوه او مجبوره شول چې خپلې غونډې په پټه جوړې کړي. یوه ورځ د غرمې ښځه وروسته یوه اسکاتلندۍ پیغله چې د ایماندارانوغونډې ته روانه وه، په لاره کې له غلو سره مخامخه شوه. هغوی په ډېر قهر سره د هغې ښځه پوښتنه وکړه چې چېرې ځې؟ هغې هم په ډېرې میړانې سره داسې ځواب ورکړ: ''زه د ماښام میلمستیا ته روانه یم ترڅو د خپل مشر ورور په اراده پوه شم او د هغې لوظ وپېژنم.'' د غلو مشر وویل: ''زما په خیال دا انجلۍ خطرناکه نه ښکاري.'' هغوی انجلۍ ته اجازه ورکړه چې لاړه شي او هغه هم په خوشالۍ سره د غونډې خواته روانه شوه ترڅو د خدای په غوره ماښام کې ګډون وکړي.

د ماښام ښځه د هغې مقصد عشاء رباني یا د خدای غوره ماښام او د مشر ورور ښځه د هغې مقصد مسیح او د هغه د لوظ او ارادې ښځه د هغې مقصد نوې لوظنامه وه چې د هغې تر ټولو اهمه موضوع په صلیب باندې د مسیح مرګ ؤ.

## هغه څه چې په دې لوست کې به يې ولولئ

- د څښتن غوره ماښام يو سمبول دی
- ډوډۍ او پياله
- د څښتن په غوره ماښام کې د ګډون کولو بېلابېل مقصدونه او طريقې

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- دا توضيح کړئ چې ډوډۍ او شراب د کومو مفاهيمو سمبولونه دي.
- د څښتن د غوره ماښام په اهميت او مقصد باندې پوه شئ
- په دغو مقدسو مراسمو کې په شکرګذارۍ او درك سره ګډون وکړئ

## د څښتن غوره ماښام يو سمبول دی

مري او ډېرو نورو ايماندارانو په دې وروستيو کې د تعميد غسل واخيست او هغوی د لومړي ځل دپاره د څښتن د غوره ماښام په غونډه کې برخه اخلي. هغه او تيموتي خوشاله او احساساتي دي. مري پخوا په دې سپېڅلو مراسمو کې د برخه اخيستنې د مفهوم په هکله تعليم حاصل کړی دی. هغه د ستاينې په سندرې سره په دې غونډه کې ګډون کوي. کله چې د کليسا کشيش په دې باره کښې د مسيح کلام بيانوي: "دا زما بدن دی چې ستاسو دپاره درکول کېږي" (لوقا ۲۲: ۱۹) د مري

له سترګو څخه اوښکې روانېږي. اوس هغه د دې مراسمو د مانا په پوهيدلو سره د خدای عبادت په ډېره ښه توګه ترسره کوي او د دې مراسمو په جوړولو سره هغه خپل خدای په خپل زړه کې ستايي. وروسته بيا کشيش د خدای د کلام دغه برخه لولي: "دا پياله زما په هغه وينه چې ستاسو دپاره تويول کېږي، نوی لوظ دی" (لوقا ۲۲: ۲۰).

ايمانداران په درناوۍ سره په دغو مراسمو کې برخه اخلي. دا څومره يو عجيبه حقيقت دی چې خدای د نړۍ د ګناهونو دپاره خپل ځان قربانوي. مري د خدای حضور ډېر زيات احساسوي او د خدای د روح ترېې ده او تيموتاوس ته وايي چې مونږ د روح القدس تعميد ته اړتيا لرو. تيموتي هم د هغې خبره د خپل سر په خوړولو سره تائيدوي. د فرانسې د هېواد د پاريس په ښار کې يوه ستره او زبردسته ودانۍ شته چې د "نصرت تاق" په نامه يادېږي. د هغې لاندې د هغو عسکرو قبرونه پراته دي چې ګمنامه دي او د جګړو په ترڅ کې يې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. هره ورځ مازيګر يوه وطنپرسته ډله د هغوی د يادګېرنې په خاطر يوه ډيوه د هغوی د قبرونو په سر بلوي او په دې ډول د هغو خلکو ياد ژوندی ساتي او د هغوی قدرداني کوي چې په سرښندنې سره يې د خپل وطن ساتنه کړې ده او قربانۍ يې ورکړې دي.

ايمانداران هم يو يادګار لري چې هغه د خدای غوره ماښام دی چې د عشاء رباني په نامه هم يادېږي. دغه يادګار مونږ ته د مسيح هغه درد او سرښندنه را په يادوي چې زمونږ د خلاصون

دپاره یې کړې ده. هغه ډوډۍ چې مونږ یې ماتوو او هغه پیاله چې مونږ یې پورته کوو، د مسیح د صلیب شوي بدن او تویې شوې وینې سمبول دی چې د بشریت د خلاصون دپاره ترسره شوی دی. مونږ په دغې ډوډۍ او پیالې کې برخه اخلو ترڅو د مسیح دغه ستره قربانۍ را یاده کړو او هغه هېره نکړو (اول کورنتیان ۵: ۷). د خدای د غوره ماښام په مراسمو کې ګډون د مسیح د مرګ او کړاوونو نښه او سمبول دی. په دغې یادګیرنې کې مونږ نه یواځې باید د هغه د کړاوونو سره خپله خواخوږي وښایو، بلکه باید د هغه بری او تکمیل شوی کار هم د خپل ژوند دپاره قبول کړو.

د مسیح مرګ هسې خوشې او بې ځایه نه ؤ. هغه هغه ماموریت په پوره بریالیتوب سره ترسره کړ چې پلار خدای ورته سپارلی ؤ او هر هغه څوك چې په هغه ایمان راوړي په خدای پورې تعلق نیسي او د هغه کېږي. باید په یاد ولرو چې د خدای ماښام یواځې د مراسمو لمانځل نه دي بلکه دا هغه یادګیرنه ده چې مونږ ته وایي چې: ”مسیح یو ځل او هغه هم د ټولو دپاره څرګند شو ترڅو د خپل ځان د قرباني کولو په توګه ګناه لیرې کړي“ (عبرانیان ۹: ۲۶).

د خدای ماښام هغه قربانګاه نه ده چې مسیح یو وار بیا په هغې باندې مصلوب شي. کله چې مونږ د ښښتن په مرګ باندې فکر کوو، نو مونږ وینو د هغه قرباني کامله او بې عیبه ده.

”نو هر کله چې تاسو دا ډوډۍ خورئ او دا پیاله څښئ نو د مالك د مرګ اظهار کوئ ...“ (اول کورنتیان ۱۱: ۲۶).

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

1. د لاندنيو عبارتونو څخه کوم يو کولای شي دغه جمله بشپړه کړي؟ د خدای په غوره ماښام کې ګډون مهم دي ځکه:

الف: مونږ د عيسي او د هغه د قربانۍ رايادوي چې زمونږ د خلاصون دپاره يې ترسره کړې ده.

ب: مونږ په ګناه باندې د مسيح د بريالیتوب په ياد کې اچوي.

ج: زمونږ سره مرسته کوي ترڅو دا په ياد ولرو چې مسيح تر اوسه هم په ټولو شيانو واك لري.

د: دا يو ښکلی او په زړه پورې دود او دستور دی.

2. د صحيح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ.

الف: د خدای غوره ماښام يوائې د يو رسم او رواج لمانځنه ده.

ب: د مسيح مرګ مونږ ته يوه نوې لوظنامه معرفي کوي او هغه دا ده چې مونږ په ايمان سره خلاصون مومو.

ج: د خدای په غوره ماښام کې ګډون هغه تل پاتې رسم دی چې د هغه تر بېرته راتګه پورې به دوام مومي.

د: ټول بايد د خدای په غوره ماښام کې برخه واخلي، حتی که د هغې مانا يې هم نه وي درك کړې.

خپل ځوابونه مقايسه کړئ

## ډوډۍ او پياله

### ډوډۍ

د فسحې په ماښام کې چې عيسی د خپلو شاګردانو سره ډوډۍ خوړله، يوه ډوډۍ يې واخيسته او هغه يې ماته کړه او د شکر ادا کولو څخه وروسته يې هغه د هغوی په منځ کې وويشله او ويې ويل: ''دا زما بدن دی چې ستاسو دپاره ورکول کېږي. زما د يادګار د پاره همدغسې کوئ'' (لوقا ۲۲: ۱۹). له دې مخکې هغه د خپل ځان په اړه د ''ژوندون د ډوډۍ'' په توګه خبرې کړې وې (يوحنا ۶: ۳۲ او ۳۵). هغه هغه ډوډۍ وه چې د آسمان څخه نازله شوې وه ترڅو نړۍ ته ژوندون وبخښي. ''زه د ژوندون ډوډۍ يم چې د آسمان څخه راکوزه شوې ده او څوك چې دا ډوډۍ وخوري هغه به تل ژوندی وي. کومه ډوډۍ چې زه ورکوم هغه زما بدن دی او زه يې د دنيا د ژوندون د پاره ورکوم'' (يوحنا ۶: ۵۱).

د يوحنا د انجيل په ۶: ۲۵- ۲۸ کې د دې کار روحاني مفهوم تشريح شوی دی. ځيني اورېدونکو به داسې ګومان کاوه چې هغه د خپل فزيکي جسم په اړه خبرې کوي او په دې اړه يې سخت بحثونه درلودل. که چېرې مونږ په دې ډول دا تفسير کړو نو په دې هکله چې مسيح وويل: ''زه د ګډو د شپول دروازه يم'' (يوحنا ۱۰: ۷) څه وايو. نو څرګنده ده چې مونږ نشو کولای دغه آيت په تحت اللفظي توګه معنی کړو. دلته د دروازې څخه مقصد د هغه کار او هغه په خپله دی. د

یوې دروازې څرګند خصوصیات لکه ساتنه، قدرت او بیلول د مسیح د شخصیت او خدمت ښکارندوی دي. کله چې مونږ د ډوډۍ د یوې ټوټې سره د خدای په غوره ماښام کې برخه اخلو، د ایمان په وسیله د مسیح له ژوند څخه برخمن کېږو. لکه څنګه چې ډوډۍ زمونږ بدن ته قوت ورکوي، د مسیح ژوند هم زمونږ روحاني ژوندون تقویه کوي.

## پیاله

له ډوډۍ څخه وروسته عیسی پیاله پورته کړه او ویې ویل: "دا پیاله زما په وینه کې نوی لوظ دی. هر کله چې هغه څښئ نو زما په یادګارۍ کې یې دغسې کوئ" (اول کورنتیان ۱۱: ۲۵).

د تاك میوه شراب دي چې د مسیح د وینې سمبول او د هغې نوې لوظنامې سمبول دی چې د هغه د وینې په واسطه شوی دی (لوقا ۲۲: ۲۰). مسیح وروسته له دې چې د ماښام ناری یې وخوړ او له خپلو شاګردانو سره یې خبرې اترې وکړې، د زیتون د غره طرف ته روان شو او هلته په یوه ځای کې چې جتسیماني نومېده په ګونډو شو او دعا یې وکړه: "ای پلاره که دا چېرې ستا رضا وي نو دا پیاله زما څخه لېرې کړه خو زما رضا نه ستا رضا دې پوره شي" (لوقا ۲۲: ۴۲). هغه پیاله چې د هغې څښل مسیح ته ګران ؤ، هغه د نړۍ د ګناهونو سمبول دی. د هغې بار او سختي د جسمي درد او کړاو څخه ډېر وحشتناکه ؤ. د هغه غم دومره لوی ؤ چې خولې یې لکه د وینې د څاڅکي په شان په ځمکه بهېدلې. د کړاو او ګناه هغه پیاله چې مسیح

وڅښنله، هغه زمونږ دپاره د خلاصون پياله شوه. مونږ ته په کار دي چې هميشه په منني او قدر دانۍ سره له هغه څخه چې زمونږ سره يې مينه وکړه او خپل ځان يې زمونږ دپاره قربان کړ، شکر ګذاره اوسو (غلاطيان ۲: ۲۰).

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

3. دغه لاندينۍ جملې بشپړې کړئ:

عيسی ډوډۍ ماته کړه او ويې ويل: "دا زما ........ دی چې ستاسو دپاره ورکول کېږي" او وروسته بيا هغه پياله پورته کړه او ويې ويل: "دا زما ............. ده چې ستاسو دپاره توېږي"

4. د دې ټکي په نظر کښې نيولو سره چې پياله دوه معنا ګانې لري، د صحيح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ.

الف: نوی لوظ د مسيح په وينو چوړېږي

ب: مسيح زمونږ دپاره درد او کړاو وګاله

ج: که چېرې مونږ د خدای په غوره مانښام کې ګډون وکړو زمونږ ګناهونه بخښل کېږي.

5. د کيڼ خوا د ستون کلمات د ښي طرف له عبارتونو سره تطبيق کړئ

| | |
|---|---|
| الف: ساتونکی او مدافع | ۱) ډوډۍ |
| ب: رهبري کوي | ۲) تاك |
| ج: تياره لېرې کوي | ۳) نور |

د: ساتنه کوي
و: تنده ماتوي
ه: قرباني کېږي
ز: روحاني ژوند بخښي

۴) ګډه
۵) اوبه
۶) کشیش
۷) ور (دروازه)

## د ښتن په غوره ماښام کې د ګډون کولو بېلابېل مقصدونه او طریقې

بیلابیلې کلیسا ګانې ټول په درناوي سره د خدای په غوره ماښام کې ګډون کوي. ځیني له هغې ډوډۍ څخه استفاده کوي چې خمیر مایه په کښې نه وي (فطیره ډوډۍ)، لکه د هغې ډوډۍ په شان چې د فسح په اختر کې خوړل کېږي (مرقس ۱۴: ۱). ځیني نور دا غوره ګڼي چې د یوې پوره ډوډۍ څخه استفاده وکړي چې د کشیش له خوا د غونډې په جریان کې ماتیږي. په لویو کلیسا ګانو کې د ډوډۍ د هغو کوچنیو ټوټو څخه استفاده کېږي چې د برخه والو د شمیر په اندازه برابرېږي. په ځینو کلیساګانو کې له یوې او یا دوو لویو پیالو څخه استفاده کېږي چې د غړو ترمنځ لاس په لاس ګرځول کېږي او ورسته له دې چې هر څا له هغو څخه استفاده وکړه، د یوې پاك ټوکر په وسیله پیاله پاکیږي. ځینې نورې کلیسا ګانې له کوچنیو پیالو څخه کار اخلي چې د هر نفر په سر ویشل کېږي. د پیالې شیان یا د انګورو اوبه یا شراب او یا هم د شرابو او اوبو یوه ګډوله

وي. په ځینو هېوادونو کې چې د انګورو اوبه نه پیدا کېږي، د نورو میوو له اوبو څخه هم کار اخیستل کېدای شي. ځینې کلیسا ګانې هره یکشنبه سهار وختي د خدای غوره ماښام د یو سهارني عبادت په توګه لمانځي. نورې کلیسا ګانې د هرې میاشتې لومړۍ یکشنبه د دې کار د پاره بېلوي.

هغه کلیسا ګانې چې په لېرو سیمو کې پرتې دي، له دې کبله چې پوره خادمین نه لري نو په میاشت کې یوځل دغه مراسم لمانځي. مقدس کتاب وايي: "هر وخت او هره موقعه". نو له دې کبله د دې رسم لمانځل د کلیسا په تصمیم پورې اړه لري چې کوم وخت د هغې له پاره مناسب ګڼي. که څه هم ځینې کلیسا ګانې د ماښام په مراسمو کې د ګډون حق یوازې خپلو رسمي غړو ته ځانګړې کوي، لیکن ډېرې پنطیکاستي کلیسا ګانې د خدای غوره ماښام په آزاده توګه لمانځي، په دې ډول چې ټول هغه کسان دعوت کېږي کوم چې نوی ژوندون یې حاصل کړی دی ترڅو د څښتن په غوره ماښام کې برخه واخلي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

6. ستاسو په کلیسا کې دغه رسم څرنګه لمانځل کېږي؟ د پورتنیو شیانو څخه کوم یو په کې رعایت کېږي؟

## د هغې مقصدونه

که څه هم د خدای د غوره ماښام د مراسمو لمانځنه په بیلابیلو کلیساګانو کې سره فرق لري، مګر سره د دې هم د ټولو مقصدونه سره یو دي او هغه عبارت دي له:

۱) د هغه څه یادونه چې مسیح ترسره کړې دي، د عبادت، شکر ګزارۍ او درناوۍ سره. د خدای روح د مسیح کړاوونه، مرګ، بیا پورته کېدل (قیام) او آسمان ته ختل مونږ ته با مانا او ریښتني کوي.

۲) ایمانداران د مسیح سره د مشارکت او همدا شان د نورو سره د محبت له لارې یووالی پیدا کوي. یوحنا دا د مینې او محبت رسول لیکي: "خو که مونږ په رڼا کې ګرځو لکه څنګه چې هغه په خپله په رڼا کې دی نو بیا مونږ په خپلو کې شراکت لرو او د هغه د زوی عیسی وینه مونږ د هر یوه ګناه نه پاکوي" (اول یوحنا ۱: ۷).

۳) ایمانداران باید هغه جلال څخه ډك هغه امید هېر نکړي چې مسیح یې د خپلې پاچاهۍ په وخت برقراره کوي. د غوره ماښام په وخت مسیح وویل: "زه تاسو ته دا وایم چې زه به بیا تر هغې د انګورو اوبه ونه څښم ترڅو چې د خپل پلار په پاچاهۍ کې تاسو سره تازه ونه څښم" (متي ۲۶: ۲۹). پولوس مونږ ته دا نصیحت کوي چې په دغه رسم کې: "... د څښتن د مرګ اظهار کوئ تر هغې پورې چې هغه نه وي راغلی" (اول کورنتیان ۱۱: ۲۶).

۴) شفا او غښتلتوب. د خدای کلام فرمايي: ”نو سړی دې اول خپل ځان و آزمايي نو بيا دې د هغې ډوډۍ څخه وخوري او د هغه پيالې څخه وڅښي“ (اول کورنتيان ۱۱: ۲۸). بايد د عاجزۍ په روح سره او په هغه باندې په توکل سره او په دې حقيقت باندې په ايمان لرلو سره چې د مسيح ژوند زمونږ د قوت او حتی زمونږ د بدن د شفا سبب ګرځي، له هغې ډوډۍ او پيالې څخه ګټه واخلو. خپلې وروستۍ خبرې په يوه داستان سره ختموو: ”اوما“ چې يوه ساده چينايي ميرمن وه د خلاصون زېری اوري او ايمان راوړي. وروسته بيا هغه په خپله د نورو د خدمت دپاره د مسيح خادمه جوړېږي. يوه ورځ د خدای د غوره ماښام په مراسمو کې د ګډون په وخت کښې د خدای روح هغې ته لارښوونه کوي چې يوې جذام وهلې مېرمن ته چې په يوه غره کې په ډېر بد حالت کې اوسېږي لږه ډوډۍ او څه شربت يوسي. هغې د مينې او ايمان څخه په ډک زړه دغه کار ترسره کړ او هغه ښځه روغه شوه.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

7. د صحيح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ.

الف: د خدای غوره ماښام د ټولو دپاره په دې مانا دی چې يوازې د کليسا غړي کولای شي په ډوډۍ او پيالې کې سره شريک شي.

ب: د خدای غوره ماښام يوازې د يادګيرنې يو رواج دی.

ج: مقدس کتاب مونږ ته دا نه وايي چې په کومو وختونو کې دې باید د خدای غوره ماښام ولمانځل شي.

د: د خدای د غوره ماښام طریقه فرق لري مګر مقصدونه یې سره یو دي.

8. د لاندنیو عبارتونو څخه کوم یو د خدای په غوره ماښام کې د ګډون مقصدونه بیانوي.

الف: ترڅو د مسیح دوهم راتګ مونږ ته رایاد کړي .

ب: زمونږ د ګناهونو په خاطر د ښبنتن مرګ، مونږ ته را په یاد کړي.

ج: ترڅو مونږ په ښکلیو مراسمو سره هغه ولمانځو

د: ترڅو شفا ترلاسه کړو

و: ترڅو ایمانداران په محبت کې سره یو شي.

9. د خدای په غوره ماښام کې ګډون ستاسو دپاره څه مانا لري.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱) الف)، ب) او ج)

۶) ستاسو خپل ځواب

۲) الف) غلط

ب) درست

ج) درست

د) غلط

۷) الف) غلط

ب) غلط

ج) درست

د) درست

۳) بدن، وینه

۸) الف)، ب)، د) او ه)

۹) ستاسو ځواب، هیله مند کېدل او تازه هڅونه او تشویق او د هغه څه درک کول چې خدای کړي دي.

۵) الف) دروازه

ب) کشیش

ج) نور

د) تاك

ه) اوبه

و) وری

ز) ډوډۍ

## اووم لوست

# کلیسا ګانې د مشارکت ځایونه دي

د یکشنبې د غونډې له پیل څخه یو څو شیبې مخکې پنځه تنه چې نوې د کلیسا غړیتوب یې ترلاسه کړی ؤ، د کلیسا د کشیش او د هغه د مرستیالانو په مخکې ولاړ ؤو. له هغو څخه یو تن یو چینایي سوداګر ؤ او بل یې یوه انجلۍ وه چې د یوه خان په کور کې نوکره وه. نور یې یو بوډا ، یو نوی ځوان هلك او یوه میرمن وه. د کلیسا کشیش سره د هغو ټولو تفاوتونو چې د بیلابیلو اړخونو له پلوه یې په هغوی کې لیدل دا په ډاګه کړه چې هغوی پس له دې د کلیسا غړي دي او په مشارکتونو کې به فعاله ونډه اخلي. که څه هم هغوی د نژاد، سن او ټولنیز موقعیت له پلوه یو شان نه دي مګر دوی ټول په مسیح کې د یوشان خلاصون څخه برخمن دي او د ایماندارانو سره د مشارکت له پاره بلل شوي دي.

لکه څنګه چې پولوس رسول ویلي دي: ''نه خو څوك اوس په تاسو کې یهودي دی او نه غیر یهودي، نه څوك غلام دی او نه آزاد ، نه څوك سړی دی او نه ښځه، ځکه چې تاسو ټول د مسیح عیسی په یووالي کې یو یئ'' (غلاطیان ۳: ۲۸). نن ورځ مونږ دغه حقیقت په کلیسا ګانو کې د سر په سترګو ګورو. خدای مونږ ته د مشارکت لرلو حکم کړی دی ځکه چې

دغه کار زمونږ د قوت، خوشحالۍ او غښتلتیا سبب ګرځي. دغه حکم د کلیسا یو د ډېرو مهمو وظیفو څخه شمېرل کېږي. څومره چې مسیح ته نږدې شو په هماغه اندازه زمونږ مشارکت له یو بل سره ډېرېږي.

## هغه څه چې په دې لوست کې به يې ولولئ

- په سیمه ایزو کلیساګانو کې مشارکت
- د نورو کلیسا ګانو سره مشارکت

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- دا توضیح کړئ چې ولې له نورو ایماندارانو او نورو کلیساګانو سره مشارکت ضروري دی.
- له نورو ایماندارانو سره د مشارکت کولو له فرصتونو څخه ګټه واخلئ

## په سیمه ایزو کلیساګانو کې مشارکت

### د مشارکت دلیلونه

په هغو خاصو غونډو کې چې مري او تیموتي ګډون کړی ؤ، یوه خاصه پېښه را منځ ته شوه او هغه دا چې هغو دواړو د روح القدس تعمید حاصل کړ. وروسته له دې هغوی دواړه د انجیل د زېري ورکولو دپاره لیواله شول. د مري مور او پلار چې د دې څخه مخکې یې له انجیل سره دلچسپي نه لرله، د هغه بدلون

تر کلکې اغېزې لاندې راغلل چې په مرې کې پیدا شوی ؤ. هغوی چې تر اوسه پورې کلیسا ته نه وو راغلي، د کلیسا هغه بلنه یې ومنله چې په پارك کې د تفریح او چکر دپاره له هغوی څخه شوې وه. هغوی هلته ډول ډول خواړه وخوړل او راز راز لوبې یې وکړې. ټولو ایماندارانو به د مرې د مور او پلار سره مینه کوله او د مرې کوچني ورور په خوشالۍ سره په لوبو کې ګډون کاوه او کله چې هغه واورېده چې نور خلک د یکشنبې د ښوونځي په باره کښې خبرې کوي، هغه تصمیم ونیوه چې په دغو درسونو کې ګډون وکړي. وروسته له هغې د مرې مور او پلار هم په غونډو کې برخه واخیستله او درې واړو توبه وویستله. لومړی د مسیحیانو مشارکت هغوی جذب کړل ترڅو د انجیل ژغورونکي پیغام ته غوږ ونیسي. لومړنۍ کلیسا د ایماندارانو هغه اړتیا رفع کوله چې د مشارکت له پاره یې درلودله. د پنطیکاست په ورځ، د پطروس له موعظې څخه وروسته د ۳۰۰۰ تنو په شاوخوا کې خلکو تعمید واخیست او د کلیسا سره یوځای شول.

"هغوی به د رسولانو تعلیم اورېدلو ، د شریك ژوندون، په یوځای د ډوډۍ ماتولو او دعا له پاره راغونډېدل" (اعمال ۲: ۴۲).

اوس په لومړنۍ کلیسا کې د مشارکت ځانګړتیاوې په ترتیب سره څېړو:

۱) ایمانداران د رسولانو د تعلیم د اورېدو دپاره وخت درلود. د دې لوی شمیر ایماندارانو د تعلیم دپاره د هغو ټولګیو څخه کار اخیستل کېده چې په اوسنیو کلیسا ګانو کې

ورڅخه کار اخیستل کېږي. ځکه هغوی ته سخته وه چې داسې یو لوی جمیعت ته په انفرادي توګه تعلیم ورکړي. اوسنۍ کلیساګانې هم باید د مشارکت په کار کې د لومړنیو کلیسا ګانو په څېر وي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. که چېرې محلي کلیسا یوائځې د تعلیم او دعا په کار کې سره بوخت شي، نو بل کوم فعالیتونه یې له هېره ایستلي دي؟

## د مشارکت ډولونه

مونږ ولیدل چې په کلیسا کې د یوبل سره په ګډه کار کول ډېر لوړ اهمیت لري. اوس مونږ ځینې هغه غونډې درپېژنو چې په هغو کې زمونږ د مشارکت کولو اړتیا پوره کېږي. د کلیسا ښځینه غړي اکثراً د مشارکت، دعا او نورو سره د مرستې کولو غونډې لري. هغوی د کلیسا د اړتیاوو او د زیري ورکولو د خدمتونو په فکر کې وي او په هغه چارو او خدمتونو کې سره بوختې وي لکه د اړوندو کورنیو دپاره د کالیو برابرول، د یکشنبه یي کورسونو د کوټو ښکلا، او د بې کسه خلکو سره لیدنه کتنه. دغه سوغاتونه د هغو پیسو څخه برابرېږي چې د خپلو خرڅونو څخه یې سپما کړې دي.

که څه هم دغه سوغاتونه به کم وي ولې د هغو نتایج ډېر د ارزښت وړ دي. هغوی ډېر خوشاله دي چې د نورو د اړتیاوو په رفع

کولو کې زيار باسي. نارينه هم د دې په ترځ کې چې د دعا غونډې لري د مسيحي کتابونو د برابرولو دپاره او يا هم د نورو خيريه کارونو دپاره پيسې ټولوي او د خپلې کليسا او يا د نورو کليسا ګانو په جوړولو کې مرسته کوي. هغوی هم د زړې ورکولو کار له هيره نه باسي. انجونې او هلکان په خپلو ځانګړو مراسمو کې برخه اخلي او ځوان او وقف شوي ايمانداران هغوی ته مختلف مهارتونه زده کوي لکه: آشپزي، خياطي، لاسي کارونه د انجونو دپاره، د هلکانو دپاره د لرګيو سره کارکول او نقاشي، محتاجو خلکو ته د ببرنيو او لومړنيو مرستو رسوونه او داسې نور.

دغه ټولې زده کړې د مسيحي اصولو او لارښوونو په رڼا کښې ترسره کېږي. کله چې هغوی اوزګار وي او يا د تفريح په حالت کې وي نو هغوی د ژوند دپاره مقصدونه ورکول کېږي او د مقدس کتاب څخه د خدای کلام له ياده زده کوي. هغوی د وخت په تېرېدو سره په با تجربه خلکو بدلېږي او په مينې او محبت سره د خدای خدمت کوي. ځوانان هم خپلو ځانګړو ټګ لارو ته اړتيا لري او که چېرې هغوی ته با ارزښته مقصدونه ورکړای شي د خپلې کليسا او خپل ګېرچاپېره چاپيريال دپاره به ډېر ګټور خلک وي. هغوی د کليسا د کشيش تر لارښوونې لاندې خپلې غونډې اداره کوي.

ځينې لويې کليساګانې بغير له خپل کشيش څخه د يوه بل ځوان کشيش څخه هم استفاده کوي. د ځوانانو دپاره بايد ګټورې خپرونې او تعليمات په پام کې ونيول شي چې د عملي کېدنې وړ وي ترڅو د دنيوي وسوسو او له ګناه څخه ډکو

شیطاني ښکلاوو تر اغېزې لاندې رانشي او هغو ته تسلیم نشي. د هغو خلکو اړتیاوې هم باید د کلیسا له خوا له پامه ونه غورځول شي چې د لوړ عمر خاوندان دي. نن ورځ یوائینۍ ستونزه چې زاړه او سپین ږیري یې لري هغه یوائیتوب دی. هغوی داسې فکر کوي چې ګنې له هېره ایستل شوي دي.

کلیسا ګانې د داسې خلکو د خدمت په خاطر هغوی د متقاعدینو کورونو یا شخصي کورنیو ته معرفي کوي او یا ورته یو مخصوص ځای جوړوي او د خدای په شان په هغوی باندې پام کوي او د هغوی خالي ساعتونه ډکوي. په کلیسا کې د دې ډول ادارو موجودیت کولای شي چې ډېرو اړتیاوو ته ځواب ورکړي. کله کله د خاصو دلایلو په سبب لکه رخصتي ګانې، ایمانداران سره یوځای کېږي او میلې جوړوي. چې دا کار د ټولو د خوښې کار دی. ځینې کلیسا ګانې په دې اړه له ځانګړو امکاناتو څخه برخمنې دي چې کېدای شي دا ډول مشارکتونه هلته جوړ شي. کېدای شي چې تاسو د مشارکت دپاره له نورو طریقو او لارو چارو سره بلد اوسئ. کله کله پرته له دې چې مونږ له مخکې څخه تیاری ولرو او په داسې شرایطو کې چې د هغې طمع هم نه لرو د خدای په مهربانۍ سره مونږ د نورو ایماندارانو کوربه کېږو. که څه هم د کلیسا اصلي مقصد عبادت کول دي مګر مشارکت په کلیسا کې د تعادل یا انډول د ساتنې سبب ګرځي. عبادت خدای ته زمونږ د لاسونو پورته کول دي او مشارکت د یو بل څخه لاس نیوی دی.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

2. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ

الف: لومړنۍ کلیسا خپل ټول وخت د مطالعې او دعا له پاره وقف کړی ؤ.

ب: ماشومان د خوشالۍ او لوبو ترڅنګ کولای شي چې په کلیسایي فعالیتونو کې هم برخه واخلي.

ج: ځوانان باید په کلیسایي په زړه پورې فعالیتونو کې سره بوخت شي ترڅو د دنیا د وسوسو په مقابل کښې مقاومت ولري.

د: د نورو ایماندارانو سره مشارکت کولای شي چې د مسیحي ژوندون انډول او یا تعادل برقراره وساتي.

3. لاندیني کوم الفاظ د مشارکت بنسټ جوړوي؟

الف: مطالعه

ب: اداره

ج: میله

د: له یو بل سره اوسېدل

و: اړتیاوې

4. د کلیسا کوم فعالیتونه او یا ادارې ډېرې خوښوئ؟

که چېرې تر اوسه پورې مو د نورو ایماندارانو سره په مشارکت کې برخه نه وي اخیستې، د داسې یوې لارې په لټه کې شئ چې وکولی شئ دغه کار ترسره کړئ. که چېرې ستاسو کلیسا تراوسه پورې داسې فرصتونه تاسو ته برابر کړي نه وي له هغوی څخه وغواړئ چې د هغو په پوره کولو کې ګام پورته کړي.

## له نورو کلیساګانو سره مشارکت

له نورو کلیسا ګانو سره مشارکت زمونږ د دید ساحه پراخه کوي او د دې سبب ګرځي چې هره کلیسا داسې فکر وکړي چې هغه په مسیح کې د هغه د بدن یوه ټوټه او یوه برخه ده. دا ډول مشارکت  برسېره پر دې چې زمونږ دوستان زیاتوي، یوه رغوونکې تجربه هم ده. دا ډول مشارکتونه کېدای شي چې په میاشت کې یوځل او هر ځل په بیلابیلو کلیساګانو کې جوړ شي. په دې ډول مشارکتونو کې کېدای شي چې د کلام موعظه، روحاني سندرې، د دعاګانو د قبلېدو په اړه شهادت ورکول او په شریکه سره ډوډۍ خوړل شامل وي. دا ډول مشارکتونه کېدای شي چې د یوه خاص سن او یا خاص قشر پورې تړلې وي. د یوې کلیسا ځوانان د بلې کلیسا له ځوانانو سره، د یوې کلیسا ښځې د بلې کلیسا له ښځو سره او نارینه له نارینه وو سره، ګډې غونډې جوړې کړي. د مثال په توګه ځوانان له هغو غونډو څخه خوند وړي چې ځوانان رهبران د هغو لارښوونه وکړي. د مقدس کتاب مسابقې او یا د آیاتونو په یاده یادول او یا د موسیقۍ په اړه د کلیسا ګانو ترمنځ

مسابقه، کولای شي خلك د کليسا طرف ته راجلب کړي. د رخصتۍ په وخت کښې په يوه خاص ځای کې سره راټولېدل او خپل زيات وخت روحاني کارونو ته وقفول، د هغوی د روحاني ودې او تازه توب سبب ګرځي. ډېرو ايماندارانو په همداسې محفلونو کې د روح القدس تعميد ترلاسه کړی دی. د ګاونډيو کليسا ګانو ترمنځ د زيري ورکولو هم غړي خدمتونه او هغه غونډې چې هلته د موسيقۍ ګروپونو او ويناوالو ته بلنه ورکول کېږي، په خلکو باندې ډېره لويه اغېزه لري. د کليسا ګانو تر منځ مشارکت د دې سبب ګرځي چې د نويو ايماندارانو د ديد ساحه پراخه شي.

سيمه ايزې کليسا ګانې هغو خلکو ته اړتيا لري چې د خپلې کليسا د ديوالونو څخه اخوا د هغه بدنونو کروندې ته نظر کوي چې د لو يا حاصل ټولولو له پاره تيار دي. له نورو کليسا ګانو سره همکاري دغه حقيقت مونږ ته په داګه کوي چې ټول ايمانداران د مسيح په بدن کې شامل دي او د هغې غړي دي. لکه څنګه چې ايمانداران يو له بل سره مشارکت ته اړتيا لري، هغه کليسا ګانې چې د روح څخه ډکو ايماندارانو د ټولنې څخه جوړې شوې دي، هم همدغه اړتيا احساسوي.

له يو بل سره د کليسا ګانو مشارکت نړۍ ته دا ښيئ چې د مسيح محبت او په روح القدس کې شراکت له نژادي توپيرونو څخه قوي او غښتلي دي. عيسی وويل: ''که تاسو د يو بل سره مينه کوئ نو بيا به ټول په دې پوه شي چې تاسو زما مريدان يئ'' (يوحنا ۱۳: ۳۵).

که څه هم ځینې کلیسا ګانې دا غوره ګڼي چې په بشپړه توګه مستقلې پاتې شي، چې د هغو څخه اکثره یې په یوې ډلې پورې تړلي دي. مګر بیا هم دا امکان وجود لري چې د خپلې خپلواکۍ د ساتلو سره سره، له نورو کلیسا ګانو سره مشارکت او همکاري ولرو. ډېرې پنطیکاستي کلیسا ګانې همداسې دي. دا ډول مرسته او همکاري کولای شي چې د خدای د کار د ترسره کولو دپاره په کلیسا ګانو کې اتحاد او یووالی منځ ته راولي. د دې ډول همکاریو له لارې مونږ کولای شو چې ډېر خدمتونه ترسره کړو. لکه د مسیحي ادبیاتو چاپ او خپرونې، د رادیویي خپرونو جوړښت، د زیري ورکوونکو استول او د بشارتي لویو غونډو جوړل.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

5. د ښي خوا عبارتونه د چپ اړخ له کلمو سره تطبیق کړئ.

| | |
|---|---|
| الف: د یوې کلیسا د ځوانانو مشارکت د بلې کلیسا له ځوانانو سره | ۱) مشارکتي غونډې |
| ب: له نورو ایماندارانو سره د دعا او استراحت | ۲) د یوې ځانګړې عمري ډلې دپاره غونډه |
| ج: دپاره د کافي وخت درلودل | ۳) د مقدس کتاب مسابقه |
| د: د خدای د کلام د مطالعې دپاره د نورو هڅول | ۴) اردو یا کمپ |
| | ۵) بین الکلیسایي بشارتي خدمتونه |

و: له نورو کلیسا ګانو سره مشارکت

ه: د بشارتي خدمتونو له پاره له نورو کلیساګانو سره همکاري

6. د لاندنیو عبارتونو څخه کوم یو کولای شي دا جمله بشپړه کړي؟

د کلیساګانو ترمنځ مشارکت کولای شي چې د .................... د تقویت او غښتلتیا سبب شي

الف: زمونږ د خپل ځان

ب: سیمه ایزې کلیسا

ج: خدمتونو

د: بې ایمانانو ته زمونږ د شهادت ورکولو

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱) مشارکت، د خوراکي توکو ویش او د یوبل د اړتیاوو رفع کول.

۴) ستاسو خپل ځواب

۲) الف) غلط

ب) درست

ج) درست

د) درست

۵) الف) ۲

ب) ۴

ج) ۳

د) ۱

ه) ۵

۳) د

۶) ټول صحیح دي

**اتم لوست**

# کلیسا ګانې جشنونه نیسي

کلونه کلونه پخوا یونفر چې د یوې میلمستیا کوربه ؤ او نوی ژوندون یې حاصل کړی ؤ او د دنیوي ژوندون څخه یې خلاصون ترلاسه کړی ؤ، خپل ویلون (د موسیقۍ یوه غربي آله ده) د خلکو په مخکې مات مات کړ او ویې ویل: ''زه به نور هیڅکله خپله دغه آله د دنیا دپاره ونه غږوم''. څو میاشتې وروسته هغه د خپل دغه عمل څخه سخت پښیمانه شو او د یوه نوي ویلون د پیدا کولو په لټه کې ؤ. هغه زده کړې ؤو چې کولای شي سرې خپل د موسیقۍ استعداد د خدای دپاره هم وکاروي. داسې ښکاري چې د انسان طبیعت تل د افراط او تفریط طرف ته لیوالتیا لري. په نتیجه کې ځیني کلیسا ګانې له دودونو او رواجوونو څخه دومره کار اخلي چې نور د روح القدس د حرکت دپاره ځای نه وي.

ځیني نورو دا اعلان کړی دی چې هغوی د هر ډول دنیوي قید او بند څخه آزاد دي او نور کومه سندره نه وایي. مګر مونږ باید د کشتۍ په شان ونه اوسو چې د خپل حرکت دپاره یوې خوا ته تمایل پیدا کوي. په مسیح کې زمونږ آزادي د روحاني چارو او هغه دنیوي چارو ترمنځ چې خدای زمونږ د خوشالۍ دپاره بخښلي دي، یو انډول رامنځته کوي.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولو

- کلیسایي مراسم
- کلیسایي جشنونه (اخترونه)
- رسمي او غیر رسمي عبادت

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- د مختلفو کلیسایي مراسمو سره آشنا شئ
- د کلیسایي کلني جشنونو دپاره شکر ګزاره اوسئ او د هغو په مفهوم پوه شئ.
- په کلیسایي غونډو کې د رسمي عبادت او غیر رسمي عبادت ترمنځ یو انډول برقراره کړئ.

## کلیسایي مراسم

د تیموتي او مري دپاره یوه ستره ورځ را رسېدلې وه او هغه د هغوی د واده ورځ ده. د هغو دواړو کورنیو د واده د مراسمو د ترتیباتو دپاره تیاری نیسي. دې مراسمو ته ټول دوستان رابلل شوي دي چې د کلیسا د کشیش له خوا د هغوی لارښوونه کېږي. وروسته بیا به په انګړ کې هغو ته ښه راغلاست وویل شي. د مري سترګې له خوشالۍ څخه ځلېږي خو د هغو مذهبي مراسمو د دروندوالي څخه چې په غونډې باندې حاکم دی، لږه وېره لري. تیموتي هم لږ هیجاني ښکاري.خو هغه د هغې وعدې په اړه فکر کوي چې کړې یې ده. هغه اوس د کورنۍ سر دی او

باید د خپلې مېرمنې سره مینه وکړي او د هغې اړتیاوې پوره کړي. هغوی په دې هکله د خپل کشیش سره ډېرې غونډې جوړې کړې دي او دا یې درک کړې دي چې واده کول یو تصادفي امر نه دی بلکې هغه د یو نوي ژوند جوړول دي. که چېرې عیسی د هغوی د اړیکو په ژورو کې ځای ولري نو د ډېرو کلونو په تېرېدو سره به هم د هغوی مینه له یوبل سره ژوره شي. هغوی د هغې کلیسا دپاره خوشاله دي چې په هغې کې د واده مراسم ترسره کېدونکي دي. د میلمنو ښادي او خوشالي هم د هغوی جشن کاملوي.

په تېرو درسونو کې مونږ د تعمید او د خدای د غوره ماښام په اړه خبرې وکړې. مقدس کتاب مونږ ته وایي چې دغه دواړه د خدای فرمانونه دي او مونږ د ۵ او ۶ لوست په ترڅ کې هغه توضیح کړل. په همدې ډول کلیسا ځیني نور رواجونه هم لري چې په بشپړه توګه د مقدس کتاب د اصولو او احکامو په مطابق دي. چې یو د هغو څخه د واده مراسم دي. نور مراسم لکه خدای ته د نوي کور وقفول ... اختیاري دي. په دې معنی چې دا په مونږ پورې اړه لري چې کوم مراسم ورته ونیسو او که نه. اوس مونږ هغو مراسمو ته یو نظر کوو چې په هغو کې برخه اخیستنه د یو ایماندار په غم او ښادۍ کې د برخه اخیستنې په مانا ده او مونږ به هم د هغې تجربه وکړو.

۱) د واده مراسم: په دې خاطر چې خدای د واده بنسټ اېښودونکی دی، نو دا به ډېره مناسبه وي چې دغه مراسم په کلیسا کې ترسره شي. د واده مراسم د دې لوظ او ژمنې پر بنسټ

ولاړ دي چې دوه تنه یو بل ته قول ورکوي چې تر هغې پورې چې هغوی ژوندي دي، یو بل ته رېښتني او وفاداره پاتې شي.

په ځینو هیوادونو کې خادمین د داسې رواجونو د ترسره کولو دپاره له قانوني حق څخه برخمن دي. په ځینو نورو هیوادونو کې لومړی باید یوه لوظنامه امضا شي او وروسته بیا په کلیسا کې د واده مراسم ترسره کېدای شي.

۲) د ماشومانو وقف کول: کېدای شي مور او پلار د یوې کلیسایي غونډې په ترڅ کې خپل ماشومان د خدای له پاره وقف کړي. د دې مراسمو په ترڅ کې د کلیسا کشیش ماشوم په غېږ کې نیسي او د هغه او د هغه د مور او پلار دپاره دعا کوي ترڅو ماشوم د خدای څخه په وېرې کې لوی شي. ټول ایمانداران له دغه ښکلي مراسمو څخه خوند اخلي.

۳) د ناروغ دپاره دعا: ډېر خلك د ناروغۍ په سبب د یوې خاصې دعا غوښتنه کوي. د کلیسا له مشرانو څخه یو تن د هغه وچولی (تنده) په مخصوصو تیلو باند مسح کوي (غوړوي) او د هغوی له پاره دعا کوي. شفا اخیستل یو غیر معمولي کار نه دی. کېدای شي چې په هماغه شېبه کې صورت ومومي او یا د وخت په تېرېدو سره ناروغ ته شفا حاصله شي. د ناروغانو دپاره کېدای شي چې په کور او یا په روغتون کې دعا وشي. عیسی فرمایلي دي: "خپل لاسونه په ناروغانو باندې کېږدئ او هغوی به شفا حاصله کړي" (مرقوس ۱۶: ۱۸ او همدا شان یعقوب ۵: ۱۴- ۱۵).

۴) د کور وقفول: کله چې یو نفر یوه نوي کور ته کډه کوي، ښايي وغواړي هغه خدای ته تقدیم کړي. د کلیسا مشران او نور دوستان په خوشالۍ سره په دغو مراسمو کې سره راټولېږي ترڅو د مسیح څخه د هغه کور د سر او مشر په توګه دعوت وکړي. همدا شان کله چې مسیحیان یو نوی کار پیدا کوي او یا نوې ښوونځي ته ځي او یا کوم بل فعالیت نوی شروع کوي او یا یوه نوې کلیسا پرانیزي، هغه د خدای دپاره وقفوي ترڅو په دې ټولو شیانو کې هغه جلال ترلاسه کړي.

۵) د ښخولو یا تدفین مراسم: کله چې د کورنۍ یو غړی مړ کېږي، د هغه دپاره په کلیسا کې یوه غونډه جوړېږي. په دغو مراسمو کې ګډون کول، د غمځپلې کورنۍ د پاتې کسانو غم او خفګان کموي. د کلیسا کشیش د خدای د کلام د یوې برخې په لوستلو سره هغو ته تسلي ورکوي. "ای ورونو! مونږ دا نه غواړو چې د هغوی په باب کې چې مړه کېږي تاسو بې خبره پاتې شئ. د دې د پاره چې د نورو په شان چې نا امیده وي، تاسو غمجن نه شئ" (اول تسالونیکیان ۴: ۱۳). مونږ دغه مبارك امید لرو چې زمونږ هغه دوستان چې زمونږ څخه د تل له پاره ځي، اوس د مسیح په حضور کې هیڅ رنج او غم نه لري او د خدای کلام مونږ ته دا ډاډ راکوي چې مونږ به یوه ورځ هغوی وګورو. مونږ کولای شو چې د دې مراسمو په ترڅ کې د هغو خلکو سره چې تر اوسه پورې کلیسا ته نه دي راغلي، د مسیح د خلاصون په باره کښې خبرې وکړو.

مسیحیان کولای شي چې د غمځپلي کورنۍ سره د مراسمو په ترتیب او تنظیم کې مرسته وکړي او یا هم په نورو ډولونو سره د هغوی مرستې ته ودانګي. کله کله یوه کورنۍ غواړي چې د خپل مړ شوي دوست کلیزه ولمانځي. کېدای شي چې کلیسا ته د یادګیرنې په خاطر یوه نذرانه هم وړاندې کړي چې دا په مناسبه توګه د پخوانیو پلرونو او نیکونو د عبادت کولو یوه نمونه ده چې په تېره زمانه کې به زیاتره د نوي ایماندارانو له خوا ترسره کېده.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. د ورکړل شویو آیاتونو په پام کښې نیولو سره د هغو مراسمو ډولونه مشخص کړئ چې دغه آیت ورته اشاره کوي:

| | | |
|---|---|---|
| الف) | پیدایښت ۵۰: ۱- ۱۴ | ۱) واده |
| ب) | اول سموئیل ۱: ۲۷- ۲۸ | ۲) ښخول |
| ج) | دوهم تواریخ ۷: ۹ | ۳) تعمید |
| د) | یوحنا ۲: ۱ | ۴) د ناروغ له پاره دعا |
| ه) | اعمال ۲۸: ۷- ۹ | ۵) د ماشومانو وقف کول |
| | | ۶) د کور وقف کول |

هغه دوه نور رسمونه چې په کلیسا کې رواج لري دا دي:

۶) په کلیسا کې د نویو غړو منل: د هغو کورسونو د تېرولو څخه پس چې د کلیسا د غړیتوب د حاصلولو دپاره جوړېږي،

نوي غړي د کليسا د کشيش او د مشرتابه هيئت له خوا کليسا ته معرفي کيږي. دغه مراسم په هغه وخت کې ترسره کيږي چې ټول ايمانداران حضور ولري. دا د هغوی د هرکلي له پاره يوه ښکلې ورځ ده.

7) په خادمينو او ښوونکو باندې لاس ايښودنه: دغه رسم په ځينې کليسا ګانو کې کله چې غړو ته نوې دندې ورسپارل کيږي، تر سره کيږي. د کليسا لارښود هغوی ته يادونه کوي چې خپل مسئوليتونه په هغه شان ترسره کړي چې خدای د هغوی څخه راضي وي. کله چې د کليسا لارښود د هغوی په سرونو لاس ايږدي او ورته دعا کوي، معمولاً د کليسا غړي ټول په پښو ودريږي. دا کار د نويو خادمينو د تقويت سبب ګرځي. ځکه چې هغوی په دې پوهيږي چې کليسا د هغوی تر شا ولاړه ده او د هغوی ساتنه کوي.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

2. د لاندنيو عبارتونو څخه کوم يو کولای شي دغه جمله بشپړه کړي؟ د روميانو ۱۲: ۱۵ په مطابق بايد:

الف: د نورو په غمونو کې شريك اوسو.

ب: د نورو په خوشحاليو کې شريك اوسو.

ج: کله چې مونږ يوه خاصه اړتيا وليده د هغې په پوره کولو کې هڅه وکړو.

د: د نورو په غمونو او ښاديو کې شريك اوسو.

3. د لاندنیو مراسمو څخه کوم یو په مشخصه توګه د خدای د کلام فرمان دی؟

الف: د اوبو تعمید

ب: د نویو غړو منل

ج: په خادمینو باندې لاس ایښودنه

د: د خدای غوره ماښام

و: د تدفین مراسم

## کلیسایي جشنونه (اخترونه)

د مسیح په ژوند او یا د کلیسا په تاریخ کې د یوې مهمې پېښې د یادولو په مقصد هر کال په خاصو وختونو کې جشنونه جوړېږي او په ډېرو کلیسایي جنتریانو کې مونږ څلور جشنونه کتلای شو چې عبارت دي له: کرسمس، جمعة الصلیب، قیام او د پنطیکاست ورځ. نور اخترونه عبارت دي له، "د خرما یکشنبه"، "د پورته کېدنې یا صعود یکشنبه" او "د خدای ورځ". د کرسمس په ورځ کلیسا ګانې ځانګړي مراسم لري. ځوانان په ګروپونو کې سندرې وایي، هلکان هم له خپل ذهن څخه آیاتونه قرائ کوي او ښایي د مسیح د زېږېدنې داستان د یوې نمایشنامې په توګه په څرګند کړي. چای، شیدې او کلچې خلکو ته ویشل کېږي. دغه خپرونې او لمانځنې که ساده وي او یا مفصل، د ټولو مقصد دا دی چې د مسیح څخه د خلاصون ورکوونکي او نړۍ ته د خدای د ډالۍ په توګه یادونه وشي او د

هغه درنښت وشي. د ایماندارانو دوستان او یا د کورنۍ غړي چې تر اوسه یې په مسیح ایمان نه دی راوړی، کېدای شي چې د انجیل د پیغام په اورېدو سره د هغوی زړونه د خدای له خوا لمس شي او هغوی ایمان راوړي. د کجورې یکشنبه اورشلیم ته د مسیح هغه د برم او د بری څخه ډکه ننوتل دي چې هغه په خره باندې سپور ؤ او خلکو د هرکلي او هغه ته د ښه راغلاست په خاطر د هغه لاره د خرما د ونو په څانګو فرش کړې وه. هغوی په نارو او چیغو سره د هغه د راتګ په خاطر خوشالي کوله او هغه ته یې هرکلی وایه: ”د داود زوی ته دې ثنا وي. مبارك هغه دی چې د رب په نوم راځي. په هغه دې په آسمان کې هم ثنا وي“ (متي ۲۱: ۹). د خرما یکشنبه د مسیح د ژوند وروستنۍ هفته ده چې د هغې څخه پس هغه مصلوب او ښخېږي.

جمة الصلیب د مسیح د کړاوونو او په صلیب باندې د هغه د مرګ یادونه ده. د ځینو کلیسا ګانو دروازه ټوله ورځ د دعا له پاره خلاصه وي. ځیني نور بیا د مسیح د آخري اوو (۷) الفاظو باندې په فکر کولو سره یو وخت د دعا او سندرو د ویلو دپاره بیلوي. د قیام ورځ یوه خاصه خوشالي له ځانه سره لري ځکه مسیح له مړو څخه بېرته پورته کېږي. ځیني ایمانداران دا غوره ګڼي چې په دغه ورځ خپله کلیسا په ګلونو سره ښکلي کړي. ځیني نور نوي جامې اغوندي. دا ورځ د خوشالۍ ورځ ده او د کلیسا لارښود د قیام د فلسفې په هکله وعظ کوي. د دې حقیقت څخه پرته د مسیحیت ټول جشنونه او اخترونه بې معني دي. مګر له دې کبله چې مونږ پوهېږو چې عیسی قیام کړی دی

او ژوندی دی، نو خوشاله يو. دا يوائې په دې خاطر نه چې مقدس کتاب هغه بيانوي (اول کورنتيان ۱۵: ۲۰) بلکه له هغې باطني ډاډ منډې څخه چې د خدای له روح څخه سرچينه اخلي، مونږ په دې قانع کوي چې مسيح ژوندی دی. د صعود يا آسمان ته د ختلو يکشنبه په حقيقت کې د قيام د يکشنبې نه ۶ هفتې پس دی. صعود په اصل کې د قيام څخه ۴۰ ورځې وروسته د سه شنبه په ورځ صورت مومي. مګر ډېرې کليسا ګانې هغه د هغې ورځې په راتلونکي لومړنۍ يکشنبې لمانځي. مونږ بايد کله هم دا هېر نکړو چې مسيح په جسماني لحاظ دا دنيا پرېښوده او آسمان ته پورته شو او د خدای ښي لاس ته کښېناست (عبرانيان ۱۰: ۱۲) او لکه څنګه چې زمونږ سره يې ژمنه کړې ده، هغه به د مشر کاهن او د کليسا د سر په توګه (عبرانيان ۴: ۱۴) له آسمان څخه بېرته زمکې ته راستون شي (اعمال ۱: ۱۱).

پنطيکاست د مسيح د مصلوب کېدو څخه ۵۰ ورځې وروسته صورت مومي چې د يهوديانو د "محصولاتو د ټولولو" يا د لَو د اختر سره سمون خوري. په دې معنی چې د فسحې له اختر څخه ۵۰ ورځې وروسته د پنطيکاست اختر دی. پنطيکاست د کليسا د زېږېدنې جشن دی. دا هغه ورځ ده چې په اورشليم کې روح القدس په ايماندارانو باندې نازل شو. هغوی په خاصه توګه له خوشالۍ او قوت څخه ډک شول او په هغو ژبو باندې يې خبرې کول پيل کړل چې روح القدس ورته ورکړې وې. د دې پېښې د توضيح دپاره پطروس د يوئيل نبي د کتاب څخه

یو آیت نقل کړ: ”خدای فرمایي چې په آخري ورځو کې به داسې کېږي چې زه به خپل روح په هر یو نفر نازلوم او ستا زامن او ستا لورګانې به نبوت کوي، ستاسو ځوانان به رویا په سترګو ویني او سپین ږیري به خوبونه ویني“ (اعمال ۲: ۱۷).

د خدای ورځ هغه یواځینی جشن ؤ چې په لومړنۍ کلیسا کې به لمانځل کېده او د هغې په ترڅ کې به هغوی د خدای ستاینه کوله. مسیحیانو به د هرې اونۍ په ترڅ کې د مسیح د قیام جشن لمانځه. هغوی به د اونۍ لومړۍ ورځ په دعا، موعظې، تعلیم او د خدای په غوره ماښام کې په ګډون سره پیل کاوه او هغه به یې د ”مسیحي ورځ“ په نامه یادوله. ځیني نور اخترونه هم شته چې په دې وروستیو کې په کلیسا کې یې رواج موندلی دی لکه د پلار ورځ او د مور ورځ چې د والدینو د درنښت په خاطر لمانځل کېږي. د نوي کال لومړۍ ورځ د دعا او ستاینې په ترڅ کې لمانځل کېږي او په دې غونډې کې ایمانداران تر نیمې شپې پورې بیداره وي. ځینې کلیسا ګانې په اوړي کې د شکر ګذارۍ یا د خپل حاصل د ټولولو یا د لَو جشن لمانځي. او یا ایمانداران د هغه څه د شکر اداکولو له پاره چې خدای د هغوی دپاره کړي دي لکه د دعا قبلونه او یا ځیني نور خاص کارونه، د ستاینې جشنونه دایروي. په دغو وختونو کې هغوی کله کله کلیسا ته ځیني سوغاتونه هم وړاندې کوي. کېدای شي چې ستاسو کلیسا دغه ټول جشنونه او اخترونه او یا د هغو له جملې څخه ځیني ولمانځي او هم کېدای شي چې ځیني نور جشنونه هم ولرئ چې دلته د هغې

یادونه نه ده شوې. خو هغه څه چې مونږ د دغو جشنونو څخه باید په یاد وساتو دا ده چې دا جشنونه باید د خدای او زمونږ په ژوند کې د هغه د حضور یادونه وکړي. دا خبره باید تل په یاد ولرئ چې ستاسو اخترونه او جشنونه دې فقط د یو دود او دستور سرته رسول نه وي، بلکه له دې سره سره خپله روحاني مانا او مفهوم هم باید ولري.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

4. د کینې خوا اخترونه له هغو توضیحاتو سره تطبیق کړئ چې په ښي خوا کې راغلي دي.

الف: د عیسی زېږېدنه

ب: اورشلیم ته د عیسی د برم څخه ډکه ننوتنه

ج: د مسیح مصلوبېدل

د: قیام

و: آسمان ته د مسیح ختل

ز: د کلیسا زېږېدنه

س: د قیام یادوونه د هرې اونۍ په ترځ کې

۱) د خرما یکشنبه

۲) د خدای ورځ

۳) جمة الصلیب

۴) کرسمس

۵) د قیام اختر

۶) پنطیکاست ورځ

۷) پورته کېدو ورځ

5. د لاندنیو عبارتونو څخه کوم یو دغه جمله تکمیلولای شي؟ اخترونه د کلیسا دپاره ډېر ارزښت لري، ځکه چې:

الف: مهمې روحانې پېښې او مقدس کتاب زمونږ په ياد کې راولي.

ب: د رواجونو په ساتنه کې زمونږ سره مرسته کوي.

ج: د هغو ترسره کول په زړه پورې دي.

د: دا نورو ته د شهادت ورکولو دپاره ښه موقعه ده.

6. لږ تر لږه د هغو دريو جشنونو نومونه واخلئ چې په دې وروستيو کې په کليسا کې رواج شوي دي.

## رسمي او غير رسمي عبادت

دود او دستور هغه فرمان، نمونې او يا کلمات او اعمال دي چې د يوه مذهبي رسم په ترڅ کې ترسره کېږي. مګر که چېرې د خدای سره زمونږ د مينې اظهار په خپل سر او يا طبيعي وي نو هغې ته آزاده او يا غير رسمي عبادت يا پرستش وايي. دا دواړه په يوې کليسا کې رول لري. کله چې مونږ د لومړنۍ کليسا په باره کښې لولو، نو دا مومو چې هغوی د وچو او بې مانا دودونو او دستورونو څخه ازاده ؤو. د هغوی غير رسمي عبادت او خدمت، روح القدس ته د حرکت کولو موقعه ورکوله او خلکو به غبرګون ښوده. د هغې زمانې څخه تر اوسه پورې ډېرې کليسا ګانې دومره دود پرسته شوي دي چې روح القدس ته د حرکت کولو له پاره هېڅ اجازه نه ورکوي. دودونه او دستورونه پاتې دي مګر خپل کيفيت او مانا يې له لاسه ورکړې ده. آيا زمونږ په کليسا کې د دود او دستور دپاره

ځای پاتې دی؟ هو پاتې دی. لکه د واده، ښخولو او عشاء رباني په شان په ځینیو مراسمو کې. دا هغه مراسم دي چې د هغو ترسره کول د هغو ویناوو او کړنلارو په وسیله ترسره کېږي چې له پخوا څخه ترتیب شوي دي او دا کار کلیسا ته عزت او درنښت ورکوي چې هېڅ شی باید له یاده ونه ایستل شي.

د کلیسا د اعتقاد نامې لوستل او د خدای د کلام لوستل هم ډېر ګټور دي، مخصوصاً د هغو خلکو دپاره چې لیك او لوست نه لري. برسېره پردې، د خدای کلام فرمایي چې تعلیم او عبادت او ټول کارونه "باید په نظم او ترتیب سره ترسره شي" (اول کورنتیان ۱۴: ۴۸). مګر نه ښایي چې مونږ له حد او اندازې څخه زیات د غونډو په تخنیکي مسایلو او د هغو د جوړېدلو په څرنګوالي کې بوخت شو بلکه باید د رسمي او غیر رسمي لمانځنې تر منځ یو انډول او تعادل وساتو. دا باید په یاد وساتو چې هغه مانا او مفهوم چې د یوه جشن او یا اختر په ذات کې نغښتی دی هغه په خپله د هغه اختر او جشن له لمانځنې څخه ډېر اهمیت لري.

په زړې لوظنامې کې د کاهنانو دپاره مخصوصې جامې په پام کې نیول شوې وې چې باید د مراسمو په وخت کې هغه واغوندي مګر په نوې لوظنامې کې د کاهنانو او خادمینو دپاره د خاصو کالیو د اغوستلو په باره کښې هېڅ یادونه نه ده شوې. په کلیسا کې د ځای او مقام په هکله دومره زیات ټینګار نه دی شوی او د خادم او ایماندار ترمنځ دومره زیات توپیر وجود نه لري. د هغې پر ځای په نوې لوظنامې کې د ساده

عبادت، په مسیحي مفهوم سره مشارکت، په مسیح باندې د ژوندي ایمان په لرلو او خاکسارۍ او د نورو خدمت کولو باندې زیات ټینګار شوی دی. کلیسا ګانې باید جشنونه او اخترونه ونیسي! کومه پېښه کولای شي چې د خلاصون د داستان څخه خوشالي ورکوونکي او راپاراوونکي وي؟

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

7. د لاندنیو دودونو او دستورونو څخه کوم یو حتمي او لازمي دی چې باید ترسره شي؟

الف: د واده مراسم

ب: د ناروغ دپاره دعا

ج: د ښخولو مراسم

د: د زېري ورکولو غونډې

و: د شکر ګذارۍ او عبادتي غونډې

ه: د خدای غوره ماښام

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱) الف) ۲
ب) ۵
ج) ۶
د) ۱
ه) ۴

۴) الف) ۴
ب) ۱
ج) ۳
د) ۵
ه) ۷
و) ۶
ز) ۲

۲) د

۵) الف او د

۳) الف او د

۶) د مور او پلار ورځ، نوی کال، شکر ګذاري، د حاصل د ټولولو جشن او يا دا ډول نور جشنونه او اخترونه.

۷) ټول مهم دي

## نهم لوست

# کلیسا ګاڼې وده کوي

په منځنۍ اروپا کې یو ځنګل دی چې د خپلې ښکلا له کبله د پسرلي او اوړي په موسم کې ډېر شهرت لري. سړی کولای شي چې د بایسکل او یا آس په وسیله او یا هم په پښو د دغه ځنګل د ونو څخه چې په ډېره ښکلې بڼه یې ټول ځنګل داسې پوښلی دی چې د لمر وړانګې په سختۍ سره کولای شي چې د هغو له منځه تېر شي، کتنه وکړي.

د دغو ونو لویې او ښکلا مونږ ځانته را جلبوي خو که چېرې مونږ وړی اوسو نو دا غوره ګڼو چې د میوو په یوه باغ کې اوسو ترڅو زمونږ لوږه لېرې شي. په زبور ۱ : ۳ کې لولو چې هغه خلک چې د خدای څخه اطاعت کوي هغوی د هغو ونو په شان دي چې د ویالې ترڅنګ ولاړې دي او په خپل موسم کې میوه ورکوي. مسیح په دې خاطر کلیسا په نړۍ کې پرېښوده ترڅو د نړۍ د خلکو اړتیاوې رفع کړي نه دا چې د خپلې ښکلا په سبب یې ستاینه وشي. لکه د هغې ونې په شان چې د هغې ریښې ژورې دي او د ژوندون اوبه جذبوي او د هغې څانګې میوه نیسي.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- ریښې جوړېږي
- ځانګې پراخېږي
- ګلان میوې نیسي

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- په کلیسا کې د خپل غړیتوب په ارزښت باندې پوه شئ
- په دې پوه شئ چې کلیسا څرنګه خپل ځان غښتلی کوي.
- په نړۍ باندې د کلیسا په اساسي اغیزه باندې پوه شئ

## ریښې جوړېږي

تیموتي او مري همدا اوس اوس د خپل عسل د میاشتې له چکر څخه راستانه شوي دي او په یوه صنف کې د کلیسا د غړیتوب په باره کښې زده کړه حاصلوي. په دوهمه غونډه کې مري پوښتنه کوي: "آیا له هغه وخت څخه چې ما توبه ویستلې ده د کلیسا غړې نه یم؟" ښوونکی ځواب ورکوي: "کله چې تا خلاصون وموند، د مسیح د بدن غړې شوې، مګر ته کولای شې چې د سیمه ایزې کلیسا غړې هم شې.د دې کار دپاره لازم دي چې ته په هغې کلیسا کې د اوبو تعمید واخلې او د هغې کلیسا اساسي پوهنېزې چارې زده کړې." تیموتي پوښتنه کوي: "په یوې کلیسا کې د غړیتوب اصلي مقصد څه شی دی؟" ښوونکی ځواب ورکوي: "د کلیسا غړي د هغې

کليسا پايې او ستنې دي چې د هغو د پاسه يوه قوي او غښتلې کليسا ودانېږي.“ دا کار د مشارکت او مختلفو خدمتونو د ترسره کولو زمينه برابروي.

## غړي د کليسا ستنې (پايې) دي

ښايي تاسو ته هم د مسيح د بدن د غړي په توګه دا سوال پيدا شوی وي چې ولې بايد د سيمه ايزې کليسا غړي شو. واقعي کليسا او يا د مسيح بدن د ټولو هغو مسيحي ايماندارانو له ټولنې څخه جوړه شوې ده چې په صليب کې د مسيح د مرينې له لارې يې خلاصون موندلی دی (کولوسيان ۱: ۲۰). دغه روحاني بدن او يا نا ليدونکې کليسا دې ته اړتيا لري چې په يوه شکل سره په دې نړۍ کې د ليدلو وړ وګرځي ترڅو خلك هغه وګوري. د ليدلو وړ کليسا د هغو ايماندارانو له ټولنې څخه جوړېږي چې سيمه ايزې کليسا ځانې جوړوي. هره کليسا بايد مسيح خپل سر وګڼي او خپل ځان د مسيح د ټول بدن يوه برخه وګڼي. هره کليسا خپلې اړتياوې په يوې طريقې سره پوره کوي. د يوې کليسا د اداره کولو لارې چارې کېدای شي چې سره مختلفې وي او کله کله ښايي مختلفې ادارې منځ ته راشي.

مګر دغه فرقونه د هغه متفاوته لومړيتوبونو نتيجه ده چې په کليسا کې احساسېږي. هغه څه چې مهم او اساسي دي، هغه تعليمات دي چې د خدای د کلام پر بنسټ بايد ولاړ وي او د کليسا غړي بايد د هغې کلکې پايې وي چې کليسا وکولی شي د هغو په وسيله عمل وکړي. کليسا هغه ټولنه ده چې ټول کولای

شي په هغې کې په آزادانه توګه برخه واخلي او هيڅوك دې ته نه مجبوربږي چې غونډو ته راشي او يا صدقه ورکړي او يا هم په فعاليتونو کې برخه واخلي. د کليسا غړي په مينې او شوق سره د خدای خدمت کوي.

## د غړيتوب شرايط

مونږ د غړيتوب دپاره دغه لاندېني شرايط پيشنهادوو

... په مسيح باندې د اعتماد له لارې د خلاصون د انکار نه منونکې تجربې درلودل (روميان ۱۰: ۹- ۱۰).

... د اوبو د تعميد اخيستل (متي ۲۸: ۱۹ او اعمال ۲: ۳۸).

... د روح القدس د تعميد اخيستل او يا په ليوالتيا سره د هغه په لټه کې کېدل (اعمال ۲: ۴ او افسيان ۵: ۱۸).

... د خدای د کلام د اخلاقي اصولو څخه اطاعت (اول کورنتيان ۶: ۹- ۱۰ او ۱۸- ۲۰ او عبرانيان ۱۳: ۴).

... د حکومت څخه اطاعت او د هيواد رهبرانو ته درناوی او د خپلې ټولنې دپاره يو ښه غړی کېدل (روميان ۱۳: ۱- ۷ او اول پطروس ۲: ۱۳- ۱۴).

## د غړي مسئوليتونه

هغه خلک چې له يوې کليسا څخه بلې کليسا ته ځي، نشي کولای چې مسئوليتونه په ځان ومني. مګر د کليسا وفاداره غړي وده کوي او هغوی کليسا فعاله ساتي چې نوي ايمانداران

کولای شي په کلیسا کې زیات شي. مونږ د کلیسا د غړو دپاره دغه لاندي مسئولیتونه پیشنهادوو.

... د داسې ژوندون لرل چې خدای‌ته وقف شوی وي او د دنیا په وړاندې د یوه ټاکلي حالت اختیارول (متي ۵: ۱۳- ۱۶ او اول پطروس ۲: ۹، ۱۲ او ۱۵ او دوهم پطروس ۱: ۴- ۸).

... کشیش ته درناوی او د هغه سره مرسته او همدا عمل د د نورو کلیساګانو له مشرانو سره هم ترسره کول (اول تسالونیکیان ۵: ۱۲- ۱۳).

... د صدقو، سوغاتونو او د عایداتو د لسمې برخې په ورکولو سره د خدای له کار څخه ملاتړ (اول کورنتیان ۹: ۱۲- ۱۴).

... د کلیسا په غونډو او همدا شان د مقدس کتاب په کورسونو او نورو کلیسایي فعالیتونو کې په منظمه توګه برخه اخیستل (اعمال ۲: ۴۲ او عبرانیان ۱۰: ۲۵).

... په کور کې د دعا او کلام د لوستلو دپاره وخت ټاکل، کورني مشارکتونه په کورنیو کې د ډېرو برکتونو سبب ګرځي (تثنیه ۱۱: ۱۸- ۲۰).

... د هغو کارونو په هکله چې خدای زمونږ دپاره کړي دي، هغو خلکو ته شهادت ورکول چې تر اوسه پورې یې خلاصون نه دی موندلی.

... د روح القدس د لاښوونې، په مادي لحاظ د کلیسا د اړتیاوو په پوره کولو کې مشارکت.

د خدای د اغیزمن خدمت دپاره د کلیسا د غړیتوب ترلاسه کول ډېر ضروري دي. کله چې تاسو د کلیسا سره د هغې د ماموریت په سرته رسولو کې مرسته کوئ په حقیقت کې مو د مسیح بدن ته خدمت کړی دی.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ.

الف: د کلیسا غړي باید د خدای د کلام له اخلاقي اصولو څخه پیروي وکړي.

ب: په کلیسا کې غړیتوب د ټولو خلکو دپاره دی.

ج: د کلیسا وفاداره غړي په منظمه توګه د کلیسا په غونډو کې ګډون کوي او وده کوي.

2. که چېرې تاسو د کلیسا غړي یاست، نو آیا فکر کوئ چې دا لازمه ده چې هغې سره په مادي لحاظ مرسته وکړئ؟ د دې کار دپاره دلیل وړاندې کړئ.

## ډالۍ ورکول کلیسا قوي کوي

د کلیسا مختلف خدمتونه ملاتړ ته اړتیا لري. په اخلاص سره د ډالۍ او یا صدقې ورکول او په وفا دارۍ سره د چارو نظارت کلیسا ته د دې توان ورکوي چې خپلې ودې ته ادامه ورکړي او یوه ښه راتلونکې ولري.

لومړنيو کليسا ګانو د خپل کار د پيل دپاره مرستې او ملاتړ ته اړتيا لرله مګر مونږ په هيڅ ځای کې دا نه لولو چې په نورو کليسا ګانو پورې متکي وي. برخلاف د مکدونيه کليسا ګانې سره د دې چې ډېرې بې وزلې وې، د يهوديې د ايماندارانو د مرستې دپاره يې چې د ستونزو سره مخامخ وې، سوغاتونه استول (دوهم کورنتيان ۸: ۱- ۴ ولولئ).

مونږ کولای شو چې د خپلې شتمنۍ څخه د لسمې برخې په ورکولو سره او همدا شان د دې نه علاوه د نورو سوغاتونو په ورکولو سره د خدای عبادت وکړو. ټول دا وس لري چې يو څه سوغات او يا نذرانه ورکړي. که څه هم کله کله د يو نفر عوايد ډېر کم وي مګر هغه کولای شي چې د نورو لارو څخه خپله لسمه برخه (ذکات) ورکړي (لاويان ۲۷: ۳۰ او ۳۳). د چين د هيواد په جنوب ختيځ کې يوه ښځې د چرګانو د روزنې له لارې خپل خرڅ پيدا کاوه. هغې به د خپلو چرګو د هګيو له هرو لسو دانو څخه يوه دانه د کليسا مشر او د هغه کورنۍ ته چې په يوې کوچنۍ کليسا کې يې ژوند کاوه، ورکوله.

يوه ورځ کله چې هغه د غره څخه راښکته کېدله ترڅو د چرګانو هګۍ په بازار کې خرڅې کړي، له ځانه سره يې وويل: ''څه ښې غټې هګۍ دي. دا د افسوس خبره ده چې د هغو څخه پنځه دانې کليسا ته ورکړم. دا ټولې خرڅوم او وروسته بيا د هغې '' لسمه برخه'' کليسا ته ورکوم.'' په همدې شېبه کې د هغې پښه د ونې په يوې ريښې کې ونښته او هغه پړمخې ولوېده او ټولې هګۍ ماتې شوې. هغې له دې پېښې څخه يو

مهم درس زده کړ: ”که چېرې هغه څه چې لږم له نورو سره یې تقسیم نکړم او هغه له خدای څخه وسپوم، نو زه به یې وبایلم. ما ځومره لویه غلطي وکړه، لکه د هغې غلطۍ په شان چې حنانیا او سفېرې کړې وه (اعمال ۵: ۱- وګورئ)“.

په یوه آسیایي هېواد کې مسیحیانو زده کړې دي چې درې مقدس شیان باید د خدای کور ته راوړي: ”مقدس کتاب“، ”د مقدسو سرودونو کتاب“ او ”مقدسې وریجې“. هر کله چې د کور میرمن د خپلې کورنۍ دپاره خواړه تیاروي، یوه پیمانه وریجې له هغې څخه بیلوي او هره یکشنبه هغه په یو مخصوص ځای کې چې د دې کار دپاره ځانګړی شوی دی اچوي او دې ته مقدسې وریجې وایي، ځکه چې د خدای د کار دپاره ورڅخه کار اخیستل کېږي. او کله چې ایمانداران دغه کار په وفادارۍ سره ترسره کړي یوه اړتیا رفع کېدای شي. تاسو کولای شئ چې خپل وخت او استعداد د خدای له پاره ورکړئ. خدای پاك به د چا احسانمند پاتې نه شي او په سخاوتمندۍ سره به تاسو او ستاسو کلیسا ته برکتونه وربه برخه کړي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

3. د لاندنیو عبارتونو څخه کوم یو کولای شي چې دغه جمله بشپړه کړي؟ کلیسا هغه وخت کولای شي چې خپلې ریښې پیاوړې کړي چې:

الف: لیدونکي په سخاوتمندۍ سره له هغې سره مرسته وکړي.

ب: د نورو کلیساګانو له خوا ورځخه په ښه توګه ملاتړ وشي.

ج: د کلیسا وفا داره غړي د هغې له کارونو ځخه ملاتړ وکړي.

4. هغه درې شیان چې هر ایماندار کولای شي هغه کلیسا ته ورکړي، کوم دي؟

5. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ

الف: د کلیسا غړی کیدل او هغې سره مرسته کول باید په شوق او لیوالتیا سره صورت ومومي.

ب: حتی یو بې وزلی او فقیر نفر هم کولای شي چې خدای ته سوغات او نذرانه ورکړي.

ج: که چېرې مونږ خپلې پیسې کلیسا ته ورکړو نو نور دې ته اړتیا نشته چې خپل وخت او استعداد د هغې له پاره وقف کړو.

د: د کلیسا د غړیتوب د حاصلولو له پاره لومړنی ګام دا دی چې له نورو سره د مرستې کولو لیوالتیا او شوق ولرو.

## ځانګې پراخېږي

د یوې ونې له تنې ځخه ځانګې شنې کېږي او وده کوي او بالاخره دغه ځانګې دي چې ونې ته شکل ورکوي. کلیسا هم د یوې ونې په شان جوړښت او قوت ته اړتیا لري ترڅو خپل مقصدونه

پوره کړي. دا داسې یوه اداره ده چې د اداره کولو یو خاص طرز لري چې د هغې قوت له روح القدس څخه سرچینه اخلي.

## سازمان (اداره) د شکل نیولو او یووالي سبب ګرځي

په اووم لوست کې مونږ په کلیسا کې د عمر په لحاظ د مختلفو خلکو سره آشنا شو. هغوی هم لکه د ونې د څانګو په شان دې ته اړتیا لري چې په خپلو کې له یوبل سره اړیکې ولري. یوه ښه سازماندهي نه یواځې کلیسا ته ثبات او ټینګښت ورپه برخه کوي بلکې د کلیسا د غړو د هم غږۍ سره هم مرسته کوي. کلیسا د خپلې بقا او ادارې له پاره مشرانو ته اړتیا لري. مقدس کتاب د لومړنۍ کلیسا د جوړښت په هکله مونږ ته ځینې مطالب بیانوي.

کلیسا ګانې "د کشیش مرستیالانو" یا نیکو خادمینو درلودل. په اعمال ۶: ۱- ۶ کې لولو چې د اورشلیم کلیسا ۷ تنه نیك خدمتګاران غوره کړل. هغوی نیك نامه خلك ؤو چې د روح القدس څخه ډك ؤو چې د مسئولیتونو په قبلولو سره یې د رسولانو سره مرسته کوله. اول تیموتاوس ۳: ۸- ۱۳ ته هم یو وار کتنه وکړئ. کلیسا سپین ږیري درلودل. په هره کلیسا کې چې پولوس او برنابا به پرانیستله، هلته به یې مشران مقررول. دا به هغه خلک ؤو چې د تعلیم ورکولو او خدمت کولو وړ ؤو (اعمال ۱۴: ۲۳). "لکه د شپنو په شان په خپل ځان او خپلې ټولې رمې بام کوئ کوم چې روح القدس تاسو ته سپارلي دی او تاسو یې د هغې پر سر کتوونکي مقرر کړي یئ" (اعمال ۲۰:

۲۸ او اول تیموتاوس ۳: ۱- ۷). د دې آیاتونو څخه په استفادې سره مونږ ګورو چې لومړنۍ کلیسا د یو نفر تر کنترول او اداري لاندې نه وه او په ډله ایزه توګه اداره کېدله. او هرې ډلې یو مشر درلود. نن ورځ د کلیسا لارښود یا کشیش د کشیش د مرستیالانو او سپین ږیرو سره یوځای د کلیسا خدمت کوي.

## روح القدس کلیسا ته قوت وربخښي

د یوې ونې قوت د هغې شیرې څخه وي چې د هغې په دننه کې جریان لري او هغې ته ژوند وربخښي. د کلیسا روحاني قوت هم د روح القدس د کار ثمره ده چې په هر ایماندار کې او همدا شان د کلیسا په هره برخه کې وجود لري. لومړنۍ کلیسا له روح القدس څخه ډکه وه. په اعمال ۴: ۳۱- ۳۳ کې مونږ لولو چې کله ایماندارانو په اورشلیم کې دعا کوله "ټول له روح څخه ډك شول او د خدای کلام یې په مېړانې سره بیاناوه" او همدا شان "رسولانو به په میړانې او لوی قدرت سره د مسیح د بېرته ژوندي کېدو په هکله شهادت ورکاوه او خدای به ډېر لوی برکتونه هغوی ته ورکول." کلیسا هم لکه د ونې په شان تر هغې چې ژوند لري، وده کوي. نن ورځ کلیسا ځانې په پرتمینه توګه د روح القدس د ژوند او د قوت څخه برخمنې دي.

## هغه څه چې تاسو یې باید ترسره کړئ

6. د ښي خوا ستون د کیڼ خوا له ستون سره ونښلوئ

الف: کلیسا ته ښه ورکوي ۱) روح القدس

ب: کلیسا ته قوت ورکوي ۲) دکشیش مرستیالان

ج: د کلیسا خادمین دي ۳) سازمان

د: د رمې ساتنه او پالنه کوي ۴) شپون

و: د محلي کلیساګانو لاربنودنه کوي ۵) سپین ږیري

## ګلان مېوې نیسي

په یوې ونې کې ګلان د دې دپاره نه دي چې فقط ښکلا ولري بلکه هغه میوه نیسي او حاصل ورکوي. یوه ورځ عیسی د انځر یوه ونه ولیده خو په هغې کې یې د پاڼو څخه پرته نور هېڅ څه ونه موندل او هغې ونې ته یې لعنت وویل او ونه وچه شوه (متي ۲۱: ۱۸- ۱۹). کلیسا هم کېدای شي چې له یوې ښکلې ودانۍ او غښتلي مشرانو څخه برخمنه وي خو خلك د خدای دپاره ښکار نکړي. عیسی وفرمایل: "دغه شان زما د پلار جلال په دې کې ښکاره کېږي چې تاسو ښه ډېره میوه ونیسئ او زما مریدان ښکاره شئ" (یوحنا ۱۵: ۸). لومړنۍ میوه چې کلیسا یې ورکوي باید د ایماندارانو په ژوند کې وي. دغه روحاني میوه په غلاطیان ۵: ۲۲- ۲۳ کې بیان شوې ده چې تر ټولو لویه یې "محبت" دی. دا ناممکنه ده چې دغه خصوصیات مونږ وکولی شو په خپلو طبیعي توانمندیو باندې حاصل کړو. مونږ د هغې د حاصلولو دپاره روح القدس ته اړتیا لرو. له دې پرته خدای زمونږ څخه غواړي چې ډېر بدنونه ښکار کړو او په دې توګه کلیسا له میوو څخه ډکه کړو (یوحنا ۱۰: ۲۱

او متي ۲۸: ۱۹- ۲۰). په وروستني لوست کې به مونږ دغه مطلب وڅیړو. خدای په دې خاطر خپله کلیسا جوړه کړه ترڅو په هغه پورې اړه ولري او د هغه خدمت وکړي او د ډېرو میوو په ورکولو سره هغه ته جلال ورکړي (مکاشفه ۵: ۹- ۱۳).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

7. ستاسو په نظر هغه دوه طریقې چې مسیحیان کولای شي د هغو له لارې میوه ورکړي، کومې دي؟

8. د لاندنیو عبارتونو څخه کوم یو کولای شي چې دغه جمله بشپړه کړي؟ د میوې ورکولو څخه زمونږ لومړنی مقصددا دی چې:

الف: د کلیسا غړي زیات شي.

ب: د نورو پام ځانته راواړوو.

ج: خلك مسیحیت ته لیواله کړو.

د: خدای جلال ومومي

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱) الف) غلط ـ د کلیسا غړیتوب یوائې د ایماندارانو دپاره دی

ب) درست

ج) درست

۵) الف) درست

ب) درست

ج) غلط

د) غلط ـ لومړنی ګام د نوي پیدا ینبت یا زېږېدنې تجربه ده او د نورو سره مرسته کول وروستنی ګام دی.

۲) هو، ځکه چې د مسیح د بدن په توګه باید د مالي پلوه د کلیسا د فعالیتونو سره مرسته وکړو.

۶) الف) ۳

ب) ۱

ج) ۲

د) ۵

ه) ۴

۳) ج

۷) د بدنونو ښکار او د روح ثمره

۴) پیسې او یا نور کومکونه، وخت او استعداد

۸) د

# کلیسا د خلکو خدمت کوي

یو شمېر خلکو له یوې لویې او ښکلې کلیسا څخه کتنه کوله او هغوی د دې کلیسا د ښکلا، معمارۍ او خزانو تر اغېزې لاندې راغلل. د سیمه ایزې کلیسا مشرانو میلمنو ته وویل: ”یوه ورځ پطروس یوه ګوډ سړي ته چې د عبادتخانې د ښکلې دروازې ترڅنګ ناست ؤ، وویل چې زما سره زر او سپین زر نشته.

نن ورځ هم زمونږ اصلي اړتیا سره زر او سپین زر نه دي.“ د میلمنو څخه یوه وویل: ”په خواشینۍ سره تاسو نشئ کولای چې د پطروس په شان ووایئ چې هغه څه چې لرم هغه تا ته درکوم، د عیسی ناصري په نامه پاڅه او وګرځه“ (اعمال ۳: ۶). کلیسا ګانې باید د لومړنیو کلیساګانو په څیر د خلکو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

شتمني، تحصیل او مقام نشي کولای چې د خدای د قوت ځای ونیسي. عیسی مسیح پرون، نن او تر ابده پورې هماغه دی (عبرانیان ۱۳: ۸). هیله ده چې مونږ وکولای شو د هغه په نامه خلکو ته خدمت وکړو.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- کلیسا ګانې ایمانداران تربیه کوي
- کلیسا ګانې له محتاجینو سره مرسته کوي
- کلیسا ګانې ورك شویو ته زېری ورکوي

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- دا درك کړئ چې ولې باید کلیسا ایمانداران وروزي.
- دا توضیح کړئ چې څرنګه کلیسا ګانې له محتاجینو او اړوندانو سره مرسته کوي.
- ورك شویو ته د زیري ورکولو اهمیت او ضرورت درك کړئ.

## کلیسا ګانې ایمانداران تربیه کوي

د کلیسا واقعي مشران د هغو وفاداره شپنو په شان دي چې د خپلې رمې څخه ساتنه او پالنه کوي. عیسی د شپون او مزدور په هکله ویلي دي: ”زه ښه شپونکی یم او ښه شپونکی د پسونو د پاره خپل سر ورکوي. خو مزدور چې کله شرمخ (لیوه) په راتلو ووینی نو پسونه په ځای پرېږدي او وتښتي ځکه چې هغه شپونکی نه دی او پسونه د هغه نه دي. شرمخ (لیوه) رمه راګیره کړي او پسونه خپاره واره کړي. هغه ځکه تښتي چې مزدور دی او د پسونو هېڅ پروا نه لري. ښه شپون زه یم. زه خپل پسونه پېژنم او پسونه ما پېژني. لکه چې ما پلار پېژني او زه پلار پېژنم، او زه خپل ځان د پسونو د پاره قربانوم“ (یوحنا ۱۰: ۱۱- ۱۵).

تیموتي او مري د واده څخه پس د کلیسا غړي شول. هغوی د مقدس کتاب په کورسونو کې د ګډون کولو څخه علاوه د رهبرانو د زده کړې په کورسونو کې هم برخه اخیستله او په څو درسونو کې یې ګډون کړی ؤ. هغوی په شریکه سره دعا کوله او په دې توګه یې په خدای کې وده کوله او په روحاني لحاظ غښتلي کېدل. تیموتي د ځوانانو په منځ کې خدمت کاوه او ډېر درسونه یې زده کول. هغه دا معلومه کړه چې څرنګه روح القدس کله چې یو نفر په بشپړه توګه په هغه باندې تکیه کوي ، کار کوي. مري د یکشنبه یي ښوونځي په یوه ټولګي کې درس ورکوي او همدا شان د ځوانانو د غونډې دپاره پیانو غږوي. هغوی په ریښتني توګه د خپلې کلیسا سره مینه لري. تیموتي او مري د کلیسایي تربیې یوه نمونه او سمبول دی. د تربیې مانا زده کړه، تحصیل او روزنه ده.

د کلیسا مشران باید ایمانداران تغذیه کړي ترڅو نوي ایمانداران د خدای په کلام کې وده وکړي او د دعا او د خدای د حضور د غوښتنې دپاره موقعه ولري ترڅو د خدای له روح څخه ډک شي. رهبران باید د ناروغانو دپاره دعا وکړي او د سختۍ په ورځ هغوی ته تسلي ورکړي. کلیسا د مسیح د بدن لیدونکی شکل دی.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. د هغو پنځو طریقو نوم واخلئ چې د هغو له لارې کلیسا ایمانداران تقویه کوي.

2. ښايي تاسو وغواړئ يوه يا دوه نورې طريقې هم يادې کړئ چې د هغو په وسيله تاسو او يا ستاسو کورنۍ په کليسا کې تغذيه شوي ياست.

## کليسا ګانې د محتاجينو سره مرسته کوي

مسيح د خدمت په پيل کې کله چې د ناصريې د ښار د يهوديانو په عبادتخانه کې د خداى د کلام د لوستلو دپاره پورته شو، نو طومار يې خلاص کړ او د هغه يوه برخه يې ولوستله.

"د خداى روح په ما نازل دى ځکه چې زه هغه مسح کړى يم او دې ته يې را استولى يم چې عاجزانو ته زېرى ورکړم چې قيديانو ته د آزادۍ او ړندو ته د بينايۍ اعلان وکړم او چې ژوبل شوي مظلومان آزاد کړم" (لوقا ۴: ۱۸- ۱۹).

عيسى د مسيح په نامه يادېږي چې معنى يې "مسح شوى" دى. خداى خپل زوى د روح القدس په تيلو او په قوت سره مسح کړ. "هغه به په هر ځاى کې ګرځيده او هغو ټولو سره يې ښه کول او ځوك چې د ابليس په قبضه کې ؤو هغه به يې جوړول ځکه چې خداى د هغه سره ؤ" (اعمال ۱۰: ۳۸). د کليسا ايمانداران هم بايد د مسيح په شان د خداى د روح په قوت سره مسح شي ترڅو وکولى شي د خلاصون زېرى خلکو ته ورسوي. مونږ هغه په دوهم لوست کې مطالعه کړ. عيسى ددې دپاره راغى ترڅو فقيرانو او بې وزلانو ته زېرى ورکړي. فقيران دلته د محتاجو زړونو سمبول دى. د خلاصون او ژغورنې پيغام بايد هغوى ته په دې ډول وويل شي چې هغوى هغه درك کړي او هغه

ته ځواب ورکړي. عیسی همدا شان د اسیرانو، ړندو او غمځپلو په اړه هم خبرې کړې دي. مونږ کولای شو دغه کلمات هم د معنوي او هم په جسماني لحاظ په پام کې ونیسو. عیسی هرې اړتیا ته ځواب وایي. انجیل هغه کامل خلاصون انسان ته معرفي کوي چې د هغه روح، ځان او جسم ټولې شامل دی. مقدس کتاب هغه تعادل یا انډول ته اشاره کوي چې د ایمان او د عمل تر منځ موجود دی.

”ای زما ورونو! که څوك وايي چې زه ایماندار یم خو عمل نه کوي نو فایده یې څه ده؟ آیا داسې ایمان هغه ته خلاصون ورکولای شي ؟ چې څوك ورور یا خور د جامو او د خوراك حاجتمند وي او بیا هم تاسو ورته وایئ چې، ”په خیر لاړ شه تود او موړ اوسه“، خو چې کوم شیان هغه ته په کار وي، هغه ورنه کړئ نو فایده یې څه؟ دغه شان ایمان هم دی، که دې سره عمل هم نه وي نو هغه ایمان مړ دی“ (یعقوب ۲: ۱۴- ۱۷).

په ځینو هېوادونو کې خلك په ډېرو ناوړه استوګن ځایونو کې ژوند کوي او د خوړو او کالیو له نشتوالي څخه رنځ وړي. هغوی هغه نفر ته سترګې په لاره وي چې د هغوی دغه اړتیاوې پوره کړي. په نورو ځایونو کې پناه اخیستونکي له لوږې څخه رنځ وړي.

د خدای قوم څرنګه کولای شي د هغوی سره مرسته وکړي؟ کلیسا کولای شي د هغو سازمانونو له لارې چې پوهېږي څه رنګه په دې محرومو ځایونو کې خدمت وکړي د پیسو، خوړو او کالیو په استولو سره د هغوی مرستې ته ورودانګي. له بله

پلوه نه ښایي چې مونږ د کلیسا محتاجین له هېره وباسو. د کلیسا ښځینه غړي او یا نورې ډلې کولای شي د دغه خدمت مسئولیت په خپله غاړه واخلي. ښایي هغه ماشوم چې د کلیسا ښوونځي ته راځي، صحیح بوټان او کالي ونه لري. یو څوک کولای شي چې د هغه د کورنۍ څخه لیدنه وکړي او په درناوي سره هغه څه یې چې له وسه کېږي له هغوی سره مرسته وکړي او یا ورته د مرستې بله لاره چاره پیدا کړي. واضیح ده چې دغه کار باید په داسې توګه ترسره نشي چې د هغوی حیثیت ته نقصان ورسېږي او هغوی شرمنده شي. له دې حقیقت څخه باید سترګې پټې نکړو چې شتمن خلک سره د هغو ټولو امکاناتو چې ورسره دي، په یوې لویې بې هدفۍ او تشوالي کې خپل ژوند تېروي. هغوی هم د خلاصون او د هیلې د پیغام اوربدو ته اړتیا لري.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

3. د لاندنیو ستونزو په پام کې نیولو سره د هغوی د مرستې له پاره هغه عملي لارې چارې چې وجود لري، هغه بیان کړئ.

الف: د یوې ۶ کسیزې کورنۍ موټر خراب شوی دی. هغوی له خپل کوره څخه لیرې دي او لږې پیسې لري.

ب: په یوه هیواد کې زلزلې ټول ښار وران ویجاړ کړی دی.

ج: په ګاونډي ښار کې سیلاب راغلی دی.

د: د ژمي په یوه سوړ سهار کې یو هلك لوڅې پښې کلیسا ته راغلی دی.

4. لاندینۍ جملې بشپړې کړئ.

الف: د یعقوب ۲: ۱۴- ۱۷ په مطابق ایمان سره باید ............ هم وي.

ب: مقدس کتاب وایي چې عیسی ........... ته زېری ورکوي.

## کلیسا ګانې ورك شویو ته زېری ورکوي

عیسی خپل ژوند او خدمت داسې توصیف کړ "ورك شوي ولټوو او هغوی وژغورو" (لوقا ۱۹: ۱۰). ورك شوي هغه خلك دي چې په روحاني لحاظ ژغورنې او د ګناهونو بخښنې ته اړتیا لري. د کلیسا لومړنۍ دنده دغو ورك شویو ته د زېري یا انجیل رسول دي. هغوی دغه کار د مسیح په قوت سره د خلاصون د زیري په اعلانولو او خدای ته د نوي بدنونو په ښکارولو او د بشارت ورکولو د کار دپاره د هغوی په شاګرد جوړولو سره، ترسره کوي.

د مري او تیموتي له واده څخه پوره درې کاله تېرېږي. تیموتي ټوله ورځ غلی ناست ؤ او مري له هغه څخه پوښتنه وکړه چې څه فکر کوي؟ تیموتي ځواب ورکړ: "هغه څلور کورنۍ دې یادېږي چې تېره میاشت یې خلاصون وموند او د ښار اخوا ژوند کوي؟"

''هو یاد یږي مې. په هغوی څه شوي؟''

''هغوی د اوږدې فاصلې په سبب دا وس نه لري چې په منظمه توګه د کلیسا په غونډو کې برخه واخلي او سره د دې چې د هغوی په سیمه کې ډېر خلك اوسېږي، مګر هلته کلیسا نشته.'' مري وویل: ''زه پوهېږم چې ته څه ویل غواړې. خدای په دې اړه زما سره خبرې کړي دي. مونږ باید له هغوی سره مرسته وکړو.'' تیموتي په خوشالۍ سره وایي: ''خدایه شکر! مګر پوهېږې چې دا کار څه معنی لري؟ باید له هغو غونډو څخه چې ډېر په مونږ ګران دي لاس واخلو.'' مري په ډاډ سره ځواب ورکوي: ''هو پوهېږم. دا ډېر سخت کار دی. مګر بالاخره مونږ باید د خدای ارادې ته غاړه کېږدو. اوس زه په دې ډاډه شوم چې دغه دعوت زما د ذهن څخه راپیدا شوی نه دی. خدای زمونږ څخه غواړي چې هلته باید د خپل کشیش تر نظارت لاندې یوه نوې کلیسا پرانیزو. زه کولای شم په عین حال کې چې دلته کار کوم په خپلو هفتګي رخصتیو کې هلته هم خدمت وکړم. له دغو څلورو کورنیو سره مرسته به زمونږ د خدمت پیل وي. په دې اړه به له خپل کشیش سره هم مشوره وکړو. وګورو چې د هغه نظریه څه ده.''

هغه موعظه چې مري او تیموتي د هغې کروندې په هکله چې حاصل ټولولو ته تیاره ده (یوحنا ۴: ۳۵)، اورېدلې وه، د هغوی د ډېرې هڅوونې سبب شوه. هغه درسونه چې هغوی د کلیسا په ښوونځي کې د زېري ورکولو او د کلیسا د مشرۍ په اړه لوستلي ؤو، سره له هغو مثبتو تجربو چې هغوی د خپل

خدمت په دوران کې عملاً ترلاسه کړې وې، هغوی یې د خدمت دپاره تیار کړل. کلیسا په ښه توګه د هغوی په روزنې او پالنې کې تاثیر درلود او هغوی دواړه په ښه توګه تربیه شوي ؤو. او د د دې وخت را رسېدلی ؤ چې هر څه چې هغوی زده کړي ؤو هغه یې باید نورو ته هم زده کړي وای. د تیموتي او مري عمل صحیح ؤ.

کلیسا هغه کسان تربیه کوي چې نوی یې ایمان راوړی دی او ایمان داران د کشیش په پیغامونو سره غښتلي کېږي. د مقدس کتاب د زده کړې صنفونه په کار اخته دي او ښه فعالیتونه ترسره کېږي. مګر دا ټول نشي کېدای چې کافي وي ځکه چې ایمان داران باید نورو ته د برکت وسیله وګرځي نه دا چې یوازې د برکتونو ترلاسه کوونکي پاتې شي. هغوی چې څومره زیات برکتونه نورو ته ورکړي په هماغه اندازه زیات برکتونه به ترلاسه کړي. بالکل د هغه اور په شان چې د لرګیو په سوځېدو سره د هغې لمبې نورې هم زیاتې کېږي، کلیسا هم د ورك شویو په ښکار لاس پورې کوي. زمونږ څښتن مخکې له دې چې آسمان ته پورته شي، فرمایلي دي: ”خو تاسو ته به د روح القدس په نازلېدو طاقت درکړای شي او تاسو به په بیت المقدس کې او په ټوله یهودیه او سامریه کې او د دې نه اخوا د دنیا تر بله سره پورې زما شاهدان یئ“ (اعمال ۱: ۸). د پنطیکاست په ورځ روح القدس لکه د اور د لمبو په شان په ایماندارانو نازل شو او د کلیسا د ودې او پرمختګ دپاره یې یو قوت راپیدا کړ.

نن ورځ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې کلیسا ګانې د روح القدس د اورلرونکي قدرت څخه برخمن دي او د مسیح د فرمان څخه په اطاعت کولو سره چې ټولې دنیا ته د زېرې اعلانول دی، لکه د اور د مشعل په شان په تیارو، یخو او پرېشانه ځایونو کې خپله رڼایي او تود والی خپروي. خدای خپل خادمین د اور لمبې ګرځوي (عبرانیان ۱: ۷). د کلیسا د خدمت تر ټولو مهم اړخ د زېرې ورکول دي، ځکه کله چې نجات ورکوونکی انجیل د ټولو ملتونو دپاره موعظه شو او ټولو قومونو ته ورسید، عیسی مسیح دې نړۍ ته بېرته راځي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

5. په خپلو الفاظو سره لاندیني عبارتونه بشپړ کړئ. په روحاني لحاظ ورك شوی نفر هغه چا ته ویل کېږي چې

....... .... ...............................................................

6. د لاندنیو فعالیتونو څخه کوم یو د ورك شویو له پاره د زېرې ورکولو په فعالیت کې راځي؟

الف: د خلاصون د ښه خبر اعلانول

ب: خپل د خلاصون شهادت ورکول.

ج: د مسیح دپاره د خلکو ښکار کول

شاګرد جوړول، یعنی هغه ښکار شوي خلک چې په خپل وار سره د نورو خلکو د ښکار له پاره ملا تړي.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱) زده کړه او تعليم، د ناروغانو دپاره دعا، د روح څخه د ډکېدلو په خاطر دعا ته د خلکو هڅوونه، تسلي ورکول او د خدمت کولو له پاره موقعه ورکول.

۴) الف) عمل

ب) بې وزلانو

۲) ستاسو خپل ځواب

۵) په ګناه کې ژوند کوي او مسيح يې د خپل خلاصوونکي په توګه نه دی منلی.

۳) پيشنهادي ځوابونه

الف) د هغوی دپاره يو څه خواړه برابر کړو او يو مستري ورته پيدا کړو.

ب) د هغوی سره مالي مرسته وکړو.

ج) د هغوی کورونه له سره جوړ کړو

د) د هغه د کورنۍ سره ملاقات وکړو او د هغوی اړتياوې پوره کړو.

۶) ټول صحيح دي.

# د کلیسا ماموریت

آیا غواړئ پوه شئ

- ولې خلك کلیسا ته ځي؟
- د خدای د غوره ماښام مانا څه ده؟
- په کلیسا کې د غړیتوب ګټې څه دي؟

که چېرې ستاسو ځواب هو وي نو دا کتاب تاسو دپاره لیکل شوی دی. دغه کتاب د عملي وړاندیزونو په ښودلو سره خدای سره ستاسو د اړیکو د نږدې کېدو او د نورو ایماندارانو سره ستاسو د مشارکت سبب ګرځي.

دغه کتاب په ډېرې ښې طریقې سره لیکل شوی دی چې لوستل او د هغه د مطالبو زده کول آسانه دي. یواځې دا کافي ده چې د هغې لارښوونې په عمل کې پلي کړئ او خپل ځان و آزمایئ.

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې یوه برخه ده چې د "مسیحي ژوند" په نامه یادېږي. د مسیحي ژوند سلسله ټول اتلس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه ولولئ.